

پریشانه افکار :

ناپوه

ښاغلی محمد ولی (لحلمی)

هغه دی چه دده په وینوبل ژوندی وی اماپه ده شرمیږی ...

هرڅو مره چه ئې دروند بار کړی هغو مره ملاتیته ونیسی ،

چه ډېر وزی وی آه ونکازی .. ،

هرڅونه چه ئې پرسروهی لکه حیوان خوله ئې منده ورته نیولې وی ،

کورچه ئې لوټ سی څه ونه وائی اوشکر وکازی چه دی ئې یونه وو .. ،

هرڅومره چه ئې بل زهیر او پریشانه کړی دی ئې په قضا او قدر حواله کوی .

که ئې برشخصی حقوقو څوك تیری و کړی خپله مدافعه بی نجابتی بولی .. ،

چه د نیکه گانو په نوموڅان تیره وی ،

څه چه وائی په خپله ئی نه منی ،

څه چه وایکی هیر ئې وی ... ،

دوزی غلبلې او کوکاری واروی غوږ کوڼ اچه وی ،

دډېری بی اعتمادی څخه دی او ورور لکه شرمنبان مخ په مخ سره پری وزی ..

چه ځانته هوښیار وائی اماد مدعاپه ځای کی په غبر گو ستر گو روند اوتیرسی.

هغه دی چه د ښمن ئی په لستونی کی غلی شوی وی امادی ئې د دوست په نامه لپد لی وی...

هغه دی چه ورته وو یل شی : «په بیخ کښی دی ونه شنه شوه » . دی ور ته وایی :

« ښه دی تر سیوری لاندی به ئې کښینم !»

ځان بادار گنی ، مگر مریی وی !!!

(۱۸ کال) د اسد اول - ۱۳۲۷ (۹) گڼه

کابل

پنځلس ورځنۍ مصوره مجله

ادبي ، اجتماعي ، تاريخي

د پښتو ټولنې له خوا نشرېږي

لوی مدیر : عبدالرؤف «بینوا» د پښتو ټولنې مشر

داخلي مدير او مهتمم : يارمحمد «نظامي» د صحافت مدير

پته ، پښتو ټولنه ، دابن سينا واټ

تلگرافي پته ، کابل ، پښتو ټولنه

اشتراك

کابل ،	۳۶	افغاني
د ننه مېنه ،	۴۰	«
دباندې ،	۱	سترلنگ پونډ
دښونځيوزده کوونکوته ،	۱۸	افغاني

ددې ګڼې لیکونکی

لیك	لیکونکی	مخ
که پښتون ، پښتون شی	ښاغلی « کرزی »	۱
یونو زمونږ سره زمونږ په ملی ژبه	« « سلیمی »	٦
د پښتو ملی او تعلیمی ادب	« « جلالی »	۸
د ثبات نظریه	د « « ثابت » ترجمه	۱٤
د سرحد دپښتونولی دپښتو ادبی مجله د صداقت له جریدی څخه		۱۷
په لحان پاملرنه وکړی	د سیستان له جریدی «	۱۸
واواملك خانی	ښاغلی ستانکزی	۲۰
غمخوار دخوار عاجزان اوبیکسان غواړو	« گل شاه «صافی»	۲۱
د رجب خان اعتراف	« « غمگین »	۲۲
مانیونه	له طلوع څخه	«
که وم وم که نه وم نه وم	ښاغلی « دردمند »	۲۳
« « «	« عبدالله بختانی »	«
« « «	« احمدی »	۲٤
پښتونوانه	ښاغلی « خلیق »	۲۵
دوی غوښتنی	ښاغلی « پکتیانی »	۲٦
علیاحضرته بهوپال	د « « ترجمه	۲۸
لنډه کی پښتو	« « مومند »	
سیرةالنبی (ص)	د « « کشککی » ترجمه	
توکی ټکالی	« غلام محمد « تره کی »	
عکسونه (٤) قطعی		

که پښتون پښتون شی

پښتو خو پخوالا پښتو شوی وه

ښاغلی نور احمد کرزی

ښاغلی پوه او منلی شوی پښتونه ښوول صاحب!

د کبایلو چلي ۱۸ ګڼه کې مغه د ښاغلي نور احمد خان سیتانګزي لیکنه بعنوان دا زمانه

د که پوښتنه ئې چه (پښتوولی پښتو نشوه) کړی وه توله مې دوه دری ځلې په غور سره ولوستله- نو هر کله چه داراز پوښتنې په خو واره ځینو وینو پښتنو ستاسي څخه کړی دي او تاسو هم وهغو ته ځواب ور کړی دی چه هغه زموږ د پوهیدلو او دا ډینې لپاره سکته کوي- خو بیا هم دومره ویلای شم چه یوه پوښتنه و توله لوستونکو ته یو راز اند یښنی ته وړ پرزړه کوي او نه په یوه ځواب سره د هرچا زړه پر پوښتنې کیږي- اګر د انسانانو ښې چه یو دبله توپیر سره لري دغه رنګه ئې په پوهنې او اندیښنو کې د ذهن د کر مختلف دي ځنې په یوه نړۍ خبره سره پوهیږي ځنې په ډول او سوړ تا سره هم نه خبریږي- خوک یوشی د خپل ځان د کامي او وروسته پاته کیدو دلیل بولي- ځان داچه هغه خیزد نورو په فکر سره د لوړتیا او ترقي غامل کیږي خوک د یوه خوږ د پاره یو ګډول دوا په مکار اچوي ځنې بل ډول خوک په لټ د رمانش شرة زوغتیا لټوي او خوک په زکلوي کیلو ګډوغي مبر ملتزه لپروت لري- نو هر کله چه زموږ هم بد بخت هیواد ولري د پښتو پیښې نیږ لوی لمشغول نیم یوه ځایني شمیر پوهګوي هم د لچدلو چه هغوه سر ته ناسي لنډ زغید لي پاسیدلا ملکیا د پغوتبنیو یه اچم زه هغه د ځو مه الو نه دوی استا بنی په لنکنو او چو لبو یه بنه دولا پوهیدلا ته دمی ردا هغه روګړی دی اچه پهنانه بوا بکلوا کی ا ژونتوان کوی شد پاهنی او علمه ښخه ربی لنبخبه هی ادفری- ربه ثر قتبلو پهغمبلی خیر راوستو نه پوهیږی خوری او چیمنی مخچپله رشچه

تیروی دسبا اوبیگاپه چارو کی کورټ فکرنه وهی خپل اولاد او تر ځان کښته کسان ټوله دځان دپاره بولی خپل ښه په کوی دهغوی دښیگڼی فکرنه لری لکه ناپوه مځکوال دپلارو اونیکه شینی کړی ونی د بیخه کاږی نوی نه شینی کوی ـ وائی تر څو زه ژوندی یم دغه مځکه او شته می بس ده ـ دانه وائی چه زوی اوترما وروسته وگړی به څه کوی اوڅه به خوری زه نن دچاپه مرسته سره دا ژوندون کوم اوسبابه زمادلاس اثرو نوروته څه شی پاته شی ـ نوهر کله چه پښتون ټبر دومره بیده او بی فکره پاته شوی دی د خپل خیرپه چارونه دی پوهیدلی پښتو خوبه خامخا پاته وی ځکه چه پښتو د هغو ژبه ده ـ او دنوروچا روسره یوځای پرمخ تگ کوی. بیاهم ځنی وگړی چه پوهیږی اوفکرئی کړی دی دپښتو د وروسته پاته کید و علتو نه ئی پرته له دی څخه چه ځنی لږ شمیر وگړی ئی په زده کړه کی زیارنه کاږی په ځینو نورو شیا نو کی لټوی چه هغه هم هر و مرو د منلو او ستا یلوور گڼل کیږی چه په لاندی ډول سره به زه هغه دپوهانو و گړو نظریی ولیکم.

۱ ـ هر پوه او ویښ پښتون چه مالیدلی دی اودپښتو دوړاندی بیولو لپاره می هدایت ځنی غوښتی دی بیله ډیله څخه ئی راته ویلی دی چه که پښتو غواړی پښتون ویښ کړه، وئی روزه که پښتون پښتون شی پښتو به ژرتر ژره پښتوشی هروقت چه پښتون دپښتو غوښتونکی شی او یووبل ته دیووالی او ورو گلوی ء لاس ور کاندی په هغه گړی پښتو پښتوشوه او پلاس درغله ښکاره هم داده چه پښتون ټبرتو کرتو کربی اتفاقه بی علمه پروت دی که موږ تر هر څه لمړی دهغو دپوهولو لپاره دهر ډول نشر یاتو اوخپرو نو څخه کاروا خلو ځنی پوه وگړی وکلو اوباندوته ولیږل شی چه په لنډو لنډ وینا وسره وپښتنو ته دیو والی او پوهنی ته توجه کولو په باره کی هدایت ور کړی لارور وښیی بده به نه وی

۲ ـ ددې لپاره چه ژرتر ژره پښتو علمی ژبه شی نو باید چه په ډیر شمیر سره پښتانه تر روز نی او پالنی لاندی ونیول شی دمعارف لمن وغوړول شی ځکه تراو سه پوری دپښتو پوهان او لیکو نکی یواځی هغه کسان دی چه دمور دشیدو سره ئی دهغه مینه رودلی ده، دښوونځیو لومد رسو روزل شوی کسان ئی ځښته لږدی بلکه کورت دنمونی دپاره دپښتو په لیکو نکو کی داوسنی عصر روزل شوی کسان نه لیدل کیږی دپوهنی وزارت هم ودې خبری ته توجه نه ده کړی پښتانه چه په نورو ژبو کی دعلومو تحصیل وکړی هغه دپښتو ژبی سره لکه چه ښائی

مینه نه لری ځکه چه دوی دی ته مجبوره کیږی چه دپښتو لپاره بیاد اوستنی او تحصیل په صحنه کی داخل شی ددنیا مشهوره پوهان دوړو کو دروزنی په ترڅ کی داهم په تینګه سره ومعلمینو ته هدایت ورکوی چه دژبی اوخپل مضمون مینه په شاګردانو کی تزریق کړی حال داچه دوی دخپلی ژبی د آثارو، پوهانو څخه بی خبره دی مینه ئی لانده ورسره پیدا شوی که دوی دخپلی ژبی په آثارو سره خبر شی اودلیك او لوست توان څښتنان شی تول ئی غوښتونکی کیږی . هر کله چه دې خبری حقیقت درلود نوماهم داخبره ورسره ومنله.

۳ ـ دپوهنی وزارت چه لمړی پلادخوا خوږی حکومت په امراود صدارت عظمی په لوړ فرمان سره دپښتو په اوستنه پیل وکړ دښوونځیو کتابونه ئی په پښتو ولیکل په هغه وخت کی خوبلکل دپښتو ښوونکی لږوه اونه ترهغه وړاندی دپښتولپاره څوك روزل شوی و که څه هم پښتانه په ډیر شمیر دښوونځیو څخه فارغ شوی وه او کیږی مګر څوك چه ددې ژبی لپاره نه وی روزل شوی او د همدې ژبی چو پړئی دنده نه وی هغه کله کولای شی چه وړاندی ئی بوزی ـ ځکه نو دپوهنی وزارت ته داښائیده چه وړاندی د پښتو تر پیل ئی یاترهغه وروسته اوسمدستی دپښتو ښوونکیو لپاره یولوړ ښوونځی لکه اوسنی دارالمعلمین تاسیس کړی وای ولی چه همدغه اوسنی دارالمعلمین ددې لوی وزارت اړتیانه شی پوره کولای او برسیره پردی باندی ترسم نیمی ئی فارسی ویونکی دی د پښتو ژبی لپاره خو دپښتو معلم پکارو هغه دمستعجلی کورسونه چه پښتانه ورپکی وروزل شوه لږ او ډیرئی دپښتو دلیکونکو او ښوونکو شمیر ډیر کړ د(۱۲) کالوروزل شوی زده کړی دمعلمی لپاره خورا لږ روزل کیږی ځکه نو دمعارف وزارت دمعلمانو دنیستی څخه دځینو ځایو کتابونه بیرته فارسی کړه او برسیره پردی لاهم دپښتو لپاره د معلمانو روزنی ته ښه توجه نه لری څه نه څه ګرم ګڼل کیږی په ۱۳۲۱ کال په قندهار کی بو دپښتو دار المعلمین جوړ شوی و خودبده مرغه بیرته وتړل شونه پو هیږم چه ولی اوس باید بیرته هغه خلاص کړه شی.

٤ـ پښتو ځکه په معارف کی ښه پرمخ نه ولاړه چه ددې دلمړی پلا شروع کیدو سره سم نړی ورانونکی جګړه ونښته هغه جګړه چه آباده مځکه شاړه، مندی ئی بوری، ښځی ئی کونډی کړی ډیر کسان ئی په لوږه او ګولیو سره مړه کړه څوك ورپکی ویښ اوڅوك په ابدی خوب بیده شول دهر ملت پر روزنه باندی. څه نه څه اثر ولویدی لکه په دی روځو

او شیبو کی چه زوند شیان شی به. کرا انه ته په لاس راغلی. د ښوونځی او د انجمن د سوداګرانو هم لنډ شوی
دیوهنی کنوز او ایت مطنه ګرلی شوه. چه هلته کانو ته به ښوونځی پوهنځی یا دلیسی شیان او بیلګه جاپی
کتابه ګوښه په کشپ اشمیر د دیوهنیسوی سناو هلیکانو هم ته سیوه ورکاین ولای اخکه چه ښه نه وم
نو خو ادهیلکانو سوه ورته ستیه راته شوه طوهمناک لیله ګیتنو کسانو وایه چه ښتو ته می چه هلکانو
سوه بیا کښته کړه مجال دا چه پلرسوا او اپنتوا ښکو او لنګلیسی اهم آپه چی و خت لیکی دینتوه
خیر و رواسته ماته وی د ښوونځی د سائل نه وه حتیله ته ښوونځی د پکی د چه و. کری بیلی تر هر مبنای
دیوهنی سره مینه لری او تر یوی اندازی پوری مستعد او شته من هم دی دوی هم ونه کړای
شوه چه خپلو ور کوته د ښوونی اوروزنی وسائل وو کری نو څه حاجت به نه وی چه کلو
او باندو ته ولاړ شو. زه چه دا اوه کاله د ۱۳۱۸ کاله څخه تر ۱۳۲۶ کاله پوری په
ښوونځیو کی معلم وم او ځینو نورو معلمانو په لر کیو سره پرمختګه باندی په ور کولیک
کاوه دبده مرغه سر ښوونکی چه دپخوانی زمانی دپوهانو څخه وو دا اصول ئی نه خوښاوه ځکه
چه دده په فکر سره دور کو لپاره آزادی دیسپلین خرابوی - نو تاسی ووایی؟ چه موږ
ښوونکو او پښتو څه کری وای؟

۵- دیوهنی په وزارت کی د پښتو ښوونه وهغو معلمانو ته سپارل شوی وه چه دوی په
فارسی ژبه فیدل د کتاب محتویات او عبارت ئی لیکه چه ښائی هغسی و متعلمینو ته نه ښه
ورښودلای حالانکه دا چه په لمړنیو ښوونځیو کی د معلم وینلی تر کتاب لاندی لهجه ارزولی ئی چه و متکی
دخپل ناپوهلی په موجب ګلوشتلی او پوهنی (۲) میتی نه لری او بنه دزوره او مشکله په اخیره شوه
هغو ته څه ورښوولای شو هر څه چه کیږی په مختلفو تمرینو او وسیلو سره پلاس راځی نو هر کله
چه معلم کونکی وی دلاس په اشاره سره هیڅ امکان نه لری چه زموږ پښتو او متعلمین دی
وراندی ولاړ شی په هر صورت هغه وخت خواوس تیر شو نن روح پښتو ژبه تر یوه ځایه پوری
پرمختګه ولاړه په پښتنو او شاګردانو کی ئی لږ او ډیر څه موندنه کړه.

موږ پښتو ته بیله دی څخه چه ډیر کم روزل شوی ګرو بلا څه نه ښائی دا ګلی لعه به نه سره کوم تنبه ګیلو
او زار یو ئی سره نه بسه رسیدنو ی پلنته او ویلنو ه کرا او پیچه و پرمخ بوولی متنوان څه لهجه ولیدی
شاملخوا ښکیلو و خبره ده چه د او پوه د کوسیندو میخه غواهم نه ملی پیوولای اسکه ته پاس ورو ایه چه
او پوته ئی دم دو راچولی هغه چه نوتل مکه او وشه او خو ونچه هم ښه ښوی پرمختګی لوی پدلای شی چه بود ورو بلته

او به ترغره هم اوری یاد اچه پر بله خو ابـاندی مخه و نیسی پر کبزه و زه لیار باندی وخپل مصب ته ځای رسوی- نو که زمو ز پښتانه ورونه د پښتو ژبې سره ډېره علمي مرسته وکړی د پوهنې ګـینه په واغوندی ښائی چه دنورو لورو ژبو په څیر سره دهر چا مینه ور سره پیدا شی - او هر څوك ئې غو ښتونکی شی ؟

پښتو ټولنې د مطبوعاتو مستقل ریاست، د پوهنې وزارت د پښتو شاګردانو او کوم ټول چا د پښتو په شاوخوا کی دهیڅ ډول زیار باندې څخه ځان نه دی سپمولی دوروسته پاته کیدو دلیل ئې دلیکوالو او پوهانو دلږ والی څخه دی هغه لږ لیکونکی چه دی هغوی شپه ورځ دوهره زیار کاږی چه کتابونه ئې نه سته مګر بیا هم دیوې ژبې ټولې اړتیاوې نه شي پوره کولای سره ددې چه دائرة المعارف ئې د فارسي په څیر په پښتو ژبه ترتیب او چاپ واو لاندې ونیوه څو (سوه جلده کتابونه ئې په پښتو تالیف او ترجمه کړه - نور نه څه باید وکړی؟ او څه کولای شی ؟ که د پښتو چینی داوبو څخه ډکی وی او وبهیږی هر وړ دی هلو ټبزی په او بهیږی څه چه اهمیت لری هغه علمي ګینه ده . په درناوی سره

(م) هیڅ ښه مطلب نه لتسالغاى هغه (الله) ثالمه ښا تسبنځه نه لتسالغاى مسغه
عقیقه مخنیه (مخنیه ۶۰ ـ ۸۱) (ګیه ت ك) هیڅ مهنامه عقیقه (ګیه ۵۰) ها هیچ
هتسع هیچ ده نیقه ده اهبنه ده لحتها ت ك شاهدی ده ها هیچ هلك ، ده هیڅ هیڅ
ثالیغه مه بیاك هلك ت ك هیڅ مه ده هیڅ هلك مه ده هیڅ ت ك شاهدی ها ده شغه ده هیڅ
ده هیڅ هغه هیڅ مه ثالیا ده مسغه هلنیامه نه هیڅ ده (هیڅ) هیچ هلسا ده ها
هیڅ هیڅ هیڅ هتله هیڅ هیڅ ن لتسالغاى هیچ ده ها هیڅ هیڅ هیڅ ده ده هلیا ده هغه هلك
شغه ده هیڅ هیڅ هیڅ ده هیڅ هیڅ ده هیڅ هیڅ هتله هیڅ ها هیڅ هیچ هلیسغ
ده ده هیڅ هیڅ (هتنیه) هیڅ ده هیڅ هیڅ ده هیڅ هیڅ ن هتنیه ن لتسالغاى ها ده ها هیڅ
هیچ ده هیڅ هیڅ ده هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ
ده هیڅ ده هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ
ده هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ هیڅ

یونو ځمونږ سره ځمونږ په ملي ژبه

پښتو خبرې کوي

ښاغلی محمد ارسلان سلیمی :

ښائي چه ځینې ښاغلی به دغه پاس جمله یوه خیالي او رومانتیکي آرزو وګڼي ، ځکه هغوی وینی چه مونږ پخپله دا کار تر اوسه ندی کړی او په نژدې راتلونکی وخت کښې مو هم ورته په زړو کښې نده غوټه کړې ، نو دمتحدو ملتو مؤسسه (یونو) څه مجبوریت وینی چه دا کار کوی ؟

مګر دا خبره حقیقت لری ، یعنی د جوزا د (٤) ورځې نه را په دې خوا دمتحدو ملتو مؤسسې دافغانستان نه دځښت ډېر لرې ملك (امریکا) څخه دافغانستان دپاره ځمونږ په ملي پښتو ژبه نشریات شروع کړی ، اودیکشنبی اودوشنبې نه پرته نور هره ورځ دګهیځ په (٩) بجو او (٤٠ یا ٤٢) دقیقو په لنډه څپه (شارت موج) (د ١٨ ـ او ٢٠ مترو ترمنځ) دپنځو دقیقو دپاره اول په پښتو ژبه خبر ونه وایی او بیا وروسته په پارسو ، اردو ، ترکی ، عربی یونانی اونورو ژبو خبرې کوی ، ځکه چه اوس دغه نشریات امتحانی جنبه لری یقین دی چه وروسته به یې وخت هم اوږد شی اونشریات به یې هم علاوه له خبرو نور موضوعات بلکه شاید موزیك هم ولری ، لکه چه د (یونو) ځنې ځمونږ دنماینده رسمی لیك هم دغه خبره څرګند وی ، ځکه هغوی لیکلی دی چه یونو تصمیم نیولی چه د افغانستان دپاره د متحدو ملتو درادیو په وسیله چه د ټولو متحدو ملتو سره دهغوی په ملي ژبو خبرې کوی ، په پښتو ژبه کافی وخت پرو ګرام ولری اودافغانستان دپښتون ملت سره دهغوی په ملي ژبه (پښتو) وغږ ېږی ، ددې لامله نو په یونو کښې دافغانستان دنمایندګۍ دپاره اقلا دوه تنه داسې غړی ضرور دی چه په پښتو خبرې ، ترجمه اولیکنه په ډېر ښه شان کولی اومضمون هم پکښې لیکلی شی ، یعنی نشریاتی لیاقت یې په پوره اندازه وی ؛

ما د ړومبۍ ورځې نه تر او سه دغه پرو ګرام پوره تعقیب کړی او ډېر تازه او نوی خبر ونه هم د کابل راد یو دپاره ځنې اخلم اوهره ورځ اورم چه:

RadioCabul,you now will hear News Thisisunited NatioinsLake,SucsessNewyork-Caling

یعنی دادمتحدوملتو موسسه لیك سکسس، نیو یارك in Pushto دی، کابل راډیو خبرې کوی، اوس به پښتو خبرونه واوری.

راشیء چه ټول دغه دنمر په شان ځلېد ونکی حقیقت په عملی ډول ومنو چه یواځې پښتو ځمونږ ملی اورسمی ژبه ده، اوباید دهمدې ژبې دتعمیم، علمی کولو اولوړتیا په لاره کښې کار اوجدی اوصحیح کار وکړو.

راشیء چه په دې لاره کښې په تېره بیا یوبل ته د ګوتو نیولو او دیو بل پښو ته د کانیو غورځولو نه تېر شو، او په تېرو کار وباندې چه دلسو کالو را ایسې مودې کار ته ملا تړلې خو دهمدې یوبل ته دلنګتوا چولو په واسطه مولکه چه ښائی همغسې په مخ بونه تلی شوه، ټول تأسف وکړو اودآینده دپاره په صحیح صورت کلکه ملاورته و تړو چه دغه کار وکړو تر څو چه داسې ونه شی چه نوره دنیا ځمونږ سره ځمونږ په ملی ژبه را سره خبرې کوی او مونږ پرې نه پوهېږو.

یقین دی چه کلك عزم هرڅه کولی شی خو چه د فکر وحدت او دستومانۍ پر ځان اخستلو حس موجود وی.

دشو پنهاور له افکارو څخه

ژوند دوی برخې لری

دژوند یوه برخه د نېکمرغۍ دمبندلو دپاره کوشش اوهڅه ده او بله برخه ئی دخوږمنۍ اودهېرې او ډار څخه ډکه ده. ځکه چه په دغه وخت کښې سړی په دې ښه پوهېږی چه نېکمرغی درواغ ده او تش سراب دی، څه شی چه رښتیا او حقیقت لری هغه خوږ اورنځ دی؛ یوه خلك هېڅ کله خوښۍ او کامرانی پسې نه دی لاړ، او که څه شی ئی هم غوښتی دی صرف یوه هوسایی ده چه یعنی رنځ او الم دې نه وی؛ په زلمیتوب کښې به چه چا ځما دروازه راوټکوله. خوښېده به اودځان سره به مې ویل چه: «ډېر ښه یو نوی شی دی چه رارسی به» څه موده چه تېره شوه اوپه ژوندون کښې پوخ شوم همدغه ټك ټك ما کښې یو احساس پیدا کړ چه دهېرې او ډارسره یوځای ؤ، او دځان سره به مې ویل چه: «اوه! بیا څه نوی ټکه راپرېوته!»

د پښتو ملي او تعليمي ادب

ښاغلي غلام جيلاني جلالي

دارسطو دراماتيك او دپښتو ادب دساندوپله پوري مضمون: دپنځمي برخي په ترڅ کښي موږ څو توتي دمخه وليکلي نو هر کله چه دا ادبي برخه لا پسې ښه وا سپينله شي دا لاندني ساندي هم د کښلو او ويلو وردي: دقلندر اپريدي په مړينه د ميرا ساندي: دلو مستمر فرانسوي مستشرق ليکي (پښتو نخوا شعرهار او بهار د پلويهن طبع) قلندر په کام اپريدي دباري او جمرود په شا او خوا کښي او سيدي (باره او جمرود دوه ورو دوه دي چه دبيرالله غرو څخه راوتلي جمرود د خيبر او باره دباري په دوه کښي نهيږي) نو هر کله چه قلندر په ميرا نامي مين وو يائي دغه سړي پيراو مرشد وو، عشق خپل هنسلپك ګڼي او دده دژوند دوره په داسي تو دو، سونکو پيښوره که ده چه تول غلرئي چو درد پرتيښي، ګواکي قلندر په درد کښي وزو، په درد کښي لوی شو او په درد کښي موږ وائي هر کله چه قلندر پر مړينه ورغی او خورا سپين زيږي شو نوئي و ميراته خورا ډيري زاري جګي وکړي چه راسه دسوات دغنډۍ په سر په خته کي خپل پل کښيږده نوره که په دي اخير عمر کښي تانه سواي ليدلاي پردغه پله به دي زما سترګي روڼي وي، ميرا دقلندر دغه خواهښت او مانه او قلندر دميرا پر پله کودله و پوښله او هلته به پروت وو اشعار به ئي ويل.

دقلندر د بيلتانه ناري چه دده دزړه له کومي څخه راختلي يو بشپړه خطي ديوان دي مګر بيلتون او دوصال ناکامي دا اورژمي شاعر، يواځي پر ديس وژلي ځکه دځنګندن په مهال کښي خپل ګران محبوب داشان ياد وي:

درب د پاره کاغذه ورشه هغه آشنا ته پر نار و سرشه

چه تا ويشتلي قلندر پروت دي پر ځنګندن ئي تلقين له ورشه

مگر ډېر افسوس دی چه میرا دقلندر په دی سخت حال ندی رارسېدلی ، وروسته چه قلندر مری او د سوات پر غونډۍ ښخېږی میرا دده و زیارت ته راځی او داسی ساندی بولی وایی هغه مهال چه میرا دسوات وغونډۍ ته را وخوت یوه هوسۍ بی ولیدله چه لری ولاړ وه نویی دا ناره پرو کړه :

هوسی و خوری دا سترگی توری — پر لوړ ولاړه ښکاریان په گوری
ښکاریان لا کله دگور بندیان شوه — خزی و لاړی دی تشی توری

میرا دقلندر و کوډل ته ورغی او دیار په یادیی چیغه کړه :

که خاصه خاصه دلبره خاصه — خیمه دنځتی د لوړ د پاسه
ستا داجل سپاهیان چه راغله — ځیرك شی وخوت خیمه پر ېباسه

میرا دقلندر و قبر ته ورغی او د اساندی په غلبلو وویلی :

دسوات په سرکښې زما دلبر دی — دی په ښایست ، وی شمس و قمر دی
یا رانو راشی کی دیدن کا ندی — د یار دیدن وی ، حج اکبر دی

دمیرا وروستنی سانده او دده مړینه :

خدایه دامځکه پاره پاره کی — پردیس لالی زما را ته ښکاره کی
په بېلتانه کی الوی مکوټ شوم — یو وار ئی دید بیا را سره وکی

د ادبیاتو تاریخ پښتانه شعرا ص ۲۵٤ لمړی ټوك را وړی چه تر دی ناره وروسته میرا هم دمینی په جذب او کښښت کښېوزی اوهالته مری چه دقلندر ترڅنگ یو ځای ښخېږی

بی بی زینب دحاجی میر خان (میرویس خان) هوتك لورده، محمد هوتك په پټه خزانه کښ لیکی هغه مهال چه دشاه محمود جنت مکان دمرگ حال قندهار ته را ورسید، نو دپاد شاه خاندان عالیشان ټول غمجن سول اومخدراتو دحرم ساندې اوغلبلې کا، بی بی زینب چه واقعه دوروردو فات واوریدله، ډېره غمجنه سوه اوپه تلاوت دقرآن اولمانځه ئی تسکین و کا، دتتلی زړه او هسی ویرنه ئی، په ویر دخپل ور ور مرحوم وویله چه زه ئی دلته رانقل کوم :

مرثیه دهغه پادشاه

ږغ سو چه ور ور تېر له دنیا سو نا — قندهار واړه په ژړا سو نا
زړه می په ویر کی مبتلا سو نا — چه شاه محمود له ما جلا سو نا

* * *

دا روڼ جهان را ته تور تم دی نا — زړه د بېلتون په تیغ کړم دی نا
هو تك غمجن په دی ما تم دی نا — دپا چهی تاج مو برهم دی نا
چه شاه محمود تیر له دنیا سو نا — قندهار واړه په ژړا سو نا

* * *

ځوان و مېړه د توري جنگ و نا — ولاړ د کام په نام و ننگ نا
دښمن له ده په وینو رنگ و و نا — پرمیدان شیر وو یا پلنگ و نا
افسوس چه مرگ د ده په خوا سونا — قندهار . . . . . .

* * *

محمود ه ! نه یوا ځی خور ژاړی — په مرگ دی ټوله کلی کور ژاړی
خپلوان لا څه پا چا دی ورور ژاړی — لښکر سپاه دی پلی ، سپور ژاړی
پښتون دی ټول په وا و یلا سو نا — قندهار واړه . . . . . .

* * *

اصفهان پا ته تاج نسکور عالمه — چه شاه محمود سو نن په کور عالمه
د پښتون لمر سو تیاره تور عالمه — راته دښمن به کا پېغور عالمه
چه پا چا ولاړ پښتون گدا سو نا — قندهار واړه . . . . . .

* * *

لښکر سو خپور پښتون ولاړ دی اریان — په خاورو ځای کا شاه محمود عالیشان
پا ته سو تخت او تاج د ټول اصفهان — زړه ئی راسوړ سو کا خوښی دښمنان
وا یی پښتون اوس بی پا چا سو نا — قندهار واړه . . . . . .

اسمانه بیادی څه ستم کـا څـر گـند — وشلاوه تا چه د پښتون وو پیوند
دښمن وی بیادخوږ په ویر کـاخور سند — چه شامحمود دی کـاپه قبر کی بند
پر کور مو ویر شور وغو غا سو نـا — قند هار واړه . . . . . .

* * *

هو تکو اژاړی محمود شاه څه سو نا — پښتنو استاسی لوی سپاه څه سو نا
له اصفها نه تـر فـراه څه سـو نـا — پا چا چه و وحشمت پنا څه سو نـا
د پښتنو پـر تـم فـنـا سـو نـا — قند هار واړه . . . . . .

* * *

محموده ! ځوان دی ولی ولاړی له ما — له تخته تا جه ته پر څه شوی جلا
اصفهان ولی پا ته سو نـا له تـا — سردی راپورته کړه چه څه کړی اعدا
دښمن ولاړ بیا شاو خوا سو نـا — قند هار واړه . . . . . .

* * *

اورم نا ری د غم چه کړینه فر بـاد — پښتون په مرگ دشاه محمود سو بر باد
زړونه چه تل به وښاد من سو نا ښاد — دساند و زغ دی چه را وړینه ئی باد
ماتم زده پـیر و بـر نـا سـو نـا — قند هار واړه . . . . . .

* * *

ور وره ! مقر دی ستا مو لا کـی جنت — دردی کی تاته پس له مرگه راحت
روح دی ده ښاده په لو ورځ د قیا مت — مخ دی وه رون دخدای په مهر درحمت
د خـا لـق ر حـم تـل په تا سـو نـا — قند هـار واړه پـه ژړا سـو نـا

* * *

ملا مست زمند چه د زرم هجری کال په خوا وشا کی ژوند کاوه دلمټی دشهیدا نو داسی یادونه کوی :

وه چه یـاد کـړم شهیدان د لمټـی — پر فراق او ښی بهیږی به غوټی
آه سردمی لکه دود ترخو له روان شی — د غم اورمی ایشوی دز ړه چا ټی

(٦) برخه دارسطوا پوبیک لیه (جدیات هزلی) دار ازبدلی په پښتو کی: د(رښتیانی ټوکی) بللای شو.

هر کله چه داډول سندری ارویدونکی لدی کبله په تعجیب کی غورزوی چه ویونکی یی په یوه جدی لهجه سره بولی او اټکل کاوه شی چه پدغو کراړو الفاظو کښی به یو تعلیمی مطلب په فکر کی نیول شوی دی مگر هغه مهال چه سړی ښه ورته ځیر شی یواځی الفاظ وی که څه وزن او قافیه هم ولری اما جدی معنانه تری څرگندیږی عربودغه ټو ټه تعلیمی شعر لکه چه له یونانه څخه اخستی وی او پارسی شاعرانو دعربو د پیروی په باعث په دغه برخه کښی ښی گوتې وهلی دی اوپه عربی او پارسی ادب کښی خورا مضحک مثالو نه هم لری لاکن پښتانه چه یو جدی تبردی او دوی بی معنا خبری به گبړی دومره نه خوښوی ابوبیک (جدی هزلی) اشعار هم دپښتو په ملی ادب کی خورا لږ اوخال خال لیدل کیدای شی.

په یونانی ادب کی داډول اشعار ددغه مطلب لپاره ویل کیدو چه ارویدونکی په مغالطه کی وغورزوی ځکه هر کله چه به دوی دویونکو جدی لهجه وا وریدله لمړی پلا به په فکر کښی ډوب ولاړو او داگمان بئی وکړ چه داشعر به گوندی خورا ژوره معنا ولری اما په لږ توجه سره ه ورڅرگنده شوه چه سندره محض مسخره ده او کومه معنانه ښندی یعنی دا شان اشعار په یونانی ادب کښی یوه مغالطه اوسفسطه وه چه دساعت تیری په دود به ویل کیدو او وار ویدونکی به دالفاظو دطمطرق له کبله لمړی پلا هیښ ورته پاته کیدل نوپه عمیقه کتنه مجبور یدل اوبیا چه به دوی غوروکړ کاته بی چه شعر معنانلری په پای کی به یوه له خنداډ که مظره تری جوړه شوه، پښتانه لکه چه مونږ ولیکل د عملی روح خاوندان اویوشجاع کام دی داسی شان ظرافت چه ددوی وشخصی وقارته گټوره نه تمامیږی نه منی او ورټ تری کوی لدغه کبله داادبی ټوټه دپښتو په ملی ادب کښی کوټ نه لیدله کیږی نوددی له لامله چه نوع ددغو اشعارو وپیژندله شی څوپارسی اشعار پکارشو چه وبی لیکو:

پاری که برفتهٔ چو آهو امسال که آمدی چو یوزی
سعدی خط سبز دوست دارد نه هر الف جوال دوزی

* * *

یک درخت شباهت گردو بار میداد سال یک یا بو
صاحبش میفروخت بر هندو گربه گفتا دروغ کمتر گو
نخورم من فریب دستانا

* * *

یا :- آفتاب از بیخودی در بام تا کرداس رفت شلغم چو بی عرقچین سر بام شما
سنبل تراش جو هر آئینه بلبل است فوارهٔ کجاست که شبنم رفو کند

* * *

په پښتو کی ځنی لنډی داپو بیک ډول لری لکه :

د موزی سترگی د لیوه دی تا پښها رئی له سنډا زده کړی دنه

* * *

زړه مې نری سو لکه پر ښه د سحر باد ئی ربوی لکه پښتل
په کړک (۱) یی وویشت لاس ئی مات شو موزی له کړسه په کوهی کی ولویدونه

نور بیا

(۱) کړک یو وروست لرگی دی چه کوم کړ اړوالی نلری او په خوشی شمال هم ماتېږی په پاړسی ئی (کندنل) بولی- دایوه جدی هزلی سندر برېښی.

دپښتون سید جمال الدین له نظریو څخه :

دثبات نظریه

دښاغلی « ثابت » ترجمه:

دسید یو شاگرد وایی موږ وویل : ای استاده ددغه بحث په مقدمه کی تاسی و ویل څینی داسی اشخاص شته چه دثبات خاوندان دی، حتی که کله خطاء کارته اقدام و کوی، نوسره له هغه هم پردغه عزم تینگ وي، اوهغه کار پرمخ بیایی نه څنی اوری نو ددغه ثبات په برکت په هغه خطاء کی بریالی کیږی، اوددغه ثبات په نتیجه کی وخپلومطالبوته رسیږی.

او سره له دې که موږ فرض کړو لکه استاد چه وایی داسی اشخاص چه کله کله پر خطاء ثبات لری - نو ددوی بریالیتوب څه معنا لری، اوپر ناحقه باندی ددوی ثبات څه فضیلت لری؟ اوپه تش زور اوعزم سره بی له زیانه دوی ته څه گټه ده ؟.

ده وویل :- هغه فضائل چه موږ ئی بیانوو، لکه صدق، کرم، او شجاعت او نور متوسطه حالات، دغه صفتونه هریو، فرد، او ډیرو افرادوته، بی دثبات له لاری نه حاصیږی.

څکه انسان د «صداقت» په صفت کی مثلاً امتیاز نشی حاصلولای څوچه پر هغه باندی ثبات او مداومت نه لری، یوالحی کله کله په څینوحالاتو کی له ده څخه صداقت ظاهریږی په یوه یادوو وارو صداقت سره دی دصدق فضیلت نشی حاصلولای چه همیشه صادق و گڼل شی او په دغسی توگه، کرم، شجاعت، او نور فضائل، او ممتاز خاصیتونه - ددغو صفاتو خاوند په دغوصفاتو نشی متصف کیدای څوچه پرهغو باندی ثبات ونه لری- او که په هروخت اوهره موقع کښی پردغو صفاتو مداومت و کاندی، بیانو ددغو او صافو خاوند گڼلی شی.

نو ثبات دفضیلت . اورذالت . دهریوه داتصاف دپاره واسطه او پههغو هر یوه اتصاف بی دثبات له ذریعی امکان نه اری .

لکه ذهیربن ابی سلمی چه وایی :

که ثوك وکوی یو خوی تر زور تیا پوری
په تولو خلقو کی به خپوروی دده نوم ترابد پوری

سید ویل :ـ یوحکایت می ارویدلی دی چه دوی ئی و «جنید» ته نسبت کوی . هغه دادي :

یوسړی چه هغه«غلا» عادت درلود ، چه په یوهغلا کی ئی بولاس پری شوی و ، په دوهمه غلا کی ئی دوهم لاس پری شوی و ، بیاهم هغه سړی دغلاعادت ترك نه کړ ، چه په پنبو به ئی غلا کوله ، چه خوئی یوه پنبه هم پری شوه ، بیائی هم غلاو کړه چه دابله پنبه ئی هم پری کړه شوه ، حتی په آخیر کی د دغه خپل فعل د دوام په اثر دوژلو مستحق شوی و ، نوپه دار شوی ځرپد و ، په دغه وخت کی «جنید» تیرشو هغه غل ئی په دارشوی ځرندو ، ولید ، دی ورغی دهغه ځورند غله بدن ئی کوښل کړ ـ نوده ته چا وویل :

تاولی د داسی په دار شوی غله جسد کوښل کړ ؟

ده وویل : دغه کار چه ماو کا وه او دده جسدمی کوښل کړ خاص دده د«ثبات» له کبله ! سید وویل : فرق نه کوی چه دا نقل رښتیا وی او نه ، خو ځنی ځر کند یږ ی چه بذاته «ثبات یومعقول ، اوغوره صفت دی» .

اما غوره هغه ثبات دی چه دبشر د پاره فضیلت لری او فی الحقیقت دانسا نیت دپا ره نافع او کټور وی ، اوپه دغه لنډ حیات کی دهغه له کبله ډیر آلام او زحمتو نه سپکیږ ی ، هغه معاونت ، اومساوات او طبیعی ا خوت ، او دختی او جنسیت له خواورور ګلوی دی ، چه وهغه ته دغه ټول بشری اشکال را جع کیږی .

بیاده وویل : دغه غل (هغه شخص دی چه ثبات ودغی در جی ته رسو لی دی ، چه غلا و کولی ، وروسته داندامو پهپر یکیدلوپسی ووژل شو) نو که د کوچنی توب په عصر کی چا ددغه شخص د«تر بیی» تعهد کړی وای ، اوپه سمه توګه په صحیح علم روز لی شوی وای ، او په ښه شان دده حیوانیت مهذب کړی وای ، نو آیا دغه شخص به یوغوره مثال په جامعه کی پهوجود

نه‌وای راغلی ؟ ا وچه‌دی دخپل فطری استعداد له کبله دثبات خاوندو، نو دد غه فضیلت له کبله به داو یی کامیابی، اوتفوق خاوند نه‌وای شوی ؟.

«مثلا که‌دغه شخص سره له‌دغه فطری ثبات دحربی فنونو تعلیم یافته شوی وای نو آیا دغه شخص به‌دلښکر وله قائدینوڅخه یولوړ قائد، اویو مهم‌سر باز نه وای ؟.

«هو : دی به‌خورا لوړتور یالی، اویولوړ اومحترم عسکر وای ! ځکه هغه څوك چه‌دحربی فنونو تعلیم یافته وی، بی‌له ثبات څخه په‌بل څه کی کامی نه لری.

په جګړه کی بریا لیتوب، اومغلو بیت، په‌جبن، اوپه څودقیقو ثبات پوری ربط لری، دجبن خاوندان تښتی، او دثبات خاوندان بری مومی، غالب او فاتح کیږی. —

اما شرقی‌سړی صبر نه‌لری دلږ مقاومت په مقابل کی‌یوه‌ورځ هم‌ثبات نه‌لری، اودلږی سختی تحمل نشی کولای، ځکه دشرق اوشرقیانو حالات‌ددوی په‌ممالکو کی موږ لیدلی دی، چه ځینی واقعی اومصیبتو نه چه په دغه حیات کی پردوی راغلی دی پخپله لوی دلائل دی چه دد وی رو حیات اوعزائم څرګند وی، اوتنازع په دوی کی دفناموجب وی.

اما کیږی چه‌دصحیح علم‌له لاری‌هغوی‌دغه دجبن مصیبت راوړونکی خصائل، دشجاعت او ثبات په او صافو بدل کاندی !

ثبات او مداومت نه لری، یواځی کله کله په ځینی حالاتو کی لاشه ښکاره شی، ...

په پاره بادوو وارو صداقت سره دی دصدق فضیلت نشی حاصلولای) چه همیشه صادق و کمل شی او په دغه ... که، کرم شجاعت (او نور فضائل، او جمتاز خاصیتونه — ددغو سعادت خاوند په دغو صفاتو نشی متصف کیدای څوچه پرهغو باندی ثبات ونه لری. او که په هر وخت او هره موقع کښی پردغو صفاتو مداومت و کاندی، بیانو ددغو او صافو خاوند کملی شی

د سرحد د پښتو ټولی د پښتو

ادبی مجله

د صداقت له جریدی څخه:

ښاغلی فضل الرحمان خان دپیشورد برتهکال دسرحد د ادبی ټولی سکرټر لاندنی مضمون دصداقت په جریده کښی خپور کړی :

اوسنی فرصت کښې نشراتی خدمتونه له مشکلاتو څخه خالی ندی . د ادبی ټولی زیار اوسعی ورځ په ورځ ډېر یېزی ، اوس دصوبی په هیڅ خوا کښې داسی ځای نده پاتی چه هلته د ادبی ټولی نماینده موجود نوی له همدې نه دخبرو آخستلو او دمشترك نصب العین پیشبرد یوله مهمو مسائلو څخه دی چه دهغه تهیه لازم اوضرور ګڼل کیږی او داضرورتونه یوازی دیوې پښتو ادبی مجلی په واسطه نه تامینېږی نوداسی تجویز شوی دی چه یوه (۱۵) ورځنۍ مجله هم تاسیس شی . مونږ دذوق خاوندانو او دخپلې ادبی ټولی له نماینده ګاتو څخه خواهش کوو چه ددی مجلې دنوم دمعلومو لوله پاره خپل آرا دسرحد پښتو ټولی ته راواستوی ، دمجلې نوم باید خوږ او له تعصب څخه خالی وی .»

کابل : د کابل مجله دې نوی ادبی مجلې ته چه دپښتو نستان دزلموله خوا به نشر یېزی په خورا درنه سترګه ګوری اولیدوته ئې انتظار باسی ، خوضمنا یونوم هم ورته پیشنهاد کوی که ئې وړ وباله وبه ئې منی - دا نوم :

«نوی ژوند !» دی .

په ځان پالمرنه وکړی وخت او زمان

و پیژنی

په پښتو کښی یو متل دي وائی خپل کورسانه گاوندي ته مه وایه چه غل ئی- زمونږ په اصل کښې کورساتنه او قام پالنه هیره شوي ځان ته مو پام نشته ځکه وخت او زمان نشو پیژاندلی په جگړو کښی دټوپکو، توپونو، ماشینگړو، گولی زمونږ وینی شاربی کوچ ئی نورخلك اخلی دهلاکو او چنگیز خونړی واقعات دمغلو جگړی دسکهانو سره، شپه ورځ ډال بازی او دسپینو تورو خرپول دا ټول پښتنو پخپله عسکری جذبه گاللی او دغه خطرناك حوادث ئی دوطن دوستی په مینه زغملی مگر اوس کږي پگړی نور گرزوی تاسی ته به په یادوی چه کرم وخت پرنگیان شرق ته راغلل دخپل حاکمیت او پیشرفت دپاره ئی لارنسی ډاکتران دکوره و، دپښتنو دعسکری جذبی دضعف دپاره به ئی ډول ډول پیچ کاری گانی استعماله ولی اوداقسم ئی خوړلی و چه ترڅو په گوړه مری زهر به استعماله نکړو مگر سره له دغه ئې هم په وزیرو، مسعودو مهمندو، باجوړو ډېر ځله زهری بمونه استعمال او دغرو په لمنو کښې ورته خطرناکی او رونه ولگول دپتنگانو پشان پری ډیر دلداده او جان فدا پښتانه دشهادت درجی، ته ورسیدل دخدای دباغ طوطیان شول دپېښور دقیصه خوانی بازار ته قصاب خانه جوړ شوې وه لکه یو شاعر چه داچار بیته ویلی دلوستونکی دپاره ئی لږ نمونه راوړو

په میاشت کښې وایساك په ښار ئی جنگ بیناك
ناڅا په یوه غوغا شوه په قدرت دکردگار
ځلمي شو فدا کار

غزا شوه راو لاړه پښتون ور کړی غاړه
ورو، وروبه غږید له اخرووته ښکاری ته
غوږ کېږده دی قیصی ته،
غزا وه زوره وره خپره شوه تر خیبره
گولی به وریدلی او توپونه چلیدل
غازیان پری ورختل
راغلی سر خپوش و د ننگ غیرت په جوش و
په مخکښی د لښکر داشنغر عبدالغفار
ځلمی و فدا کار

د دغه وخت راهسی پښتنو دهندد آزادی دپاره عملی ملاوتړلی په زرها وپښتۍ ماتی خپل کورونه ئی په گولووران اودهر یپوراونورو ضلعو ډیرې جیلخانی دپښتنو ځلمونه ډك شوی ډیرو پښتنو پخپلو وینو ولمبل دناری تکبیرپه قوت ئی شرابخانی اود کفربتان مات کړل دهغه‌ماضی‌وه ، چه پاکستان لاپه بارانی اوبوهم اودس نه وکړی په دغه وخت کښې هندوان وخوځیدل او دصنعتی آزادی خیال ئی وزغلاوه دخپل صنعتی او تجارتی ژوندون دحصول په نیت ئی دپرنگیانو دشمنی ته ملاوتړله او دپښتنو ملگرتیائی خوښه کړه په‌هند کښی نوی شور شونه پیداشول پرنگیان و پوهیدل چه اوس په هنداوصوبه سرحد کښې لارنسی پیچ کاری نشی چلیدلی قامونه دخوبه وینې شوی للو پرې تاثیر نکوی په مقابل کښې پاکستان جوړ کړ دپښتنو انقلابی او زنده بادی چغوستړی کړی داروپا جگړو زیانولی پرنگیان دمصر او منځنی شرق مظا هروستومانه کړی انگریز دپاکستان تقویې ته توجه وکړه دهر توکه وکړونه جوړ کړی پاکستان ئی میدان ته و یسته ځان ئی بین المللی شوراته داقوامو آزادی شناسه معرفی کړ دهندوستان یوه واگه ئی هندوانو او بله واگه ئی پاکستان ته په لاس ور کړه هرڅوك د کور کلی خاوندان شول مگرله بده مرغه په ملیونو پښتانه لاهغسی د صیادانو په دام کښی نښتی پاکستان ددیورند او پرنگیانو هدایت تعقیبه وی عبدالغفارخان چه دپرنگی په جیلخانه کښی زیره سپینه شوه اوشپه ورځ دپښتنو وحدت غواړی پاکستان ئی اغتشاش تولیدونکی مجرم بولی افغانستان چه د خپلو ورونو دمستقل اومستحق ژوندون ارزومن او په صلح خواهی صورت کوشش کوی پاکستان وای های باید ټول قامونه لکه د هرتو که چواړیانو پشان د پاکستان دلاس اله شی دا ځکه چه پښتنو ماضی هیره کړې او دحال نه خبرنه دی چه مستقل ته پام وکړی دهمدې کبله فخر افغان جیلخانی ته لیږل شی او نوروپښتنو ته دغلامانو په سترگه کتل شی دمنځنی شرق ټول قامونه د خپل مستقل ژوندون مستحق دی او پښتونستان چه خپل ملی وحدت غواړی نود پاکستان .... ماتیږی . ای پښتنو .

(د سیستان څخه)

ادبیات

واوا ملك خانی

ښاغلی ستانکزی :

گل بلبل دپاسه کړله داسی خوشخوانی
وا وا ملك خانی

❀ ❀ ❀

د کوټ پتلون په ترڅ کښې غوښی خوری د خلق الله په خولی وائی الله
د مکر دام ئې ایښی دا دوی بولی ښه ځوانی
وا وا ملك خانی

❀ ❀ ❀

د خوارو د مظلومو وتالاته ډېر اوچت دی په کبر په نخوت دی
پلن څټ ئی ونیولی وی د خلکو په ورانی
وا وا ملك خانی

❀ ❀ ❀

چه هرچېرته سربه وی ډېر خوشاله پکښې ناست وی ، د گټی خواته ملاست وی
اوبه به خړوی چه کبان ونیسی جانی
وا وا ملك خانی

❀ ❀ ❀

د خلکو د اولس به ځان غم خور بولی ظاهر کښې ، ددی چاری باهر کښې
چرتونه به وهی چه خلك کړی ځانله ځانی
وا وا ملك خانی

❀ ❀ ❀

اولس که اتفاق وه ده ته نه رسیږی پونگه ، نشی کار دده په ټونگه
شپه ورځ به سرگردان کړی په قوم کښې شیطانی
وا وا ملك خانی

چه خوړلې ئې ډوډۍ د ناروا وو (جرګوده) ، زندګی ئې په چړچو ده
پدې فکر کښې ناست دی څنګه کړی حکمرانی
وا وا ملك خانی

❀ ❀ ❀

ناوړه رواجونه تل له دوی نه څرګندېږی ، هری خواته ژر خپرېږی
لور ، خور خرڅوی وایی دغه دود خاندانی
وا وا ملك خانی

❀ ❀ ❀

چرسونه که قمار دی نور که ډېرې بې شرمۍ دی ، له دوی نه بیرونۍ دی
ډېرو باندو کښې تل وی د سارو هلکانی
وا وا ملك خانی

❀ ❀ ❀

دروازی د حکومت ئې تل نیولی اجاره دی ، رشوت ته اواره دی
بیوزلو یتیمانو وینې څکی په آسانی
وا وا ملك خانی

❀ ❀ ❀

چه پېښ شی یو د بله تعارف د دوی کنځاوی ، یو بل ته به ګویا وی
هدیه ئې وړاندی کړی ده خپل کام ته ارزانی
وا وا ملك خانی

❀ ❀ ❀

ملك او خان هغه دی چه رښتینی غمخواری کا ، نه دا چه بی لاری کا
د دې عمل خاوند لره مینده رموز دانی
وا وا ملك خانی

❀ ❀ ❀

غمخوار د خوار عاجزان او بیکسان غواړو

ښاغلی ګل شاه صافی :

د خپل وطن د ودانی ته مو نښ زلمیان غواړو
چه په زحمت راوړی راحت داسی ځوانان غواړو

عشق د وطن مینه د قام کی چه خپل ځان وریتوی
د سی جان بازه فدائی او پتنګان غواړو

تش نغمې څه کړم د بلبل چه ناست د ګل په هوس
دشت اودمن چه کړی ګلشن داسی دهقان غواړو

د عدالت رشته چه وه نیسی په لاس کښې کلکه
با سیاسته مدبره عاملان غواړو

چه پرسیده لای په کورسی کښې راته شین له قهره
یو تره هزاره حقیقی وطن خواهان غواړو

منعم دورك شی چه خپل عیش دشقاوت ښه غواړی
غمخوار د خوار او بیکسان او عاجزان غواړو

وحدت ملی سره هرکام شوه د نړی په هوا
بغض او نفاق چه ور کوی منګ وخپل زلمیان غواړو

درجب خان اعتراف

ښاغلی مبارکشاه « غمگین »

په حقو قو د ملت سره قسم خورم
بې له ځانه زه دبل چا کله غم خورم

ما چه لاس دی پوری کړی نن رشوت ته
چه پیدا شی زه رشوت په هر قدم خورم

غوړی وریجی ښه چرگان زما خوراك دی
کومه ورځ ده چه زه له دی شیونه کم خورم

په حلال او حرام نه یم پروا گیر
چه را پیش شی زه ئی تل لکه شلغم خورم

په سیند و کښی له ما پاتی نشو کبان
را ته گوری غرڅه غوشې په هردم خورم

غم د خپلی گیډې دی را سره تل
خوږه غوښه د ملت هډو کښی هم خورم

په باطن کښی زه لیوه په نوم انسان یم
له آمره څخه ترس او نه څه رم خورم

گیډه نه ده بلکه ټانك دی د پټرو لو
را ته گوری چه ئی وینی په څه چم خورم

لمو نځمې هیر دی خو تسبیح می تل په لاس دی
سیاست ده نور څه ویره د عدم خورم

که څوك وائی چه رشوت دی ولی وخوړ
زه منکر او سو گند و نه دم پدم خورم

آوازه د صداقت می گډه کړې
زه چنجی یم د ملت ریښی کم کم خورم

حیف غلط شوم چنجی خو لنږ څه شی دی
زه ژوری یمه وینی د بنیاد م خورم

(د بغلان له اتحاده څخه)

مانړو ته

ښاغلی عبدالشکور خان « رشاد »

غافل مه شه در ته وایمه مانړو
چه کښې نه ږدې یو بانړو پر بانړو

دلته نغښتی سلامت دی په زحمت ستا
تباهی ده په یوه طرفه غفلت ستا

په دې سین کښې شړپ ؤ شړوپ دی د څپو
مد و جزر فعالیت دی د موجو

احتیاط له لاسه مه پرېږده حساسه
دخطرتر گر داؤ ئې پوری باسه

سپما و نکړی دخپل طاقت او توان
سنجوه باد ؤ موسم امن وطوفان

هرطرف د بېړۍ باید سره ټول وی
چه کمال د توازن مو باید مل وی

مطالب واړه داجزاؤ انتظام دی
دلته سپم قدر رخنه د مرگ پیغام دی

دلته نه ځائیږی درز و انفکاك
درزئې مه بوله دواړه قوم هلاك

توجه کړه د بېړۍ و حرکت ته
منتظر او سه د قوم وسلامت ته

چه نقطه دمقصد ور که در څه نه سی
دساحل په طرف تل دبېړۍ تله سی

د نهنگ په خوله کښې ور نکړی بېړۍ
چه به ورانه کړې د قوم دژوند نړۍ

هر تکلیف دټبر ستا مسئولیت دی
چه په لاس کښې دی اختیار او ریاست دی

(له طلوع افغان څخه)

د مشاعری په لړ کښې :

که وم وم که نه وم نه وم

(۱)

ښاغلی « دردمند »

زه د بل نسل بابا یم که وم وم که نه وم نه وم
شپه او ورځ پدا دعا یم که وم وم که نه وم نه وم

په ذوق مینه ویښومه پښتا نه د درانده خوبه
په دې لو یه تمنا یم که وم وم که نه وم نه وم

د کړنګ په څو که ناست یم د قوی عزم په خیال
ښه نسیم ددی بیدیا یم که وم وم که نه وم نه وم

دعالی همت څښتن یم زمری را نه تر یږی
ټینګ هر گوره په وفایم که وم وم که نه وم نه وم

دلمړی شومی په راز کی سپینه لارمی ده موندلی
ددی لوړو غرو بر ښنا یم که وم وم که نه وم نه وم

که پیژنی می گو ره ما ته و مه طلسمو نه
زه فولاد د پښتونخوایم که وم وم که نه وم نه وم

ما نفسی خواهشات مړه کړه د وجدان په محکمه کی
د ساده ژوندون کیمیایم که وم وم که نه وم نه وم

د یو گل ژوندون په مینه پاڅومه کار وانو نه
د تیر شوی عمر ساه یم که وم وم که نه وم نه وم

که ښکاره د زړه پرهار کړم سری غوټی به تبسم کړی
زه ددی چمن بو رایم که وم وم که نه وم نه وم

جذبه د پښتو داده ویښ ځلمی د وطن ستا یم
خاص د توری شپی سبایم که وم وم که نه وم نه وم

داچه ښکته پورته وځغلم په ما دیا تو پسی نه یم
د ژوند ون تازه هوا یم که وم وم که نه وم نه وم

د خادم جلالی شعر د زخمی زړونو ملهم دی
زه (دردمند) به ئی تل ستایم که وم وم که نه وم نه وم

❀ ❀ ❀

(۲)

عبدالله « بختانی »

«رښتیا رښتیا به وایم، که وم وم، که نه وم نه وم»
په دواړو زه رضایم ، که وم وم، که نه وم نه وم

❀ ❀ ❀

پروامې د ځان نشته نه وېرېږ مه له مرگه
هو! مرگ لره پیدایم، که وم وم که نه وم نه وم

❀ ❀ ❀

هېچانه مې خوف نشته طمع نه لرم هېچا ته
بنده د خپل مولا یم، که وم وم، که نه وم نه وم

❀ ❀ ❀

تل غواړم حقیقت په تش صورت غولیدی نشم
مین زه په معنا یم، که وم وم ، که نه وم نه وم

❀ ❀ ❀

نفاق او دورنگی او چل، فریب می نه خوښېږی
ملگری در ښتیایم، که وم وم ، که نه وم نه وم

پښتون یم تعلق او خو شا مندی نه کو مه
که هرڅه یم همدایم، که وم وم، که نه وم نه وم

❀ ❀ ❀

له تش خود نمائی او تظاهر نه زه بیزاریم
ساده او بی ریا یم، که وم وم ، که نه وم نه وم

❀ ❀ ❀

دخپل وطن خادم یم جلالی یه دې باور کړه !
د وینو همنوا یم ، که وم وم ، که نه وم نه وم

❀ ❀ ❀

هرڅه چه مې په زړه دی هغه وایمه په خوله هم
«رښتیا رښتیا به وایم، که وم وم، که نه وم نه وم»

❀ ❀ ❀

(٣)

ښاغلی لعل محمد « احمدی »

سپیڅلی سپین وایم که وم وم ، که نه وم نه وم
د حق لاره به ښایم که وم وم ، که نه وم نه وم

د یده را و ینبو مه د حیات په نغمه ورو ورو
د وینو به همرا یم که وم وم که نه وم نه وم

په حق د ملت باندی ولاړ یم تر آخره
همیش به دی سودایم که وم وم، که نه وم نه وم

دیلار ، نیکه وطن می دغه ښکلی پښتو نخواده
تر ټولو یری شیدایم که وم وم که نه وم نه وم

لتاړ وطن به جوړ کړم، بیلابیل پښتون به یو کړم
مین به پښتو نخوا یم که وم وم که نه وم نه وم

هرڅوك چه شی خادم د خپل وطن په محبت کښې
قربان له داسی چایم ، که وم وم که نه وم نه وم

رشتین لسکه خادم یم په الفت د خپل وطن کښې
سر تیری « بینوا » یم که وم وم که نه وم نه وم

سپیڅلی که شی داسی د وطن په محبت څوك
د هغو په ثنا یم که وم وم ، که نه وم نه وم

تا کړی اقتفاده د خادم جلالی واو ره !
زه استا په اقتدا یم که وم وم که نه وم نه وم

مدام « احمدی » غواړم د خپل قوم اعتلازه
په دی عشق کښې فنایم که وم وم، که نه وم نه وم

خان عبدالرؤف خان صاحب بینوا مدیر عمومی پښتو ټولنه کابل

السلام علیکم ورحمة الله . یوه نیمه میاشت نزدی کیږی چه زه ستاسو نه جدا شوی یم ما کافی سستی او کړه - معافی غواړم - خو دی دومره ډیل وجه ځما تغافل نه وه بلکه یو خاص مصروفیت وه - زه چه د کوم کار دپاره لاهور ته تلی وم یعنی ځما ډیر زیات وقت اولګیده هیله نن دریمه ورزده چه تیر فارغ شوم - وړمه ورز په ۱۲ می دلاهور نه راغلم دمزار دخان علیین مکان خوشحال خان خټک دتعمیر په سلسله کښې دخان محمد زمان خان دا کوړه خټک اوخان محمد نوازخان خټک دشیدو په کوشش سره دخانخیلو یوه اجتماع اوسو پهغی کښې فیصله اوسو . چه دمزار تعمیر دډیر زر تکمیل ته اورسولی شی - ددی مقصد دپاره حاضرینو چندی ور کړی اوډیرزرامید کیدی شی چه تعمیر تکمیل ته اورسی دخانخیلو اونورو پښتنو دی اجتماع یو قرار داد منظور کړه چه دهغی الفاظ دادی « مونږ دخان خوشحال خان خټک نمسی او دسرحد عام پښتانه دپښتو ټولنی دکابل او اعلیحضرت تاجدار دافغانستان دزړه په خلوص سره شکر ګذاریو چه هغوی خپل خصوصی نمایندګان عبدالرؤف خان صاحب « بینوا » او قیام الدین خان صاحب « خادم » سرحدته راولیږل اودخوشحال خان بابا د روضی دتعمیر پیشکش ئی او کړه - مونږ ددی اخلاص قدر کوؤ مګر التماس کوؤ چه پښتو ټولنه دصرف دمزار دتعویذ کانړی پخپله ذمه کړی اوڅنګه چه څو کاله اول ټولنی لیکلی ؤ داتعویذ دراولیږی مونږ به په دی ډیرفخر او کړو » ددی تجویز غرض دادی چه نورخرڅ په زړه تعمیری کمیټی او کړی اوتاسی صرف دتعویذ ډبری راوالیږی دمیاه صاحب سیدرسول « رسا » اوخپل عکس درلیږم څنګه چه ستاسو ارشاد وه ماستاسو په خدمت کښې التماس کړی ده چه دپښتو ټولنی مطبوعات کم نه کم پنځه پنځه جلده ځمونږ دکان « ادارهٔ اشاعت سرحد ته رااولیږی چه دلته څوك قیمتاً داخستو خواهش لری چه مونږ ئی ور کوؤ ددی کتابونو قیمت به ادارهٔ اشاعت ادا کړی - دهر کتاب قیمت اولیکی - نور ټولو ارکانو د ټولنی ته دسلام تحفه.

فقط ستاسو مخلص عبدالخالق « خلیق »

دوی غوښتنې

بینوا صاحب د پښتو ټولنې مشر!

زما لاندنی غوښتنې چه د یوه درد من پښتون د زړه غږ دی ځکه تاسی ته وړاندې کوم چه تاسی د پښتو ټولنې مشر یاستی، داد تاسی یوه فرضی وظیفه ده چه دی غوښتنو ته غوږ ونیسیء، وئی منیء او عملی ئی کړیء، او دویښو پښتنو هیله هم د پښتو ټولنې له مشر څخه همدا دی.

ټول کائنات په حرکت او فعالیت بخت دی پرته له مونږ پښتنو چه نه حرکت را کښې شته نه فعالیت! لکه د تېږ وغټ ښکلی بتان بې حیره موستر گی رډی نیولی نه دوخت په قدر پوهیږو او نه استفاده تنې کولی شو!...

په هر حال دا خبرې ډېرې دی نو له تاسی څخه خواهش کوم دا لاندی عرضونه می واوریء او چاره ئی وکړیء، ځکه زه خو په خپله په دا او سنی دمیږی په پله تګ نه یم خوښ باید لکه کوچنی له پالی پالی قدم واخلو او خوشې نور وخت ضائع نکړو.

۱ ـ د پاکستان رسمی راډیو او رسمی اخبارونه او ځنی ئی هم مزدوران لکه خانمیر هلالی او فضل ربی او نور داسی!... دافغانستان په باره کښی کرغېړن او بی شرافانه پروپاګندی مضامین نشر کړی او کوی ئی او زمونږ دراډیو او اخبارو له خوا بالمثل ځواب نه ویل کېږی او که وویل هم شی ډېر نرم دی او هغه ته د بزرګواری تحمل وائی!؟ نو که چېرې په نرم او پوست ځواب کېدی باید پاکستانی نشراتی منابعو خپل ځان او شرف پېژندلی وی او نور ئی داشر اندازه پروپاګند نکولی مګر ورځ په ورځ ئی فحاش او هتاکی او

بی تهذیبه خبرې ډېر ېږی نو هغه دپښتنو تل دلته مصداق پیدا کوی چه : «اصیل په اشاره او کم اصل په لوړ !؟...» هو، نور نو مونږ دومره هم کریم لك بخش نه یو چه دداسی مزدورانو او ملت خرڅه ونکو او بی تهذیبه خلکو ځواب ونه وایو !! نه بایدوئی وایو او نور له دی بزرګواری څخه صرف نظر وکړو ددی مزدورانو او دپاکستان دشراندازی نشراتی منابعو بالمثل ځواب بلکه لیاڅه تری غوړو وایو، او له تولو هغو پښتنو چه دملی درد خاوندان وی خواهش کوو چه دداسی خلکو سوانح تر کومه ځایه ورته معلومی وی نشرئی کړی او تاسی هم نوره اجازه وکړیء چه په لوړ او ډانګ پېلی ځواب ور کړی شی، نور نو طاقت نلرو چه دا فحاشی وزغمو !!

۲ـ : پښتو ټولنه یعنی دپښتنو ټولنه خو دا معنی لری چه هلته پښتانه سره راغونډ او راټولیږی تر اوسه خو مونږ دانیك مرغی ونه لیده او نه مو په دغو دوو کلو کښی په پښتو ټولنه کښی یو کنفرانس وا وریده نو نه یو هیږم چه د «پښتون دا کاډمی» دداسی در کو پیسی درفاه عامه ! په کوم درك مصرفیږی !! . . دپښتو ټولنی له پاره یو کلوپ چه کتابخانه ئی هم ورسره وی ډیر ضرور دی ځکه مونږ باید دهر ځای له پښتنو سره خپل کلك او ټینګ ارتباط وساتو نو چه پښتو ټولنه کلوپ ولری هر پښتون ورور به له خپل پښتون ورور سره بې له کوم ممانعت څخه وینی او خبری اتری به ورسره کوی او په دی کلوپ کښې به ګټور کنفرانسونه ورکول کیږی .

غوښتنی می په پاس ډول درته وراندی کړی هیله لرم دی خواته توجه وکړی او دنورو توجه هم ورته راجلب کړی، ستاسی ځواب ته زمونږ سترګی په احترام . نیك محمد «پکتیانی»

له «تاج محل» څخه

علیا حضرته د بهوپال بیګمه

پښتو کو نکی نیک محمد «پکتیا نی»

دیر دخوښی ځای دی چه هغه پښتون اولس چه له څو پیړیو را پدې خوا په هند کښی اوسیږی او دلته میشت دی د پښتو او فارسی خوږی ژبې ئی ندی هیری کړی، په علومو او ادبیات کښې ښه پوهیږی، یوازی نو نه، بلکه پښتنو میرمنو هم د ادبیاتو په میدان کښی طبع آزمائی کړی، چه له هغې جملې څخه یوه پوه او محترمه میرمن علیا حضرته د بهوپال بیګمه چه تخلص ئې «شاه جان» دی ده ښه موزونه طبع ئی لرله او د فارسی د ادبیاتو په صحنه کښې لویه قریحه لری، کله کله ئی اشعار هم ویلی، نوله دی کبله ئی مونږ دلته د اشعارو نمونه چه ادبی زاکت لری در نیو.

مګر پخواله دی چه د ادبیاتو ذکر ئی وکړو غواړو د اجمال په ډول ئی د ژوند ذکر تر هغه ځایه چه معلومات ارو ګران او ستونکی ورسره اشنا کړو.

مبارك نوم ئی «شاه جهان بیګم» د نبا غلی نواب جهانګیر خان بهادر شمشیر جنګ د بهوپال د شهزاده نشینی حکمران لورده، ذکر شوی والاحضرت نواب په زی «میرازی خیل» د پښتنو له قبائلی لوی تبر څخه دی، نوموړې میرمن په ۱۲۵٤ھ د علیا جنا به سکندر بیګم له نسه زیږیدلی، د خپل مهربان پلار ترسیوری لاندی دینی علوم ئی تحصیل او له ادبی علومو سره هم آشنا شوی ده. د امیر من هر کله چه پیغله شوه له جناب افخم المؤید بنصرالله سید محمد صدیق حسن خان سره ئی د زوجیت شرف وموند ذکر شوی حضرت سید نبا غلی خاوند ئی د یو عصر فاضل او علامه ؤ. د دیر آثار ئی یادګار پریښی، تقریباً سل کتابونه ئی په مختلفو علومو کښی تصنیف او تدوین کړی دی، د احضرت په ښو صفاتو، زهد او تقوی، تدین او ورع په زمانه کښی یو سړی و، د ښکاره ده چه د داسی فاضل صحبت او د ژوند ملګری د نوموړې میرمنې په علمی تتبع کښی ډیره مرسته کړی او با ذوقه افکارو ته ئی ځلا ورکړی.

د دې میرمنی په فطرت کښی پوهه او فهم او قدرت آخښلی شوی معنا او صورتاً د ښو اخلاقو او فضایلو په ګینه ښکلی، او جواده او کریم النفسه وه. نو هغه وچه د تا جدار پلار له وفات ئی وروسته په ۱۲۸۵ د هجری کال د «بهوپال» د شهزاده نشینی پر تخت کښیناسته.

دعلیا حضرتي دحکمرانی پای تخت وو، او ښکلی ښار او دهند په مرکز کښې دی، چه دجی - آئی پي دریل په خط واقع دی، شاوخوائی ترڅو چه ستر کی کار کوی کښت اوشنه ځنګل ئی ځمکی پټی کړی. دبهوپال شهزاده نشینی له خو نسلو همدې کورنۍ ته منسوبه ده.

هر کله چه دحکومت دچارو واګی علیاحضرتی پلاس کښې واخستی له ټولو نه مخکښې دمملکت درفاه او فلاح او دوګړو خوشحالی خواته ئی خپله لوړه توجه وګړه امرې قدمونه ئی چه واخیستل پخپله ئی په ټول مملکت کښې دګړه وګړه او دخپل رعایت احوال ئی عیناً وکوت بیائی په ټول مملکت کښې دمساحت امرو کړ ددهقانانو او دوطن دآبادی له پاره دپرمرعات او تسهیلات راغونډ کړل بوه ګړی ئی هم دملت په آسایش و نیکمرغی کښې غفلت ونکړ. دپس چارو له سمون وروسته د معارف خواته ئی توجه وګړه، لکه څرنګه چه دهغه لویو افکارو اولوړو خیالاتو او ښوا احساساتو په رونړا کښې چه قدرت علیاحضرتی ته عطا کړی وو په هر وقت او هره موقع کښې مخصوصه علاقه او صمیمت دخپل مملکت دمعرف په باره ښکاره کړل، علما او فضلا او دهنرخاوندان ئی تقدیر او نوازشونه ئی وړ کړه او ضمناً ئی دخپلی شهزاده نشینی زلمیان که مسلمان و که هندو په سعی او عمل او دعرفان د تحصیل له پاره ترغیب کړل. ددی علمی زښته مینه او ذوق ددی له آثارو لکه (تاج الاقبال) (تاریخ بهوپال) (تهذیب النسوان) او (خزینة اللغات) ثابت او ښکاره دی او سربېره پردی له عمرانی چارو سره ئی هم زښته مینه درلوده، او دنوی طرز دودانیو دجوړولو کلک اساسونه ئی هم کښېښودل چه له هغو ټولو څخه تاج محل، نشاط افزا، دشاه جهان غدیر، داهمیت وړدی او دبړي دخیریه چارو بناګانی لکه د رملتونونه، مکتبونه، جماتونه، پلونه، اوجادې او داسی نوری ددې یادګارونه دی.

دخپلې دورې په زمامداری کښې دمملکت دترقیاتو دزمینی په راغونډولو کښې په دېر محبت اوجدیت اوزیاته علاقه سریع ګامونه کښېښودل اوخپل مرام ئی سرته ورسو اود خپل وطن دچارو په اصلاحاتو کښې ئی په صمیمت او اخلاص کوشش وکړ، محبت او وفاداری دوفادار رعیت دزړو په ژورو جړو کښې که مسلمان و که هندو ځای ونیو.

نو همد اوچه د علیا حضرتی داقیمت داره خدمتونه دتولو خلکو او دانگریز ددولت دتمجید او تحسین وړو گرزیدل او پله پسی د (وکتوریا) د انگلستان دملکی او دهند دنائب السلطنه نه ئی محبت تقدیر او نوازش بیاموندل . دانگلستان دملکی له خواد کرون آف انډیا . (تاج هند) او دهند ستاره داعلا طبقی د دلاوری اولوئی رئیسی د پهلوی خطاب یاده اوسر فرازه شوه .

دادی دعلیا حضرتی د کلام خوږی اوبرجسته برخی چه په لاس کښی لرو وړاندی کوو ئی

هردم زحسن یار من ریزد تجلای دگر — چشمم بود درهر نظر محو تماشای دگر
هر ذرهٔ خاك درش خورشید تابان درش — از پرتو مهر رخش دارد تجلای دگر
خوبان دنیا کو همه خوبند از سر تا بپا — نام خدا آن دلبرا دارد سراپای دگر
از بوریای زاهدان بوی ریا آید بجان — بهر نماز عاشقان باشد مصلای دگر
باور مکن قول عدو ساغر کجا و شیشه کو — ای محتسب این های وهو دارم زصهبای دگر
من میدوم سوی حرم دل میکشد سوی صنم — من میروم جای دگر دل میبرد جای دگر
جانم به تنگ آمد ازو یارب چسان سازم بدو — من میزنم رای دگر او میزند رای دگر
ای عشق بی پروا بیا تا وارهیم از ماسوا — جز داد نبود مرا در دل تمنای دگر
ازشرم رنگ خال او دیگر بود احوال او — گل برسر آن لاله رو دارد تماشای دگر
ای مونس غمخوار من خلقی پی آزار من — پس مهر ایزد یار من دارم نه پروای دگر
شاهجهانم بیگمان هم تاجور درهندیان — جز یاد دلبر درجنان دارم نه سودای دگر

رباعی

برخیزم و نگاه بهر چار سو کنم — باشد که رفته رفته ترا رو برو کنم
این جست وخیز ساغر کم ظرف تنگ ماست — مستی اگر کنم بشکوه سبو کنم

رباعی

افتاده بگورم گذر آن سرو روان را — من مرده خوشم زیست مبارك دگران را
ای چرخ چه کردی بسلیمان وسکندر — کز تو هوس عیش بود شاهجهان را

لندکیٔ پښتو او پښتنو اله

(۲)

لیکونکی ښاغلی مومند :

پښتو عفت دی ،

پښتو عصمت دی ،

پښتو دپښتانه دناموس ساتنه پرهر پښتانه لازمه ګرځولی ده ، پښتانه د پښتانه دناموس په ساتنه کښې په سر او مال ولاړوی .

که یو پښتون په خپل کاله کښې نه وی او نژ دی خپل هم و نلری د هغه د مال او دناموس ساتنه ، د کاله خدمت ئی حتی چه دکاله لګن (مخارج) ئی پر کلیوالو او ګاونډیانو دی ، پښتو همدغسی معامله دهرچا په حق کښې لازمه کړی ده چه د پښتنو په سیمې کښې پروت وی که څه هم پښتون نه وی او بل څوك وی .

پښتو ده چه د پښتنو سر او مال تر ناموس جاروی .

پښتو سمه عقیده ده ،

پښتو ایمانداری ده .

پښتو پر مسلمانی ټینګېدل دی .

پښتو سعادت ته ورغلی سمه سیخه لاره ده .

پښتو ډاډ (اطمینان) دی .

پښتو اتیتې (توکل) دی .

پښتو په پښتنو اعتماد دی .

پښتو پرځان باور دی .

دمیلمنو پالنه دپښتو ځنی ده ،

پښتو ډوډ یماری ده .

ورکړه او سخاوت ، دبې وزلو سره مرسته لو به پښتو ده ، دپښتانه په سیمی کښې دهرچا سر او مال او ناموس په پښتو سره ساتلی دی ، او څوك چه د پښتانه هیواد و الوته تاوان ورسوی دهماغه پښتانه د ښمنی به هم منی ، دپښتو تقاضا داده چه دسیمې خاوند دمتجاوز نه دخپل سیموال مال لیا ئی تاوان واخلی ، دپښتانه په سیمی کښې تجاوز له دغه پرته بېله جریمه او جزا هم لری .

که دپښتانه په سیمې کښې دپښتانه پر سیموالو حمله لیا دهغه پر ناموس تجاوز وشی ، لیا پکښې څوك ووژل شی نو د متجاوز جزا وژل دی او وینه ئی هم توی ده ، او که په تېښته موفق شو نو وروسته به هم دسیمی خاوند دپښتو دلیاری سره سم له هغه نه بدله او کسات اخلی .

جهل په پښتو ور کېږی .

علم په پښتو زده کېږی .

زده کړه په پښتو کیږی .
پښتو دعلما ؤ مننه او احترام دی ،
له سیالانو سره سیالی او له نړی سره برابری
په پښتو کیږی ،
دوطن مینه پښتوده .
کار کول او د وطن و دانول په
پښتو سره کیږی ،
پښتو دپښتنو دیری او لوړ والی ضامنه ده ،
پښتو دپښتنو داوړ والی وسیله ده ، یعنی
دپښتنو او پښتنو والی ترقی په پښتو
سره کیدلای شی ،
پښتو دسعادت وسیله ده یعنی سعادت یواځی
په پښتو سره پښتنو ته په لاس ورځی ،
دژوندانه خوند په پښتو آخستل کیږی ،
پښتو شته (ثروت) دی ،
پښتو پانګه (سرمایه) ده ،
پښتو ګټه ده ،
پښتو کښې د دوارو نړیو ګټی دی
پښتو اقتصاد دی ولی چه پښتو پښتنو ته امر کوی
چه کار و کړیء ! زیارو کښیء !
پښتو پښتانه ته اجازه نه ورکوی چه
بیځایه او بې دوده لګښتونه (مصارف)
و کړی یعنی پښتو نه پرېږدی چه پښتانه
په ناروا او ناجایزو لارو کښې چه دین ،
اخلاق ، او پښتو روا کړی نه وی څه ولګوی .
پښتو پښتانه سړی ته اجازه نه ورکوی

چه دځان د ګټی دپاره بل چا ته تاوان
ورسوی ، لیاخیانت و کړی بلکه بالعکس
پښتو غواړی چه پښتون سړی د نورو
پښتنو او مسلمانانو د ګټی دپاره د ځان
تاوان و کړی او پرې خوښ هم وی .
پښتو آزادی ده .
پښتو قوت دی .
پښتو مقاومت دی .
پښتو اقتدار دی .
پښتو حاکمیت دی .
پښتو عظمت دی .
پښتو شوکت دی
وطن په پښتو ژغورل کیږی .
سیمه په پښتو ساتله کیږی ، په پښتو کلکیږی
او په پښتو درنیږی .
پښتو پښتنو ته مړینه دیره خواره کړی او
مرګ ورته حقیر کړی دی .
پښتو ددین ، پښتو ، وطن ، او دپښتنو نیکونو
د نامه او د پښتنو د تولی د ګټی او پت
دساتنی دپاره پښتانه د مقتدرو اوغدارو
د ښمنانو په مخکښی د رولی او کلکو
جګړو ته ئی څېلمه کړی او پرسرو وینوئی
لړلی او رغړولی دی او لړلی او رغړوی ئی ،
پښتو د پښتنو کګړی د پښتنی او اولسی
غروره څخه د کی کړی او پښتانه ئی په
پښتو نیشه کړی دی .

پښتو زرور توب دی ، ځکه چه پښتانه په‌دی
خبره ایمان لری چه ګټه او تاوان ،
عزت او ذلت هرڅه دخدای نه دی بې دده
دارادی نه هېڅوك هېڅ هم نشی کولی
نو ځکه پښتو کښې وېره نشته او پښتانه
نه وېرېږی .

پښتو لوړ همت دی .

پښتو ننګ دی .

پښتو حمیت دی .

پښتو غیرت دی .

پښتو جرئت دی .

پښتو اراده ده .

پښتو هوډ (عزم) دی .

پښتو متانت ، ثبات او استقامت دی .

پښتو حزم دی .

پښتو حلم دی .

پښتو توره ده .

پښتو دپښتنو هغه مهمه وسله‌ده چه‌په هرډګر
کښې ئې دوی بریالی کړی او هېڅ یوه
وسله ورسره مقابله نشی کولی .

پښتو تور زنتوب دی .

پښتو نارینتوب دی .

پښتو مړانه ده .

پښتو دپښتنو هرګوره کلك سنګر دی .

پښتو دپښتنو نه چاپېره خورا کلکه کلا ده

پښتانه د ژوندانه درستې ګرانی یواځی په
پښتو ځغملی ، له‌سره اړولی او له ځانه لیرې
کولی شی .

دژوندانه په تیارو کښې پښتانه یواځی د
پښتو په‌رڼا لاره میندلی او سیخولی شی .

پښتو لطف دی .

پښتو معناده .

پښتو دعوه‌ده .

پښتو اثبات دی .

پښتو نتیجه ده .

پښتو حکمه‌ده .

پښتو حاکمه ده .

پښتو حکم دی .

پښتو قانون دی .

پښتو پرېکړه (فیصله) ده .

پښتو ضابطه ده .

پښتو نظام دی .

پښتو انتظام دی .

پښتو سمبالونه ده .

امنیت په پښتو کښی دی .

خوا خوږی په پښتو کښی ده .

حریت به پښتو کښی دی .

عدالت په پښتو کښې دی .

پښتو نیاو (انصاف) دی .

مساوات په‌پښتو کښی دی .

په پښتو کښی هغه ریښتېنې ډیمو کراسی ده‌چه
تګی :چل ول ، افراط او تفریط پکښی نشته .

ظلم او ستبداد په پښتو ور کېږي.

ظالم په پښتو خربشوي کېږي.

د مستبدانو سر د پښتو په تیږه ټکول کېږي.

د اولس او وطن ریښتیني او خادم په پښتو پېژندل کېږي.

د دین، وطن، پښتو، او پښتنو خوئن په پښتو څرګندېږي.

د ظالمانو. مستبدانو سټه او ولی په پښتو وېستل کېږي.

پښتو کښې کشران د مشرانو د پاره او اولس د حکومت د پاره نه دي بلکه مشران د کشرانو د پاره او حکومت د اولس د پاره دي،

د دوی موقعیت او احترام د پښتنو په سترګو کښې د دوی د خدمت په تناسب دي.

پښتو د سمو مشرانو مننه ده.

پښتو د خائنو مشرانو رټنه ده.

ډګر په پښتو ګټل کېږي.

خلاصي او نجات په پښتو کښې دي.

جنت پر اسلام باندي په پښتو کولو ګټل کېږي،

حوري، غلمان، او د جنت بې شمېره نعمتونه پښتنو ته په پښتو لاس ته ورځي،

پښتو د پښتنو د دواړو نړیو د سعادت ضامنه ده.

پښتو د پښتنو د وړو ر. زونکي (مربي) ده،

د زلمو، د زنو قوت او خوشحالي ده

د زړو لکړه او امساده.

پښتو د پښتنو د ژوندو ساه او د مړو کپن دي،

پښتو پښتنو ته د پښتني ژوندانه لاره ورښيي،

پښتو د پښتنو د ژوندانه نه ونجېدونکي او نه بدلېدونکي کړنلار — دستور العمل او پروګرام دي.

د پښتنو د دواړو نړیو چاري یوا ځي په پښتو سره سموالي مینده کوي.

پښتو پښتنو ته د مړینې ډول او دود ورښيي،

مړینه هم خدای زو په پښتو سره خوند کوي.

پښتو د پښتنو لوی ناموس دي.

پښتو د پښتنو د ټولنې روح دي.

پښتو د پښتنو روحونو او معنویاتو منځي (مرکز) دي یعني د پښتنو روحونه او معنویاتو په یوه ځای کښې غونډوي.

پښتو د پښتنو لالۍ ده،

پښتو د پښتنو هغه حق دي چه یو ځای ورسره زېږېدلي دي. پښتو خو نو پښتو ده، پښتو ده، پښتو ده، او پښتو (پښتنوا له) ده،

د پښتنو سر لوړوالي په پښتو دي،

پښتو په پښتنو درېدل او سرو مال تنې جا رول دي،

پښتانه په پښتو نازېږي،

پښتانه په پښتو سر لوینه کوي،

په وروستي کښې تللي پښتو هم په پښتو راګرځي،

لنډه ئي دغه چه د پښتنو شته والي په پښتو سره دي او پاینه (بقا) به ئي هم په پښتو سره وي،

پښتانه په پښتو ولاړ دي، که پښتو نه وي
پښتا نه غوړ خپږي بو زپږي سمه ئي خپړي
او ور کپږي،

پښتو غواړي چه دپښتنو درست زده کړي
وينې ځامیا ن، هر يو يوه، حساس پښتو ن،
د تلـلې پښتو د ستا ينې، راکر زو ني،
راڅر کندونی، ارتوالی، اوروالی او خپرونې په
لیار (تعمیم) کښې، خپله توله مادی او معنوی قوا
په کاروا چړی او دخپل و سی او توانه سره
سم ها ند و کړی، در ستې بې نظمۍ، تو لې
نا کلارۍ او ناهو - ائۍ دبې پښتو کۍ څخه
را پېښې دی، بې پښتو کۍ دغو مره بېر ته
پاتې کړی یو دبې پښتو کۍ له امله دغو مره
تیټ او پرلی یو، دبې پښتو کۍ له لاسه توتی
توتی یو ځان ځانی، د بې پښتو کۍ څخه
منځ ته را غلی ده.

درستې بښکولی (تول فلا کتو نه او مصیبتو نه)
د بې پښتو کۍ وا لی له کبله را ر سېږی
او نورې لانجې به همدغې لاری نه را پېښې شی،
حکومت دبې پښتو کۍ له امله اریان دی،
اولاره ئی ور که کړی! او اولس دبې پښتو کۍ
له لاسه بې پته، خوار، زار او ورک ده؟ تول
دبې پښتو کۍ په اور سوی یو، دبې پښتو کۍ
په اور سو ځو، د بې پښتو کۍ په او ر
کړ ېږو، دبې پښتو کۍ په اور ر ېټېږو؟
ښائی دبې پښتو کۍ د لاسه وژا رو، د بې
پښتو کۍ د لاسه کو کی اوسو ري و هو!

وای پښتو! ارمان پښتو!

پخو انیو پښتنو، پښتو تر هر څه ښه
او پښتا نه ئې تر هر چالوړ کنلی او په خپلو
تمامو قوا و به ئی هاند کاوه چه پښتو و کړی
او پښتو وساتی، په دغې لارې کښې به ئی مالو نه
او سرو نه ښندل، بې پښتو کۍ به ئی خورا بده
لیدله او سپېتانه ئې کنله، په هغه مهال کښې
پښتنوا له او مرانه په سیالۍ و ملکه چه اوس
بې پښتو کۍ او پېتا نه په سیالی ده.

پښتو ده چه دوطن، نامه، نا موس، شرافت،
حیثیت ا و بالا خره د پښتو دساتنې دپاره ئی
پښتانه دسکندر، چنګېز، تیمور او نورو نړۍ
نیو ونکو په مخ کښې ودرول او دنامه خاوندان
ئی کړل چه نېټه لیك (تاریخ) پرې شا هدی
اولی او تول خلك پرې قا ئل دی چه اوس
ددوی چار لیکونه (کار نا می) په غټ قلم
او په سرو زرو لیکل کېږی او مونږ پرې سر
لوړې کوو پښتو ده چه په پښتو بانډی ئی هغه
چاره و کړی چه خلک ورته کوته په غاښ
نیسی او ښه شابسی پرې وائی

هو، همدغه پښتو وه چه پښتانه ئی د پښتو نیانې
له غر و څخه لکه توی و بهه ل او د کلکتې
او بر ماتر تکه پورې ور سول!

هو کی! پښتو وه چه دپښتنو یوتو لکی ئی
ترا صفهانه پورې ور ساوه او هالته کښې ئی
څه او څه پرې و کړل!

داخو پښتووه چه پښتنو منځنۍ آسیاخو ځوله پښتو دمنځنۍ آسیانالنده (رعد) او پښتانه ئی تندر (صاعقه) ؤ.

پښتووه چه په پښتنو ئی دسرو زرو مرغۍ ساتله اوشندان ئی ورته نه پرېښودل چه وئی نیسی او که چېری وبه ئی نیوله ژربه ئی بنه اوبنو کی وروشکولې او منګولی او وزرونه به ئی ورمات کړل او دسرو زرومرغۍ به ئی تنې خلاصه کړه.

داخو پښتووه چه دپښتنو نه دهرچاستر که سوځیده اوداپښتانه ؤ چه دسرو زرو مرغۍ ته ئی څوك نه پرېښودل اوله همدې کبله دسرو زرومرغۍ میدان لیوالان تل پښتو او پښتنو نه به په غوسه ؤ او غاښو نه به ئی ورته چیچل خو دپښتنو نه دپښتو پولا دی کلا او سنګر چاپېره و او د پښتو خو را مهمه وسله ئی په لاس کښې وه هرچاچه برید کړی دی ماتې ئی کړی او ناکامه اوشرمېدلی بېرته ګرځېدلی دی، دپښتو سره هیڅ نه کېدل او هیچا خپله مخه نه لیدله وروسته خلك پوه شول چه په زورسره هیڅ شی کېدلی نوچرتو نه ئی وهل چه ګوندی په کوم علمی پټ چل سره دپښتو سنګرمات اودپښتو کلاورانه کړی اودپښتو وسله دپښتنو له لاسه وغورځوی او په دغه دول پښتانه مغلوبه کړی دغه ؤ چه متخصصین ئی ورته کښېنول چه د پټو جګړه ئیزو وسلو په څېړنوی چل وزمینده کړی ترڅو چه ډېرو ماهرو متخصصینو ددینی، اجتماعی، سیاسی اقتصادی اوعلم النفس دعلوموپه مرسته دنوو عصری آلو او وسلو پخېر نوی چلو نه ئی وا پستل چه حقیقتاً پښتو او د پښتنو دهغو چلو په مخکښې مقاومت نشو کړی او مغلوبه اوحتی چه په ورو ستی کښې خوار او ذلیل شول اودغه خبره چه کلاله دننه څخه فتح کېږی دلته بیا خورا بنه مصداق مینده کړ. څه ئی و کړل؟ اوخنګه ئی و کړل دهغو تشریح او بیان نه شم کولی او په دغه لیك کښې بیانېږی هم نه ـ بلکه کتابونه غواړی.

دپښتو او پښتنوالی تشریح چه دانسانی، اسلامی اوپښتنی فضائلو بیان دی اودپخوانو پښتنو داخلاقو، آدابو، عاداتو، دود اودستور او دژوندانه د دول اوڅه اوڅه بنو ونه ده حقیقتاً خورا ګران کاردی او دهرچا دلاسه نه دی پوره لکه چه متل دی چه (پښتو چا ترسره کړی نه ده) همد غسی چا بشپړه څرګنده کړی هم نه ده، بالفرض که څوك وغواړی چه په دغه موضوع کښې څه ولیکی نو په یو کتاب نه کېږی بلکه باید چه کتابونه ولیکی. ځما غوندی خلك چه بشپړ علمی استعداد او قلمی توان ونه لری، دتېرو او او سنیو پښتنو حال اواحواله څخه پوره خبرنه وی، پښتنو کښې شوی او دپښتنو سره

اوی شوی نه وی دټولو پښتنو په کلیو او کامونو
کښې ګرځېدلی او ډېرې شپې ئې پکښې کړی
نه وی زېږه پښتانه سپین ږېری او سپین سری
ئې لیدلې نه وی، دهغوی له خولې ئې دپخوانۍ
پښتو او پخوانیو پښتنو غوری او کیسی اوربدلې
نه وی، پېښې او واقعات ئې له ستر ګو تېر شوی
نه وی، روغه، پوهه، تېره نظر او مکمله ممیزه
قوه و نلری؛ لنډه ئې دغه چه یو پیا وړی
(داهی) سړی نه وی نو هغه به د پښتو له بشپړ
بیان او تشریح څخه عاجز وي. ځه هیله کوم
چه په مونږ کښې دغسی سړی مینده شی چه
بی له او رو پائی او امریکنی لیا نورو پردو
ستر ګو نه په خپلو پښتنی ستر ګو پښتنو او پښتو
او ددوی اوس او پخوانه و ګوری او درېښتینو
پښتنو صفات او مزایا او اخلاق او درېښتینی
پښتو او پښتنوالی حقیقت څنګه چه ښائی
بیان او څر ګند کړی تر څو چه ننني پښتانه
ځلمی پوه شی چه د څه راز خلکو نمسی دی
او ددوی نیکو نو څنګه مزایا او اخلاق
درلودل؟ پښتو او پښتنوا له څه شی ؤ؟ او څه شی
دی؟ چه دهغی له مخی نه ځان او خپله وظیفه
وپېژنی او دتګ لاره اولیکه ور څر ګنده شی
او په هغې وخو ځېږی، اوس خو ډېر ځلمی
دپاړسو او ډوډۍ او نور څه په غم کښې دی!
موږ یو ار و پائی اولس نه یو چه د هغوی
دیانت او معتقدات، اخلاق، آداب، عادات،

او دود او دستور، او دژوندانه ډول ولټوو،
او هغه ومنو! او زده ئې کړو! دغه زور شوی
خوسا مد نیت چه نتیجه ئې دوی ته هم ور
څر ګنده شوه او ډګر کښې ده مونږ ته نه دی
پکار! مونږ امریکائی، افریقائی، چینی
لیا جاپانی لیا بل څوك نه یو چه د هغوی پېښی
و کړو او ځانونه دهغوی په څېر کړو! مونږ
ترك پاړسیوان (ایرانی) او هندی هم نه یو.
مونږ بې نومه او بې نښې نه یو، ور کوټی اولس هم
نه یو! مونږ د آسیا په منځ کښې د نامه
خاوندان یو منځګوری آریائی اولس پښتانه
یو او مهم جغرافیائی موقعیت لرو چه نړۍ
مونږ پېژنی او ځمونږ دنیکو نو چارلیکو ته
په نېټې (تاریخ) کښې ښکلی شوی دی، څه
کېږی که اوس پرېوتلی یو! د خاوند اراده
ده. ناشکری به مو کړی وی! دغه حال ځانله
مونږ ته نه دی راپېښ زمانه ډېر مدا و جزر
اری نورو باندې هم دغسې حالونه ډېر راغلی
دی مګر په هغه ولې کښې چه او به تېرې
شوی وی بیا تېر ېږی. او سنی پښتانه چه
غور ځېدلی پرزېدلی او پرېوتلی او په خورا
بدحال کښې دی بیا هم دهماغو تېرو پښتنو
نمسی دی. یو څو کسه او څو کورنۍ که وی
مستثنا نورو کښې لا دار و پاپ توګ ښکلی مدنیت
دومره ډېر تاثیر نه دی کړی چه حتی وینه ئې
هم وربدله کړی وی، داوسنیو پښتنو وینه

هماغه پخوانې پاکه پښتنې وینه ده، فطرت
خوئی هم نه دی بدل شوی نو ځکه څوك
داگومان نه کوی چه کښې خپل استعداد ئی
هم بایللی دی! نه! هماغه وینه ده او هماغه
استعداد دی خدای ته موهیله ده چه بیاسرجګ
کړی اوله خپلو نیکونونه هم پسې ورنېرشی.
څه گران کار نه دی که پوه او پیاوړی
سپېڅلی پښتانه مشران مخکښې شی او د پښتو
په غېږ پښتانه راوینې کړی ټول یوځای اوپو
کاندی او د پښتو په خوا ئی وخو ځوی دبې
پښتو کی مخه ونیسی او بې پښتووالا ور که
کړی د هر ودانبر کو [اقلیت] په تکی تیر نه وولحی او
د دغو انبر کو (اقلیت) له غمه مو خلاص کړی او یو نسل
ځمونږ د ریښتینی پښتو له روحه سره سم
وروزی او عصری تعلیم هم ورزده کړی بیا تو
څه غواړی. پنځلس شل ملیونه اولس او
هغه هم پښتانه! څه نشی کولی؟ نور به ئی
ونه منی پرړی به ئی بولی مګر مونږ پښتانه
د پښتو له مخی پوهېږو چه څه نشو کولی؟
هغه څه کولی شو چه نو رئی نشی کولی!
هر څه او هر څنګه چه وی څه وایم چه مونږ ته
داروپا خوسا پرتوګ غورځولی مدنیت نه دی
په کار، مونږ باید د ځان دپاره لکه پخوا
بیل مدنیت جوړ کړو چه هغه مدنیت پرته
داروپا او نورو مدنیت څخه وی، د پښتو پښتنی
مدنیت وی. هو کی! مونږ دفن او ضائعو له

پلوه دوی ته اړیو ښائی چه دغه د دوی نه زده
کړو او ځمونږ دین هم مونږ ته امر کړی چه
(الحکمة ضالة المومن اینما وجده اخذه)
خو پرته له دغه نه د دوی نور څه ته
اړنه یو او نه ښائی چه په هر څه کښې
د دوی پېښې و کړو او د دوی معتقدات، اخلاق،
آداب، عادات، دوداودستور..... هر څه
په پټو ستر ګو ومنو! هو ځمونږ په وطن کښې
دغسې ځلمی شته چه داروپامینان اولوالان
دی غواړی چه مونږ پهر څه کښې داوروپا
په څېر شو، هر څه د دوی ومنو، او خپل هر څه
ایسته لیری واچوو! دوی پښتو او پښتنوالی نه
بده منی که څه هم په ظاهر کښې ځان «اوغان»
بولی مګر په زړه کښې پښتانه او پښتو بده
ایسی. دغه څوك دی؟ آیا د پښتیانی پښتانه دی؟
که پښتانه وی نو ولی دغسی دی؟ په هغې کښې
به اوس نه ګډېږو! او نه پکښې ګډېږو!
دغه څېرنه به اوس پرېږدو دغلته نه ځایږی.
ځما خپل نفس بی نه منی چه مونږ په بل چا
پسی لاړشو راندې نه یو چه لسکره مو د بل چا
په لاس کښې وی، دومره ناپوه هم نه یو چه
لکه واره د خپل ژوند انه چل به هم
نه راځی او په بل پسی به منډی وهو لیونی
هم په خپله خوښه ژوند کوی نه د بل چا په
خو ښه، بیزو ګانی هم نه یو چه په هر څه
کښې به د نورو پېښې کړو مونږ خپلول کی

لکه چه د همدغه حکم په تعمیل (عمار) د (حمراء) سره بوځای وسوځید اومکوټ شو. او (جریر) پخپل دغه شعر کښې دهمدغې واقعې پطرف اشاره کوی :

واد رك عمارا شقی البر احم ❁ واخزا کم عمرو کما قد خزیتهم

(خلورم) : کو چنیان به ئې د هدفو او د نښو په شان درول اوپه غېشو سره به ئې ویشتل. د (داحس) او د (غبرا) په جنګ کښې (قیس)د (بنوذبیان) کره خپل کوچنیان دضمانت اوپر غمل په ډول ور کړی ؤ (حذیفه) چه د (بنوذبیان) مشرؤ دغه کوچنیان ئې یوې بیدیاته بوتلل اوهلته ئې ودرول او دخپلو غېشو نښې ئې وکړځول که اتفاقاً کوم کوچنې به نه اسکېده یا به نه مړ کېده هغه به ئې هم بله روځ دخپل غېشې نښه کړځا وه او بله ورځ به بیا همدغه تندارهشروع کېده (۱)

(پنځم) : دقتل یوه بله طریقه خودغه وه چه دمقتول لاسونه او پښې او نوراعضا به ئې کرد سره پرې کول اوبیا به ئې همغسې پرېښودل چه په ډېر خواری او تکلیف سره ومری. د (غطفان) اود (عامر) په جنګ کښې (حکم بن الطفیل) له همدغه خوفه خپل ځان ئې پخپله غرغره کړ لکه چه په (عقدالفرید) کښې په تفصیل سره مذکوردی .

د(عرنیه)خلق چه په ښکاره سره د (حضرت محمدرسول الله ص) پخدمت کښې مسلمانان شول خو وروسته د (حضرت نبوی ص) مرېی ئې وتښتاوه او د هغه لاسونه او پښې ئې پرې کړل اوبیائې په ستر کواوپه ژبه کښې اغزی وتومبل اوپه ډېرېد وضعیت سره ئې په شهادت ورساوه (۲).

(شپږم) : دمړ کېدلو څخه وروسته هم دانتقام وضعیت په راز راز نفرت زیادونکیو صورتو سره ظاهر بده دمړ یولا سونه-پښې - غوږونه -پزی اونور به ئې پرې کول . (هند) د(احد)په غزا کښې سم له همدغه رسم سره د(حضرت سید الشهدا امیر حمزه رض) او دنورو شهیدانو اعضائې پرې کړی ؤ اولدغه کلانو څخه ئې خپل ځان ته یوحمیل او غاړې کې جوړه کړی وه .

(اوم) : پرخپل ځان باندې به ئې نذر اخیست چه که ځه پرخپل دښمن باندی بری ومومم نودد ه دسر په کوپړۍ کښې به شراب چښم. د (سلافه) دوه ځامن د (احد) پهغزا کښې د (عاصم رض) له لاسه وژلی شوی ؤ ، نوځکه (سلافه) پرخپل ځان باندی نذر اخیستی ؤ چه د (عاصم رض) دسر په کوپړۍ کښې به شراب چښم (۳) دغه هم معمول ؤ چه دمقتول زړه او ځګر وباسی او وخوری لکه چه (هند) د (حضرت سیدالشهداء امیر حمزه رض) ځګر ایستلی او ژوولی ئې ؤخوله سټونی څخه ئې نه ؤ تېر شوی (٤)

(اتم) : دحاملی اوبلاربی پنځی کېدی به ئې څېر ولی او پرې فخر به ئې هم کاوه. عامر بن طفیل چه دعربو یومشهور نومیالی اوجنګیالی او د (هوازن) دقبیلی رئیس او مشر دی دغسی وائی :

بقرنا الحبالی من شنوة بعد ما ❁ حبطن بفیف الرمح نهدا و خثعما

---

(۱) : دمجمع الامثال ٤٧٧ مخ .

(۲) : چه دهغه زړه سو ځونکی واقعه داحاد یثو په تو لو کتابو کښې مذکوره ده . لیکن مو نږ دغه تفصیلات د (ابن سعدرح) دطبقاتو له ٦٧ مخ څخه اخیستی دی . په صحیح مسلم شریف کښې یوالحی دده د ستر کو ړندول مذکوردی .

(۳) : دطبقات ابن سعد د دوهم جلد ۲۰ مخ وګوری .

(٤) : ځمونږ دهمدغه کتاب د (٢٦٤) مخ (١٣) سطر وګوری .

[ددغه وحشیتوب او سبعیت په امتناع اوا ندفاع کښې هغه مساعی او مجهودات چه حضرت محمد رسول الله (ص) ایستلی دی او هغه هدایات او ارشادات چه اسلام ددغه توحش په ارتفاع کښې فرمایلی دی هغه د دغه کتاب لوستو نکیونه له ورا ښکاری او هرڅوك پدی باندی ښه پوهیدای شی چه د دغو وحشیتوب دافعالو اضمحلال د حضرت سید المرسلین رحمة للعالمین ص په کوښښ سره پعمل راغلی دی . اود داسی توحش او بربریت استیصال له انسانیت څخه داسلامیت په برکت را مرحمت شوی دی !]

د غزوات النبی ص اسباب او انواع (١)

دمذکور شوی پاس تفصیلاتو څخه وروسته اوس مونږ ددغی واقعی د تحقیق پطرف متوجه کیږو چه د (حضرت نبوی ص) غزوات د کومو اسبابو په بناء پر وجود راغلی دی ؟ او شارع علیه السلام پدغه قدیمی طریقو او عاداتو کښې څه څه اصلاحات فرمایلی دی ؟.

مؤرخینو د « غزوه » لفظ ته دومره وسعت او ارتوالی ورکړی دی که چیری د امن او امان دقیام لپاره دوه دری تنه سړی [دکنزمی پشان هم چیری] استولی شوی وی ، هغوته هم دوی (غزا) وائی.

د « غزوه » له لفظ څخه برسیره یوبل لفظ « سریه » هم شته .

د « غزا » او د « سریه » پمنځکښې د خلقو په نزد دغو مره فرق شته چه په « غزا » کښې ښائی ښه ډیر سړی وی ، خو په « سریه » کښې د سړیو د تزئید څه قید نشته ، که یو تن د کوم ځای د کتنی لپاره ورشی یا د کوم جنګی اخبار تحقیق وکوی ، هغه ته هم « سریه » وایه شی .

د ځینو په نزد د (غزا) لپاره دا شرط دی چه (حضرت محمد رسول الله ص) بالذات پکښې شرکت فرمایلی وی .

حقیقت دادی هغه واقعاتو ته چه مؤرخین « سریه » وائی هغه په څو اقسامو منقسم دی :

(اول) : د تفتیش او پلټنی هیئت چه د دښمنانو د نقل او حرکت اطلاعات ځانته حاصلوی .

(دوهم) : د دښمنانو د یرغل او د حملی د خبر رسیدلو په اثر د هغوی د مدافعی لپاره په پر مخ تګ باندی ځغر د کول .

(دریم) : د قریشو پر تجارتی مواصلاتو باندی قیود عائدول ترڅو هغوی مجبور شی او مسلمانان دحج او عمری لپاره پر ښږدی .

(څلورم) : د امنیت او انضباط د قیام لپاره د تعزیری افواجو اعزام .

(پنځم) : د اسلام د اشاعت لپاره څه سړی استول او د هغوی د حفاظت لپاره څه لښکر له هغوی سره لیږل چه پدغه صورت کښې به پر هغوی باندی د غسی تاکیدات هم کیدل چه حتی الامکان ښائی له توری او جنګ څخه کار وانخیست شی .

« غزا » به عموماً دو صورتونه درلودل :

(اول) : دهغود ښمنانو مقابلی او جنګ ته وروتل چه په دار الاسلام باندی هغوی د تعرض او یرغل د پاره به راوتلی وی

---

(١) : ښائی چه دغه ښه په یاد ولری، چه دغه بحث زیاد تره له تاریخی حیثیت څخه کړی شوی دی د « جهاد فی سبیل الله » پر حقیقت او اصل اوفلسفه باندی ددغه کتاب په راتلو نکیو مجلداتو کښې مفصل بحث وروسته لدینه کیږی .

(دوهم) : دهغو دښمنانو مخې ته ورتلل چه دهغوی په نسبت د اسې معلومات حاصل شوی وی چه هغوی غواړی چه پر (مدینې طیبې) باندی حمله وکړی یا په جنګی تیاری بوخت اومشغول وی .

هغه محاربات چه د (حضرت نبوی ص) پزمانه کښې واقع شوی دی ، یا د هغه په شان کوم واقعات چه وړاندی شوی دی هغه ټول پر همدغو مختلفو اغراضو او مقاصدو مبتنی ؤ .

کله چه (حضرت محمد رسول الله ص) له (مکی معظمی) څخه (مدینی منوری) ته هجرة وفرمایه نو (قریشیانو) په قطعیه ډول سره فیصله وکوله چه ښائی اوس اسلام بیخی مستاصل اوورک شی - ځکه دوی پوهیدل که اسلامی تحریك همدغسی قائم او دائم پاتی شی ، نوله یوه لوری د کفارو مذهب نه نقصان ور رسیږی ، اواله بل طرف څخه په ټول (عربستان) کښې د هغوی پر هغه تفوق او مرجعیت او اثر باندی بد اثر لویږی او متدرجاً له لاسه وځی . نوبناء پر دغه له یوه طرفه پخپله (قریشیانو) پر (مدینی منوری) د یرغل او تعرض وروړلو په ترتیباتو او تهیه باندی لاسونه پوری کړل - او له بلی لوری نورو کردو عربی قبائلو ته ئی دغسی تحریکات او لمسول ورکول چه خامخا د اسلام او د مسلمانانو پر خلاف و درپیږی - که نه که د غی نوی ډلی قوت او قدرت وموند او پخپلو تبلیغاتو کښې بریالی شول ، نو ستاسی استقلال ، آزادی او حیات ته به لویه صدمه در رسیږی ، بلکه بیخی پوپناه کیږی . !

په بیعة العقبه کښې څه وقت چه انصارو د (حضرت محمد رسول الله ص) پر لاس بیعت کاوه ، نو یو انصاری ودریږد او داسی ئی وویل :

« ای ځما ورونو ! آیا پوهیږئ چه مونږ او تاسی پر کوم شی باندی بیعت »

« کوو ؟ دغه خود عربو اودعجمو پمقابل کښې دجنګ د اعلان په شان دی ! »

پاس مو د (مسند دارمی) او دنورو کتابو پحواله ولیکل : کله چه (حضرت محمد رسول الله ص) (مدینی منوری) ته تشریف راوړ نو ټول عربی اقوام پر (مدینی منوری) باندی د تعرض په تیاری او ترتیباتو کښې مصروف او بوخت ؤ - پر (مدینی منوری) باندی خوف او وېره دومره مستولی شوی وه چه مهاجرین او انصار به کړی شیه یه مسلح ډول وپدیدل .

« دغه هم د (ابو داؤد) پحواله پاس تیر شو (١) چه قریشو (عبدالله ځوی دابی) ته داسی پیغام لیږلی ؤ چه :

« تاسی محمد له هغه ځایه وباسی ! که نه مونږ دریسی (مدینی) »

« ته دورځو او ستاسی او دمحمد دواړو کار پای ته رسوو »

د تفتیش هیئت یا د پلټنو ټولنه

ددغو واقعاتو په بناء دغه خبره ضروری وه چه د اسلام او دارالاسلام د حفاظت لپاره لازمه تدابیر واخیستل شی - یدغی سلسلی کښې له کردو څخه ډومبی کار خو دغه ؤ چه دخبر اخیستلو او د اطلاعاتو دراغونډولو انتظام په وسیعې اندازې سره وکولی شی - لیکه چه ابتداً (حضرت محمد رسول الله ص) د هغه پر انتظام باندی توجه وفرمایله وقتاً فوقتاً پرلسه پسی وړوکی وړوکی کزمی به ئی شاؤ خوا مختلفو مقاماتو ته استولی - دغه کزمی چه عموماً د خبر راوړلو لپاره تللی ، د خپلو ځانو د حفاظت او ساتنی په مقصد به عموماً مسلح او مجهز او د جمعیت په صورت کړځیدلی . همدغه کزمو ته مؤرخین « سرایا »

(١) : ابوداؤد باب فی خبر النفیر .

وائي - او د هغوی پزعم د دغه « سرایاؤ » مقصود د کومی قافلی لو ټول یا پر کومی ټولنی باندې د بېخبری په حالت کښې یو ناڅاپه ځان غورځول ؤ .

یوه لویه قرینه پر دغی خبری باندی چه د دغو مفرزو اعزام د حملی او د تعرض پمقصد به نه اجراء کېده - دغه ده چه دغه مفرزی او پرکونه به عموماً پر لسو لسو یا دولسو دولسو تنو سړیو مشتمل ؤ او لدغه شمېره به نه ؤ زیاد - او دغه خو ښکاره خبره ده چه د غومره یولنږ قوت هېچېری د جنګ لپاره نه لېږلی کېږی .

مثلا د هجرت پدوهم کالکښ عبدالله بن جحش رض سره له ۱۲ تنو د بطن نخلی پطرف سره له یوه سر تړلی لیك واستول شول څو دوی ورځی وروسته دهغه لیك سر خلاص کړی - کله چه دوه ورځی وروسته دوی هغه خط وپرانیت نو پهغه کښې دغسی الفاظ مرقوم ؤ :

« فسر حتی تنزل نخلة » = ترهغه پوری درومه څو (نخلی) ته ورسېږی

« بین مکة وطائف فترصد بها » = چه د مکی او طائف پمنځکښې واقع ده - پس وګوره هلته

« قریشا وتعلم من اخبارهم (۱) » = قریشو ته او د هغوی احوال ځانته راښکاره کړه !

ددغه انتظام پنتیجه کښې هر کله هرچا چه غوښت پر مدینی باندی پرغل راوړی نو فوراً مسلمانان خبرېدل : او د همغه متعرض پمدافعه کښې به ئی پر مخ تسک کاوه او اسلامی افواج به د متعرضینو په مخ کښې وتل - اکثریه نور سرایا به پهمدغه شان ؤ - څرنګه چه مونږ علی الاکثر د (سرایاؤ) ذکر تر اوسه پوری پرېښی دی ، نو ځکه د مثال پډول دلته مونږ څو (سریی) یا دوو - او د متقدمینو اهل السیر له تصریحاتو څخه دغه خبره ثابتوو چه دغو ټولو (سریاؤ) به د مدافعت پمقصد حرکت کاوه .

د غطفان سریه د هجرة په دوهم کال کښې

« ذلك انه بلغ رسول الله ص » = ددغی سریی سبب داؤ چه (حضرت ص) ته خبر ورسېده

« ان جمعا من بنی ثعلبة ومحارب » = چه د بنو ثعلبه او د محارب و د قبیلی یو فوج

« بذی امر قد تجمعوا پیریدون » = په (ذی امر) کښې پدغه مقصد سره راټول شوی دی

« ان یصیبوا من اطراف رسول الله ص » = چه پر (حضرت ص) باندی داړه وغورځوی .

« جمعهم رجل منهم . » = دغه فوج هغه سړی را ټول کړی .

« یقال له دعثور بن الحارث... (۲) » = چه (د عثور ځوی د حارث) نومېده .

د ابو سلمة سریه د هجرة په دوهم کالکښ

« ذلك بلغ رسول الله ص » = دغه سریه ځکه وخوځېده چه (حضرت ص) ته اطلاع

« ان طلحة و سلمة بنی خویلد قد سارا » = رسېدلی وه چه طلحه او سلمة ځامن د خویلد سره

« فی قومهما ومن اطاعهما یدعونهم . » = له خپلو اقوامو او تابعانو د حضرت نبوی جنګ ته

« الی حرب رسول الله ص (۳) » = خوځېدلی دی .

---

(۱) : د طبری ۱۲۷٤ مخ .

(۲) : د طبقات ۲۳ مخ .

(۳) : د (ابن سعد) (۳۵) مخ .

د عبدالله بن انیس سریه دابوسفیان بن خالد د قتل پقصد د هجرة پدریم کالکښ

« وذلك انه بلغ رسول الله ص ان سفیان » = د دغی سریی د تللو غرض داؤ چه (حضرت ص) ته خبر
« بن خالد فی ناس من قومه و غیرهم » = ور رسیدلی ؤ چه سفیان بن خالد خپله قبیله او نور
« قد جمع الجموع لرسول الله ص » = خلق د (حضرت ص) د جنګ لپاره راټولوی .

د ذات الرقاع غزوه د هجرت په پنځم کالکښ

« فاخبر اصحاب رسول الله ص » = یوه سړی اطلاع ورکړه چه انمار او ثعلبة او نور فوجونه
« ان انمار اوثعلبة قدجمعوالهم » = ټولوی څو پر مسلمانانو باندی داړه وغور ځوی .... نو ځکه
« الجموع ..... فمضی .... » = (حضرت ص) بالذات پخپله دغی مدافعی ته ووت .....

د دومة الجندل غزا د هجرة په پنځم کالکښ

« قالوابلغ رسول الله ص ان بدومة الجندل » = روایت بیانوی چه (حضرت ص) ته خبر راغی چه په
« جمعا کثیرا ... وانهم یریدون ان » = (دومة الجندل) کښ یولوی جمعیت سره راټول
« یدنوا من المدینة (١) » = شویدی او غواړی چه پرمدینه و لوېږی .

د مریسیع غزا د هجرة په پنځم کالکښ

« ان بنی المصطلق من خزاعة » = بنو مصطلق د خزاعه یوه پښه ده او دغه خلق د بنو
« وهم خلفاء بنی مدلج وکان راسهم » = مدلج حلیفان دی د دوی مشر او سردار حارث بن ابی
« وسیدهم الحارث بن ابی ضرار فسار » = ضرار ؤ ده سره له خپل قوم او عربی طرفدارانو
« فی قومه ومن قدرعلیه من العرب فدعاهم » = غوښت چه پر (حضرت ص) باندی تعرض وکوی او
« الی حرب رسول الله فاجابوه (٢) » = ټول خلق پدغه کار کښ لده سره ملګری ؤ .

د حضرت اسد الله الغالب علی بن ابیطالب رض سریه د « فدك » پجانب د هجرت په شپږم کالکښ

« بلغ رسول الله ص ان لهم جمعا » = (حضرت ص) ته دغه خبره څرګنده شوه چه په (فدك) کښ
« یریدون ان یمدوا یهود خیبر » = (بنوسعد) دخیبری جهودانو د مرستی لپاره فوجونه ټولوی .

د بشیر بن سعد رض سریه د هجرت په اوم کالکښ د شوال المکرم په شپږم

« بلغ رسول الله ص ان جمعا » = حضرت ص ته اطلاع ورسیده چه دغطفانیانو یو جمعیت پهغه
« من غطفان بالجناب قدواعدهم » = ځای کښ چه (جناب) نو مېږی سره ټول شویدی او عینیه
« عینیة بن حصن لیکون معهم » = بن حصن له هغوی سره وعده کړیده چه د هغوی پملګر توب به
« لیزحفوا الی رسول الله ص » = پر رسول الله ص حمله وکوی .

---

(١) : د (ابن سعد رح (٤٤) مخ .
(٢) : د (ابن سعد رح) ٤٥ مخ

د عمرو بن العاص سریه د (ذات السلاسل) پطرف دهجرت په اتم کالکښ (۱)

« بلغ رسول الله ص ان جمعا من قضاعة » = (حضرت ص) ته خبر ورسید چه د (قضاعة) یوه دله
« قد تجمعوا یریدون ان » = سره تو له شویده او اراده لری چه لحان ور نژدی کړی
« یدنوا من اطراف رسول الله ص . » = د رسول الله ص شاؤ خوانه د ډاری غورځولو پمقصد .

دقریشی تجارت په لیاره کښی مزاحمت

د (صحیح بخاری شریف) پحوا له مونږ پاس ولیکل پخوا لدهنه چه د مسلمانانو او د قریشو پمنځکښ جنګ واقع شی (ابوجهل) په کعبه شریفه کښ (حضرت معاذالا نصاری رض) ته ویلی ؤ :

« که تاسی محمد له مدینی څخه ونه شړی، نوتاسی به د کعبی شریفی ز یارة ونشی، کولای ! »

(حضرت معاذ رض) پجوابکښ ورته داسی وویل چه :

« که تاسی مو کعبی شریفی ته نه پرېږدی، چه را شو نو مونږ »

« ستاسی هغه تجارتی لیاره بند ووچه له (شام) سره ئی لری، (۲) »

(کعبه شریفه) د مسلمانانو یوخاص شی ؤ - لحکه هغه ذات چه د (کعبی شریفی) معمار او بانی ؤ مسلمانان د همغه ابراهیمی ع دین تابع او پیرو ؤ - خو سره له هغه هم (قریشو) عموما مسلمانان له حج او عمری څخه منع کړی ؤ - او ماسواء لدهنه بل کوم تدبیر او چاره نـه وه مو جوده چه د هغوی د تجارتی کاروان مخه ونیوله شی تر خو مشرکان مجبور شی او مسلمانانو ته اجازه ورکړی چه مسلمانان د (کعبی شریفی) یـه زیارة مشرف شی .

د (سرایاؤ) په ذکر کښ ډیر لحلی اهل السیر داسی لیکی چه

« یتعرض لعیر القریش » یعنی لدغه سببه فوج لیږلی شو یدی یا پخپله »

« (حضرت نبوی ص) تشریف وړی دی چه دقریشو کاروان ته په لیاره کښ څه »

« مزاحمت ور وړاندی کړی او دغه ټول اقدامات دهمدی لامله پعمل راغلی دی . »

لیکن څرنګه چه قریش تجارت ته په مسلح ډول وتل او لږ تر لږه د هغوی ټولنه به په سلواو دوو سوو تنو سړیو مشتمله وه ، نولحکه د همدغه مزاحمت پمنځکښ به کله نا کله مقابلی او مجادلی ته هم وار رسیده - اوهر کله چه قریش به مغلوب او پړه کېدل اوپه تپښته سره تلل نو مال التجارة بـه ئی د غنیمت پـه ول په لاس لویده نولحکه اهل السیرو اشتباها دغه واقعات پدغه اسلوب سره بیکلی دی چه ګواکی د قافلی لوټ او تالا کول اصلی مقصد ؤ .

د همدغه مزاحمت او تعرض په بناء (قریش) مجبور و کړل شول چه بالاخرد (حدیبیی) معاهده وتړی او له مسلمانانو سره روغه و کوی چه د همدغی معاهدی لـه مخی مسلمانان سره له څو مخصوصو ضوابطو و کولای شوای چه د (کـعبی شریفی) په زیارت مشرف شی!

---

(۱) : ذات السلاسل له (مدینی منوری) څخه اته منزلـه لری دی .

(۲) : لـه (مکی معظمی) څخه کومه لیاره چه د (شام) پـه طرف لحی هغه پر (مدینی منوری) بانـدی تېرېږی .

پر (قریشو) باندی د تجارتی جوپی له مزاحمت څخه دو مره اثر لوېده : کله چه (حضرت ابوذرالغفاری رض) په (مکی معظمی) کښ دخپل داسلام اعلان و کړ - او قریشو د ده په اذیت پسی خپلی پښی لوڅی کړی اوپه وهلو او ټکولو ئی لا سونه پوری کړل چه: « ولی مسلمان شوی ئی ؟ ژر شه ! له اسلامه واوړه ! » نو (حضرت عباس رض) قریشو ته داسی وویل چه:« د(ابوذرالغفاری رض) قبیله ستاسی دچوپی پر لیاره واقعه ده ، هغوی به ستاسی لدغه حرکت څخه سخت په قهر ېږی او دتګ او راتګ لیاره به پر تاسی تړی » - لکه چه دغه تدبیر مؤثر او کارګر ثابت شو او قریشو له وېری (حضرت ابوذرالغفاری رض) خوشی کړ - د (حدیبیی) دصلحی څخه وروسته کله چه دقریشو دغوښتنی سره سم د (حضرت محمدرسول الله ص) له حضوره جدیدالاسلام سړی له (مدینی منوری) څخه ېرته (مکی معظمی) ته واستول شول او هغوی بیا له (مکی معظمی) څخه وتښتېدل او د (شام) په لیاره کښ ګرد سره دېره شول اود قریشی تجارت لیاره ئی غیر مأمونه و ګرځوله ، نو قریشو پخپلی خوښی سره دغه خبره ومنله چه هر مسلمان د (مدینی منوری) تک ته مختار اوخپلواك دی او د قریشو له لوری پرهغه باندی نور هېڅ قید اومزاحمت نشته . اوبیا په بل کال کښ مسلمانانو ته اجازه ور کړه شوه چه د (بیت الله شریف) په زیارت هم مشرف شی - او وروسته له هغه بیا له سره مسلمانانو دقریشو پر قافلی باندی هېڅ تعرض نه دی کړی بلکه بالعکس دهغوی دحفاظت او بدرغی لپاره به اسلامی افواج هم مقرر ېدل (١) .

دامنیت او د انضباط قائمول

پاس مو ولیکل چه پخوا له اسلامه په عربستان کښ له سره په هېڅ ځای کښ هېڅکله امن او امان او اطمینان او انضباط نه ؤ قائم - ټول قبائل به در ګرده یو له بل سره جنګېدل - تردی چه د (اشهرالحرم) په تواریخو کښ به هم سره لاندی باندی او وړاندی او وروسته کول - او جنګ او جګړی ته به ئی راز راز حیلی اوپلمی جوړولی - تجارت او سوداګری ئی بېخی غیر مأمونه وه - دقوافلو تاراجول اوتالا کول عمومی رواج درلود لکه چه بدوانو تر ډېروکلو پوری په ارض الحجاز کښ دقوافلو تالا کول خپل موروثی حق ګاڼه .

(حضرت محمدرسول الله ص) دالله تعالی له جانبه په نبوت ځکه مبعوث شوی ؤ چه نه یو اځی په وعظ

(١) : دفتح الباری شرح صحیح بخاری شریف د (٨) جلد (٧٦١) مخ .

نصیحت پند بلکه پخپل مټ او لاسو نه سره هم نه یواځی په عربستان کښ بلکه په ټول جهان کښ [د توحید اعلان بیان ، او] امن او امان قائم کړی - ځکه چه [کفرا و ناحقه] قتل او وینی تویول او فتنه او فساد دالله تعالی په نزد زیاد ناپسنده او ډیر بدکار دی (۱) .

وَ اِذَا تَوَلّٰی سَعٰی فِی الْاَرْضِ لِیُفْسِدَ فِیْهَا وَ یُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ وَاللّٰهُ لَا یُحِبُّ الْفَسَادَ ○

او کله چه بیرته وګرځی [له تا نه ای محمده !] نو ګرندی ګرځی په ځمکه [د مدینی] کښی د پاره د دې چه فساد وکړی په ځمکه کښی او خراب ویجاړ کړی کښت او ساکښان [په سوځولو او وژلو سره حال دا چه الله نه خوښوی فساد [او معصیت]

مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ كَتَبْنَا عَلٰی بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ اَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَیْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ فِی الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِیْعًا ؕ وَمَنْ اَحْیَاهَا فَكَاَنَّمَآ اَحْیَا النَّاسَ جَمِیْعًا ؕ

په سبب د دې [قتل] ښکلی ؤ [حکم کړی ؤ] مونږ پر بنی اسرائیلو [اولاده د یعقوب] چه بیشکه شأن دا دی هر څوك چه و وژنی یو نفس بیله [عوض - بدل د] بل نفس نه [یا بې] له فساده په ځمکه کښ [چه په ملك کښی ئی فساد کړی وی] نو کواکی وژلی ئی دی خلق ټول ؛ او هر چا چه ژوندی کړ دغه [یو نفس چه سبب شی د ژوندون ئی] نو کواکی ژوندی کړی ئی دی خلق ټول ؛

اِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِیْنَ یُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَیَسْعَوْنَ فِی الْاَرْضِ فَسَادًا اَنْ یُّقَتَّلُوْٓا اَوْ یُصَلَّبُوْٓا اَوْ تُقَطَّعَ اَیْدِیْهِمْ وَاَرْجُلُهُمْ مِّنْ خِلَافٍ اَوْ یُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ ؕ ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْیٌ فِی الدُّنْیَا وَلَهُمْ فِی الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ عَظِیْمٌ ○

بیشکه همدا خبره ده چه جزا د هغو کسانو چه جنګ کوی د وی [دوستانو د] الله او د رسول د ده سره او سعی کوی [مندی وهی] د وی په ځمکه [په ملك] کښی لپاره د فساد [او بد امنی غورځولو] چه و دی وژلی شی یا دی په دار کړ شی یا دی پریکړل شی لاسونه د دوی او پښی د دوی سره مخالفی [یعنی ښی لاس او کینه پښه یا عکس د دې] یا دی وشړل شی له ځمکی [په حبس سره یا له هغه ځایه بل لری ځای ته] دا [مذکوره جزا] د غو [غلو] ته رسوائی ده په دنیا کښ او [شته] د غو [غلو] ته به آخرة کښ عذاب ډیر لوی .

(۱) : دغه آیت د (البقرة) د سورة په (۲۵) رکوع په (۲) جزء په قرآن مجید کښ راغلی دی او تفسیر ئی ځمو نږ په پښتو « فوائد موضح الفرقان » د کابل د ۱۳۲۳ کال چاپ په (۱۸۲) ؤ (۱۸۳) مخ کښ راغلی دی . او دوهم او دریم آیت د (المائدة) د سورة په (۵) رکوع د قرآن مجید په (٦) جزء کښ مسطور دی او تفسیر ئی د پاس پښتو « فوائد موضح الفرقان » په ٦٦٦ ؤ ٦٦٧ ؤ ٦٦٨ ؤ ٦٦٩ مخ کښ مرقوم دی .

سیرة النبی

(مؤلف : مرحوم شبلی نعمانی)
مترجم : برهان الدین کشککی

(دغزواتو اسباب او انواع)
(د امنیت او انضباط قائمول)

په احادیثو کښ راغلی دی کله چه (عدی رض بن حاتم) مشرف بالا سلام شو ، نو (حضرت محمد رسول الله ص) هغه ته دغسی ارشاد وفرمایه :

« الله تعالی به دغه کار پداسی شان سره پوره کوی چه یو تن اوښ والا به »

« له (صنعاء) څخه تر (حضرموت) پوری یواځی سفر کوی او له ده سره به »

« پرته له الله تعالی او د لیوانو چه ګډی ئی ونه داړی د بل هیڅا وېره نه وی . »

دغه د (ابوداؤد) الفاظ دی په صحیح بخاری شریف په [باب علامات النبوة] کښ داسی راغلی دی

« الله تعالی به دغه کار پداسی شان سره پوره کوی چه یوه »

« ښځه به له (قادسیی) څخه رهی کېږی او د (کعبی شریفی) زیارت »

« ته به راځی او دېته به پرته له الله تعالی د بل هیڅا وېره نه وی . »

(عدی رض) وائی چه د « ما پخپلو سترګو سره ولیده چه یوې ښځی له (قادسیی) څخه تر (مکی معظمی) پوری یواځی سفر وکړ او دی ته له هیڅ لوری هیڅ وېره او خوف نه ؤ »

د پر دغسی نور واقعات هم شته چه (اهل السیر) هغه په (سرایاؤ) کښ شمېری ، لیکن هغه یواځی د تجارت د آزاودی او د لیاری د حفاظت او د امنیت او د انضباط د قائمولو لپاره پعمل راغلی دی چه لاندی د هغو څو مثالونه بیا نېږی :

د زید بن حارثه سریه د هجرة په شپږم کال کښی

د هجرة په شپږم کالکښ (حضرت زید رض) سره د مال التجارة (شام) ته ورغی د بېرته راتګ پوفتکښ کله چه (وادی القری) ته نژدی شو نو د (بنو فزاره) سړی پری ولوېدل او په وهلو او ټکولو سره ئی تری ګرد تجارتی اموال واخېستل ، کله چه دغه اطلاع (حضرت محمد رسول الله ص) ته ورسېده ، نو د هغوی د تنبیه او تدارک لپاره لږ څه سړی وستول تر څو هغویته سزا او هیداد ورکړی (١) .

پهمدغه د هجرة په شپږم کالکښ لدغې پاس واقعی څخه پمخکښ څه وقت چه (حضرت دحیة الکلبی رض) د (حضرت محمد رسول الله ص) فرمان قیصر ته وړی ؤ او له (شام) څخه بېرته راته کله چه (حمی) ته ورسېد نو د (هنید) سره له څو ننه سړیو پری ولوېدل او د هغه ټول شیان او کالی او اسباب ئی تری وشکول او پرته د ده هغوز ړو کالیو چه پخان کښ ئی ؤ بل هیڅ شی ورته پرې نښودل (٢) چه د (حضرت ص) له حضوره د هغه تنبیه او د تدارک لپاره (حضرت زید بن حارثه رض) مقرر شو .

د دومة الجندل سریه د هجرت په څلورم کال کښی

د هجرة په څلورم کالکښ څه وقت چه (حضرت محمد رسول الله ص) ته خبر ورسېد چه په (دومة الجندل) کښ چه له (مدینی منوری) څخه د (شام) په جانب پنځلس منزله لرې واقع دی یو لوی جمعیت سره ټول شوی دی او تاجران او مسافران ربړوی ، نو د هغوی د تدارک او تنبیه لپاره پخپله

---

(١) : د (ابن سعد رح) د طبقات د غزاتو د مجلد (٦٥) مخ .

(٢) : د (ابن سعد رح) (٦٤) مخ .

(حضرت نبوی ص) تشریف یوړ ، خواشرار د (حضرت نبوی ص) له رسېدلو څخه لاپخوا له هغه ځایه تښتېدلی ؤ ، لیکن (حضرت محمد رسول الله ص) په (دومة الجندل) کښې خو ورځې قیام وفرمایه اود امنیت او انضباط دانتظام لپاره ئې دافواجو خومفرزې دهغه اطراف اونواحی اوشاؤ خوانه واستولې .

د « خبط » یاد سیف البحر سریه

دغه دلیاری ساتنه اودامنیت اوانضباط قیام بوالحی د مسلمانانو تاجرانو لپاره نه‌ؤ مخصوص ، بلکه د (حدیبیې) دروغی څخه وروسته د قریشی کفار و د کاروان حفاظت هم پهمدغه ډول سره کېده . دهجرة په‌اتم کالکښې څه وقت چه دقریشو تجارتی کاروان له (شام) څخه بیرته کرځېدلی‌ؤ د (جهینیه) دقبیلی له جانبه څه بی اطمینانی محسوسه شوه ، نو د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره د (حضرت عبیدة بن الجراح رض) په مشرتوب ددرو سوو تنو یو لښکر چه پهغو کښې (حضرت عمر بن الخطاب رض) هم شامل ؤ د (جهینیه) په جانب اعزام شول چه له (مدینی منوری) څخه دپنځو ورځو په مسافت واقع ده . مسلمانانو خپله دغه وظیفه پدغسی میړانی او اخلاص سره پایته ورسوله چه‌دخوراك لپاره بل کوم شی دوی نه دراودل نو پریوه‌یوه وچ کلك نهنګ باندی به ئې شپی او ورځی تېرولی (۱) په (صحیح مسلم شریف) کښې دغه واقعه په تفصیل سره مذکوره ده (۲) لیکن ددغې (سریې) غرض مختلفو راویانو په مختلفو ډولو سره بیان کړی دی . اصلی راوی (حضرت جابر رض) دی چه‌پدغه واقعه کښې بالذات شریك شوی ؤ . په یوه روایت کښې راغلی دی چه دغه (سریه) پدغه مقصد لېږلی شوی وه چه له (جهینیه) سره جنګ وکړی . د (مغازیو) په کتابو کښې هم همدغه سریه مذکوره‌ده . دنورو روایاتو الفاظو دغه دی :

« نتلقی عیر قریش = مونږ ددی لپاره تللی‌ؤ خو د قریشو له قافلی سره وګورو ! »

« نرصد عیر قریش = مونږ ددی لپاره تللی وو خو دقریشو دقافلی لپاره وګورو ! »

لدغو عباراتو څخه په عمومی صورت سره ځینی کسان داسی پوهېدلی دی چه ګواکی دوی د قریشو د قافلی دتلا کولو لپاره تللی ؤ - لیکن د غسی کښل دهغوی صریحه غلطی ده ځکه چه پدغه وقتکښې د (حدیبیې) مصالحت موجود ؤ - نوپدغه بناء دهغو الفاظو صافه معنی او حقیقی مطلب دغه دی چه د غه لښکر دقریش دقافلی دحفاظت لپاره تللی ؤ خوته (جهینیه) دلاس ورورولو مخه ونیسی .

د (حافظ ابن حجر رح) تحقیق هم همدغسی وائی (۳) .

دعربو دجسارت او دځغرد او دد اړه ماری دعاداتو دغه حال‌ؤ : اګر که‌هر ځلی هغویته خورا سختې سختې سزاوی او هیدادونه ورکول کېدل خو سره له هغه هغو په له خپلو هغو جرائمو څخه لاس نه اخېستو او ددوی سپین سترګی او جسارت تردغه اندازې پوری رسېدلی ؤ چه پر (غابه) باندی هم چه پخپله د (مدینی منورې) ارشو - څرځای او چراګاه وه هغوی داړه وغوړ ځوله .

غزوة الغابه د هجرة په شپږم کالکښې

دهجرة په څلورم کالکښې د (فزاره) د قبیلی په ځمکو کښې قحط اوسو کړه و لوېده . (حضرت محمد رسول الله ص) دنهایتی مهربانی او کرم له مخی دد غی قبیلی رئیس اومشر (عیینه بن حصن) ته‌اجازه

---

(۱) په (ابن سعد رح) کښې دمغازیو په جزء کښې د (خبط) سریه وګوری .

(۲) : وګوری : صحیح مسلم شریف باب اصابة میتة البحر - اوصحیح بخاری شریف باب غزوة سیف البحر

(۳) : وګوری . دفتح الباری شرح صحیح بخاری د (۸) جلد (٦١) ؤ (٦٢) مخ .

وفرمایله ترڅو په اسلامی حدودو کښ چه ماړوب اوسیراب اوتکه شنه ؤ خپل حیوانات څړته راولی ، لیکن دهجرة په شپږم کالکښ همدغه (عینیه) پو (غابه) باندی چه د (مدینی منوری) څړ ځای ؤ حمله وکوله او د (حضرت ص) شل اوښان ئی له خپله ځانه سره وتښتول . اود (حضرت ابو ذر) ځوی ئی چه ددغو اوښانو ساتونکی ؤ پشهادت ورساوه لکه چه ارباب السیر دغه واقعه په (غزوة الغابه) سره تعبیروی.

دعربو دټول ملک کوم مخالفت او دښمنی چه لهمسلمانانو سره نښتی وه او د (مکی معظمی) دفتحی ترورستنیو ورځو پوری کومو جنګونو چه پرله پسی له مسلمانانو سره جریان درلود . دهغو ګردو لویه وجهه همدغه ده چه دعربو دمعاش اودژوندانه لویه وسیله همدغه غلااو داړه ماری او وژل او تالا کول ؤ چه اسلام دهغو بیخی امحاء او ورك کول غوښتل نوبناء پردی له اسلام څخه بل کوم شی دعربو پهنزددهغوی دښمن اومخالف نهؤ او هغوی داسلام حیات د خپل ممات په منزله ګاڼه .

دبیخبری پحالتکښ دیو نا څاپی حمله کولو سبب

دعربو قبیلی دوه قسمه دی یوه هغه چه په کوم مخصوص ځای کښ په مستقل ډول سره بهئی هستو ګنه کوله . بله هغه چه په ګنږدیو اوخیمو کښ به اوسیدل اود کوم مخصوص ځای او مستقر خاوندان به نه ؤ. هر چیری چه اوبه او واښه بهئی تر نظر لاندی راتلل همغلته به ئی اړول . کله چه دهغه ځای واښه یااوبه خلاصیدی یا ورته دغسی کومه اطلاع رسیده چه په هغه بل ځای کښ ښه واښه یا اوبه شته نو لدغه ځایه به ئی کډه کوله او هلته به ئی اړول . دغسی قبائلو ته به ئی په عربو کښ (اصحاب الوبر) ویل . زیاد تره کوم قبائل به چه غدی اچولی یا داړی غور ځولی اوپه لوټ او تاراج سره به ئی خپلی شپی او ورځی تیرول همدغه شان قبائل ؤ .

ددغو قبائلو انتظام او انضباط ډیر سخت او مشکل کار ؤ . هر کله چه ددغسی قبائلو د تعزیر اوتنبیه لپاره افواج استول کیدل ، نودوی به پرغرو ختل او په درو کښ به پټیدل . او له سترګو څخه به هیسته تښتیدل . اوپه لاس به نه راتلل . نو بناء پردی کوم تعزیری افواج چه ددوی د تنبیه لپاره استول کیدل هغه به ددوی دغفلت پحالتکښ تلل تر څو هغوی په ګیر راشی اوچیری ونه تښتی .

داکثرو (سرایا ؤ) په بیان اهل السیر داسی لیکی چه :

« د (حضرت نبوی ص) له حضوره هغه ځای ته دغسی افواج اعزام شول چه دشپی »
« له مخی به ئی تګ کاوه اود بیخبری پحالتکښ بهئی هغه مطلوبه ځای ته »
« ځان رساوه اوپر غلیم به ئی حمله کوله او همغه قبیله به ئی تالا کوله »

داسی واقعات په ټولو کتابو کښ ډیر منقول دی ، اودهمدغو واقعاتو له کتلو څخه اروپائیانو دغسی یوخیال قائم کړی دی چه ګواکی اسلام پر خپل دښمن باندی داړه غورځول . او د هغوی مال او اسباب تالا کول اولوټول جائز درولی دی . اوپر همدغه بناء (مار ګیو لیوس) دغسی استدلال کړی دی :

« څرنګه چه تر ډیرو ورځو پوری به له مسلمانانو سره د معاش کومه وسیله نه وه نو ځکه »
« محمد [العیاذ بالله] دغسی یوه طریقه غوره کړی وه چه د بیخبری پحالتکښ یونا څاپه »
« پر قبائلو باندی حمله او پرغل ور وړ . او دهغوی مال او اسباب به ئی لوټ او تالا کاوه »

لیکن که زیاد تفحص وکړی شی ، اوله استقراء . تتبع . تحقیق او تدقیق څخه کار واخیست شی نودغه خبره له ورا ثابتیږی چه دغسی یونا څاپه او نابیره حمله به پرهغو اقوامو او قبائلو باندی پعمل راتله چه دهغوی په نسبت به دغسی احتمال موجود ؤ که چیری خبر دارشی نو دغرو نو پر څوکو باندی خیژی یا پا

کومه دره اوشو بله کښې ځانونه پټوی یابل چیری تښتی - لکه چه ډیر کله به همداسی پیښیده چه له اطلاع سره سم به هغوی سمدلاسه خپل ځانونه ګوښی کول - او له خپله ځایه به تښتیدل - مونږ د غسی قسم څو واقعاتو دلته نقلوو چه پدغو کښې بعضا پخپله (حضرت نبوی ص) هم تشریف وړی دی ، او په ځینو نورو کښې څه نوری مفرزی تللی دی :

د بنوسلیم غزا دهجرت په دریم کالکښ [د (ابن سعد رح) ٢٤ مخ]

« واغذالسیر ... فوجدهم » = دوی پډیر تلیوار اوګرندیتوب سره ورغلل مګر
« قد تفرقوا فی » = هغه خلق دخپلو چینو په لوری تللی ؤ اوګرد سره
« میاههم فرجع » = نیت اوپرک شوی ؤ نو ځکه دوی بیرته ستانه شول .

دذات الرقاع غزا دهجرت په څلرم کالکښ

« وهربت الاعراب الی رؤس الجبال » = او اعراب دغرونو څوکوته و تښتیدل .

دعکاشه رض سریه دهجرة په شپږم کالکښ

« وجه رسول الله ص عکاشه بن محصن » = (حضرت ص) متوجه کړ (عکاشه بن محصن رض)
« الی الغمر فی اربعین رجلا فخرج » = د (غمر) پجانب سره له څلویښتو سریو نو ووتل هغوی
« سریعا یغذ السیر .... فهربوا » = پډیر تلیوار او سرعت سره لیکن هغه خلق و تښیدل .

داسدالله الغالب حضرت علی بن ابیطالب سریه دبنی سعد پجانب دهجرت په شپږم کالکښ

« فبعث الیهم علی بن ابی طالب فی » = د (حضرت ص) له جانبه واستاوه شو (بنوسعد) ته علی بن
« مائة رجل فسار اللیل و کمن النهار » = ابیطالب سره له سلو تنو چه هغوی به په شپو کښې تلل او په
« حتی انتهی الی الهمج فاغارو علیهم » = ورځو کښې هوسا کیدل تر هغه پوری چه ورسیدل (همج)
« فاخذوا خمس مئة بعیر » = ته اوپر (بنوسعد) باندی حمله و کوله او پنځه سوه اوښان
« والفی شاة وهربت بنو سعد » = اودوه زره ګډی ئی تری و نیولی او (بنو سعد) له خپلو
« بالظعن » = ښځو سره و تښتیدل .

دبنو لحیان غزا دهجرة په شپږم کالکښ

« فسمعت بهم بنو لحیان » = کله چه دمسلمانانو له راتګه (بنو لحیان) واوریدل نو وتښتیدل
« فهربوا فی رؤس الجبال . » = پر څوکو د غرونو باندی .

دحضرت عمر بن الخطاب سریه د (تربه) په جانب دهجرة په اوم کالکښ

« فکان یسیر اللیل و یکمن النهار » = پس ؤدی چه تګ به ئی کاوه دشپی له مخی او هوسا کیده
« فاتی الخبر هوازن فهربوا » = دورځی له مخی پس کله چه ورسید خبر (هوازنو) ته نو ګرد
« وجاء عمر بن الخطاب » = سره وتښتیدل کله چه ورسید حضرت عمر بن الخطاب رض
« محالهم فلم یلق منهم احدا » = ددوی ځای اومینی ته نوونی نه موند لدوی څخه یوتن هم .

د کعب بن عمیر سریه دهجرت په اتم کال د ربیع الاول [سرطان] پمیاشتکښ

د دغی سریی واقعه دغه ده چه د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره څخه پنځلس تنه سړی د (شام) په جانب اعزام شول کله چه دوی (ذات الاطلاح) ته ورسیدل ، نوله یوه لوی جمعیت سره مخامخ شول - (اصحاب الاکرام رض) هغویته د اسلام پجانب دعوت ورکړ - مګر هغوی له اسلام

خخه انکار وکړ - او پر مسلمانانو باندی ئی په غیشو و پشتلو پیل وکړ - بالاخر مسلمانان هم پمدافعه مجبورشول - او تر هغه پوری ئی مدافعه کوله چه کرد سره شهیدان شول ما سواء له یوه اصحابی خخه چه ژوندی پاتی شو او دروغی واقعی خبرئی (حضرت سید البشر ص) ته ورساوه . (حضرت ص) غوښت چه له هغو متجاوزینو کفرو خخه انتقام او کسات واخلی لیکن هغه متجاوزین کرد سره تښتیدلی ؤ او له خپلو لحایو خخه بل چیری ثبت ؤ پرك شوی ؤ . (د ابن سعد رح) الفاظ یدغه مورد کښ دغه دی :

« وهم بالبعث الیهم » = (حضرت ص) اراده و فرمایه چه پرهغو باندی فوج

« فبلغه انهم قدساروا » = ولیږی خو خبرور ورسید چه هغوی کرد سره بل لحای ته

« الی موضع آخر » = تښتیدلی دی او پخپلو لحایو کښ نه دی پاتی .

د اسلام اشاعت

برسیره پر دغو اغراضو نور کوم سرایا چه لیږلی شوی دی د هغوی غرض او غایت داسلام اشاعت ؤ خو خرنګه چه په هغه مملکت کښ امن او امان نه ؤ - او ټول اسلامی دښمنان دعربستان په ټولو لحایو کښ دمسلمانانو پرخلاف دمخالفت اوروونه لګولی و او دمسلمانانو حیات اوژوندون ددغه ضد اوعناد او مخالفت لامله ترخطری اووبری لاندی ؤ - مجبوراً له یوه جانبه به ئی دغه (سرایا) د هغو دتعرض مخه ونیو له وله بل جانبه دهغوی د مسلمانولو اولیار ښوولو لپاره به زیار ایست او کار به ئی کاوه .

د بیر معونة سریه

دهجرت په دریم کال دصفر المظفر [اسد] په میاشتکښ

اویا تنه داسلام داعیان د (کلاب) دقبیلی پجانب دهمغی قبیلی درئیس او دمشر پدعوت د اسلام د اشاعة پمقصد واستول شول - خو (بئر معونة) سره نژدی د (ذکوان) او د (رعل) دقبائلو له لاسو ټول په شهادة ورسیدل [انالله وانااليه راجعون] او پوائی یوصحابی ژوندی پاتی شوی ؤ چه دغه خبرئی (مدینی منوری) ته ورساوه .

دمرثد غزا

دهجرة پدریم کال دصفر المظفر [اسد] پمیاشتکښ

د(عضل) او د (قارة) قبیلی دتعلیم او ارشاد لپاره د اسلامی د داعیانو غوښتنه وکوله اود (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره (عاصم - خبیب - مرثد بن ابی مرثد) او نور لس تنه اصحاب رض الله تعالی عنهم د دغه مقصد د انجام لپاره منتخب او اعزام شول - خو کله چه هغوی (رجیع) ته ورسیدل د (بنولحیان) قبیلی پر هغوی باندی حمله وکوله او ما سواء له یوه صحابی نور ټول ئی پشهادت ورسول - اګر که د (حضرت نبوی ص) له حضوره د (بنولحیان) د تعزیر او تنبیه لپاره یو لښکر اعزام شو . خو خرنګه چه (بنولحیان) دهغوی له حرکت خخه خبرشوی ؤ ، دلښکر له راتګه لاله پخوا وتښتیدل او اسلامی لښکر هغوی نشوای موندلای .

دابن ابي العوجاء سريه دهجرة په اوم کال کښې

د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره داسلامي داعيانويو پنځوس تنيز جمعيت چه دهغوی رئيس (ابن ابي العوجاء رض) ؤ د (بني سليم) قبيلي ته واستاوه دوی د (بني سليم) قبيلي ته د اسلام دعوت ورکړ ، ليکن (بنو سليم) داسلام له قبولـه انکار وکړ او پر دغه اسلامي جمعيت باندي د غېشو غځارونه وکول . مسلمانانو هم مجبوراً پمدافعې لاس پوري کړ - خو دپنځوسو تنو مسلمانانو زور پريوی قبيلې باندي چېري رسېدای شوای ، په پای کښې ماسواله (ابن ابي العوجاء رض) څخه چه ددغه اسلامي جمعيت مشر ؤ نور ټول پشهادت ورسېدل . [انالله و انااليه راجعون]

د کعب رض بن عمير سريه دهجرت په اتم کال دربيع الاول [سرطان] پمياشتکښې

د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره پنځلس تنه سړی د کعب بن عمير الغفاري (رض) پرياست د (ذات الاطلاح) پجانب داسلامي دعوة پمقصد اعزام شول . (ذات الاطلاح) د (شام) په حدود کښې د (وادي القرى) څخه هغې خواته واقع ده . دغه مبلغين هغويته اسلامي تبليغ وکړ - ليکن خپل جواب ئې په تورو اوغيشوسره واخېست اودغه اسلامي جمعيت هم کرد سره پشهادت ورسېد [انالله وانااليه راجعون] او يوائې يوصحابي ژوندی بېرته وګرځيد او دغه اطلاع ئې (مديني منوري) ته ورسوله .

بنا پر دی هرچېری چه کوم اسلامي جمعيت د اسلامي تبليغ او دعوت لپاره استاوه کېده نو دهغوی دحفاظت لپاره به خامخا څه لښکری قوه هم ملګر توب کاوه ليکن پدغه صورت کښې به دغه حکم به په تصريح سره همغه لښکری مشرته ورکاوه کېده چه ستاسو اساسي مقصود د اسلام اشاعت اوتبليغ دی او حق نه لرئ چه له چا سره بلا موجبه وجنګيږئ ! مثلا د (مکي معظمي) له فتحي څخه و روسته څه وقت چه د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره د (بنوجذيمه) پجانب (خالد رض بن وليد رض) ددېرشو تنو پرياست اعزام شوخو په صافو الفاظو سره دوی ته دغسي حکم ورکړ شو چه ستاسي دغه عزيمت دجنګ او جګړی لپاره نه دی بلکه يوائې داسلام دعوت مقصود دی . لکه چه (ابن سعد رح) پدغه مورد کښې داسي ليکي :

« بعثه الى بني جذيمة داعيا » = د (حضرت نبوی ص) له حضوره (خالدبن وليد رض)
« الى الاسلام ولم يبعثه » = د (بني جذيمة) پطرف د اسلامي دعوة لپاره
« مقاتلا (١) » = واستاوه شوه نه د جنګ او جګړی لپاره

علامه (طبري رح) پدغه موقع کښې داسي ليکي :

« قد كان رسول الله ص بعث فيما » = په تحقيق لېږلی ؤ (رسول الله ص) څو سرايا دمکي معظمي
« حول مكة السرايا تدعوا الى » = په شاؤ خوا کښې چه خلق دالله تعالى پطرف وبولي اوامرئي
« الله عزوجل ولم يامرهم بقتال . » = نه ؤ کړی پهغوی باندي چه له چا سره جنګ وکړی .

خوسره له دغه حکمه کله چه (حضرت محمد رسول الله ص) ته خبر ورسيد چه (حضرت خالدرض) له توري څخه کار اخېستی دی ، نو (حضرت نبوی ص) مخ په قبله ودرېد او دري ځلـی داسي ئې وفرمايل چه : « اي الها ! کوم کار چه خالد کړی دی ځه له هغه څخه بېزاره اوبری يم ! »

---

(١) دابن سعد ١٠٦ مخ

بیائی (حضرت علی المرتضی رض) مامور کړ څو ورشی او دهغو مقتولینو د ورثی استمالت و کوی اود ټولو دیت دې ور کړی - لکه چه د (خیبر فاتح) ورغی او د هغو کردو مقتو لینو دیت ئی ور کړ تر دې چه د جنګ دمړشویو حیواناتو او د سپیو قیمت ئی هم ور ورساوه اوبرسېره پرهغو نورڅه رقم هم ورعطاء کړ (۱) دغه واقعه د الفاظو په اختلاف سره داحادیثو په کتابو کښې هم مذکوره ده .

همداسی څه وقت چه د هجرت په لسم کالکښې (حضرت علی المرتضی رض) د(حضرت نبوی ص) له حضوره سره لهدرو سوو سپرو د (یمن) په طرف اعزام شو ، هغوی ته دغسی حکم ارشاد شو :

« فاذا نزلت بسا حتهم فلا » = کله چه ورسېدې اوراښکته شوې دهغوی په ملك کښې نومه جنګېږه

« تقاتلهم حتی یقاتلوك (۲) » = لههغوی سره ترهغه پوری څوهغوی له تاسو سره جنګ نه وی کړی .

پدغه سلسله کښې هغه سرایا هم داخل دی چه د (مکی معظمی) له فتحی څخه وروسته د بتانو د ماتولو لپاره د ملك په اطرافو او اکنافو کښې استولی شوی وې چه د هغه تفصیل دغه دی چه په ټول عربستان کښې پمختلفو قبائلو بېلی بېلی بتخانی او درمڅالونه او جلا جلا بتان ؤ . د (مکی معظمی) له فتحی څخه وروسته کله چه په عمومی ډول سره عربی قبائل په اسلام مشرف شول ، نو دبتانو عظمت اودجباریت اودبت پرستی دجاهلیت رسوم اوهغو پوری ورتړلی نورتو همات او تخیلات یوځلی له ځینو قبائلو څخه نشوای ور کېدای - پدغه وقتکښې اګر که هغوی د دغو بتانو عبادت نه کاوه ، خوبیا هم دبتانو هغه هیبت چه په میراث سره دوینه ورپاتی ؤ ، ددغی خبری قوة اوقدرة ئی په دوی کښې ورك کړی ؤ چه دغه د باطل مراکز پخپلو لاسوسره وران کړی . د جاهلانو په ماغزو کښې دغه خبره کلکه ناسته ؤ که چېری ددغو مقدسو تیږو یو بڅر کی هم پرځمکه ولوېږی نو آسمان به لوېږی یا ځمکه به چوی ، او د مصائبو اوبلیاتو یو لوی طوفان به پیدا کېږی .

طائفیانو پخپل بیعت کښې یوداسی شرط هم (حضرت نبوی ص) ته وروړاندی کړی ؤ چه د هغوی بتخانه دی تریوه کاله پوری ښائی ونه نړوله شی او نهئی بتان مات شی - ځینی نور جدید الاسلام قبائل به هم د خپلو بتانو په ماتولو کښې متردد او مذبذب ؤ - نوبناء پردی دغو ځایوته څو راسخ العقیده او صحیح الفهم مسلمانان استول کېده تر څو دغه وظیفه هغوی په ځای کړی - لکه چه دغه لاندنی سرایا ددغو راتلونکیو بتخانو د خراپولو لپاره استولی شوی ؤ :

د (خالد بن ولید رض) سریه د (عزی) بتخانی تخریب ته .
د (عمرو بن العاص رض) سریه د (سواع) بتخانی تخریب ته .
د (سعد بن زید اشهلی) سریه د (مناة) بتخانی تخریب ته .
د (ابوسفیان اومغیرة بن شیبة رض) سریه د (لات) بتخانی تخریب ته .
د (جریر رض) سریه د (ذی الخلصة) بتخانی تخریب ته . (۳)
د (طفیل بن عمر والدوسی رض) سریه د (ذی الکفین) بتخانی تخریب ته .
د (حضرت علی بن ابیطالب رض) سریه د (فلس) بتخانی تخریب ته . (٤)

---

(۱) : د طبری د تاریخ (۱٦٥) مخ .
(۲) : د ابن سعد د مغازی (۱۲۲) مخ .
(۳) : صحیح بخاری شریف غزوة ذی الخلصة .
(٤) : د دغه باب زیاد واقعات د ابن سعد د مغازیو له جزأ څخه مأخوذ دی .

جنګی اصلاحات

جنګ د انسانی افعالو د پره بده منظره ده . په عربو کښ خو جنګ د ظلم - توحش قساوة - سفاکی - بیدادی - سبعیت او وحشت یوه بده منظره اوخرابه نداره وه - لیکن د نبوة له اعجازه همدغه خراب څیز هم له ګردو نقائصو څخه صاف اوپاك شو او د انسانی دیوه مقدسی فریضی پشان و ګرځید .

په کوم ملک کښ کله چه له زړها ؤ کلو رائیسی ظلم او داره ماری په وراثت سرمیاتی وی نو په ابتداء کښ خورا ډیر مهذب اومنظم حکومت هم دځو ورځو له مخی همغه پخوانی اصول اوطرز العمل سرمخه مزاحمت نشی کولی چه همغه ته په طبی اصطلاح کښ علاج بالمثل و بلی شو - د اسلام په ابتداء کښی په ځینو جنګو کښ ځینی دغسی واقعات لیدل کیدل چه له پخوا رائیسی رائج ؤ - مثلا پجاهلیت کښ داسی دود - دستور رواج ؤ چه پر دښمن باندی یو ناڅاپه او نابیره حمله او یرغل ور وړی اوهغوی ووژنی اوبندیان ئی کړی . اسلام دغه طریقه له منځه ور که اولیري کړه - اګر که په ابتداء کښ پخپله مسلمانانو هم همداسی کول ، چه هغه یوالحی مقابله بالمثل ، ځکه چه کفارو به یو ناڅاپه اونابیره پر مسلمانانو یرغل اوحمله کوله اومسلمانان به یې وژل اومسلمانان به دهغو متعرضینو پمقابل کښ هیڅ نشوای کولای او که ئی کولای نو هغوی به لاله پخوا څخه خبر یدل اوچیرته به ئی خپل ځانونه پټول - یا به ئی دخپل حفاظت ترتیبات نیول - لیکن هغومره چه اسلام دزور اودقوة خاوند شو همغومره به هغه قدیمی طریقی له منځه ور کیدی ، ترڅو چه له یوې پسی به بلې خاتمه موندله .

له اسلام څخه پخوا دجنګ هغی موحشی طریقی او دوحشت اوسبعیت افعال چه وې اودهغه لنډ څه تفصیلات مونږ پاس په (٦٠٤) مخکښ ولیکل هغه بیا اوس دلته ترنظر لاندی ونیسی ! اودهغه پمقابل کښ وګوری چه په هغو کښ اسلام څه څه اصلاحات وکړل ؟ .

اسلام دغه خبره قطعا ممنوعه و در وله چه ښځی سپین ږیری - او ووړکی - صغیرالسن - کبیرالسن نو ګران او خاد مان په جنګو کښ ووژلی شی !

د (حضرت محمد رسول الله ص) دغسی عادة او دستورؤ څه وفت چه کوم ځای ته اسلامی افواج به ئی استول نو په هغو احکامو کښ چه اسلامی امیرانو ته به ئی ورکول یو لازمی حکم به دغسی هم ؤ (١) . په (ابو داؤد) کښ دهغه حکم الفاظ داسی مذکور دی :

« لا تقتلوا شیخا فانیا ولا طفلا » = په جنګو کښ مه وژنی تاسی سپین ږیری او سپین
« ولا صغیرا ولا امرأة » = سری او نه ووړکی او نه هلکان او نه ښځی .

هرکله چه پیغز واتو کښ د (حضرت نبوی ص) نظر د کومې مړې ښځی پرلاش باندی لو بده نو په ډیر شدة سره به ئی دښځو له وژلو څخه ممانعت فرمایه په صحیح مسلم شریف کښې ددغی موضوع پمتعلق متعدد احادیث مذکور دی . [او سمدلاسه به ئی حکم صادر اوه چه هغه مړی دی اغم لدینه چه ناپینه وی که ښځه خښ کړه شی؟]

---

(١) : صحیح مسلم شریف باب الجهاد .

سیرة النبی

له اسلامه پخوا داسی معمول ؤ هر کله چه چا خپل دښمن نیو، نو هغه به ئی کلک پر کوم شی باندی تاړه بیا به ئی په غیشو یا تو رو سره واژه دغسی وژلو ته په عربی کښ (صبر) وائی. د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره دغسی وژل بیخی ممنوع وګرځیدل.

یو ځلی (عبدالرحمن بن خالدبن ولیدرض) په کوم جنګ کښ څو تنه بندیان په پاس طریقې سره وژلی ؤ کله چه دهغه اطلاع (حضرت ابوایوب الانصاری رض) ته ورسیده نو وئې ویل چه: ماد (حضرت محمد رسول الله ص) له مبارکې خولې څخه اوریدلی دی چه هغوی له دغسی وژلو څخه ممانعت فرمایلی دی. خدایږو چه ځه نه غواړم چه کوم مرغه هم پدغه ډول ووژنم. او نه ئی جائز بولم.

(عبدالرحمن) پهغه وقت کښ د کفاری پډول څلورتنه مریان آزاد کړل (۱)

پجنګونو کښ د عهد او د پیمان هیڅ لحاظ او مراعات نه کید. لکه چه د (بئر معونة) پجنګ کښ او په نورو جنګو کښ کفارو همداسې خلاف العهد په جنګ لاسونه پوری کړل یعنی سره لدینه چه مسلمانان ئی په قول قسم - عهد او تړون سره بیولی ؤ خو خپلو کورو سره ئی پشهادت ورسول -

قرآن مجید پدغه آیة کښ همدغسی واقعاتو په طرف اشاره کوی (۲)

لَا يَرْقُبُوا فِيكُمْ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً يُرْضُونَكُمْ بِأَفْوَاهِهِمْ وَتَأْبَىٰ قُلُوبُهُمْ وَأَكْثَرُهُمْ فَاسِقُونَ ۝

نه کورلی [لحاظ نه کوی] دوی په باب ستاسی کښې [نه] قرابت [یا قسم] ته او نه عهد ته [او برید به درباندې وکړی هسی] راضی کوی دوی تاسی په [تشو خبرو د] خولو خپلو سره او منع کوی زړونه د دوی [له وفاء د وعدې] او اکثر د دوی فاسقان [وتونکی له فرمان] دی.

د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره سخت تاکید صادر شوی دی چه ښائی پر عهد او پیمان باندی خامخا سړی ټینګ ولاړوی او له سره دې تخلف تری ونکړی شی!. او په قرآن کریم کښ هم د ایفاء العهد په نسبت په څو ځایو کښې صافه ښکاره تاکیدی موکد احکام صادر شوی دی. د (حضرت نبوی ص) د زمانی اورا شده ؤ خلفاؤ د خلافت د زمانی د ایفاء العهد ډیر حیرت زیادوونکی مثالونه لیدل کیږی.

څه وقت چه (حضرت محمد رسول الله ص) مدینی منوری ته هجرت وکړ، نو ډیر اصحاب الکرام د ځینو مجبوریو له سببه ونشوای کولای چه (مدینی منوری) ته هجرة وکړی او همغلته په (مکی معظمی) کښ پاتی شول چه پدغو ذواتو کښ یو صحابی (حضرت حذیفة بن یمان رض) او دده پلار هم ؤ د (بدر) دغزوی پموقعکښ اتفاقا (حذیفة رض) او (یمان رض) دواړه له کوم ځای څخه راتلل - کفارو دوی دواړه ونیول چه: «تاسو خو (مدینی) ته ځی، او له هغه ځایه ځمونږ پخلاف توری په لاس راځی!» دغه پلار او ځوی کفارو ته داسی وویل چه: «مونږ یوا ځی د (مدینی) قصد لرو او نه غواړو چه له تاسو سره وجنګیږو». کفارو له هغوی ځنی پر دغه خبره باندی عهد او پیمان ونیوه او هغوی ئی خوشی کړل دوی دواړه په (بدر) کښ د (حضرت محمد رسول الله ص) پحضور مشرف شول او غوښتل ئی چه سره له نورو مجاهدینو د کفارو پر خلاف جهاد وکړی او د دارینو سعادت ځانته حاصل کړی، لیکن

---

(۱) دابو داؤد دد وهم جلد لسم مخ.

(۳): وګوری د سورة التوبه دو همه رکوع ځمونږ د پښتو فوائد موضح الفرقان (۱۱۲۲) مخ

د (حضرت نبوی ص) له حضوره هغوی له جهاده محروم شول چه : « تاسو خوله کفارو سره دعدم تعرض معاهده تړلی ده » .

(ابورافع رض) د قریشو له خوا د قاصد په ډول د (حضرت محمد رسول الله ص) پحضور حاضر شو او د (حضرت نبوی ص) دملاقات له اثره پاسلام سره مشرف شو اودغسی عرض ئی وکړ چه : « اوس مې زړه نه غواړی چه بیا کفارو ته ورشم » (حضرت ص) وفرمایل چه : « زه خو قاصد ئی او د قاصد ستنول خلاف العهد کار دی ښائی چه ته اوس بیرته ولاړ شی [او د هغوی دپیغام جواب یو سي] او بیا بیرته راشی ! » (١) .

د (حدیبیی) دروغی پو فتحکښ کله چه (حضرت ابو جندل رض) سره له ځنځیرو او ځولنو اسلامی لښکر ته راغی اود خپل دوجود هغه دا غونه او تپسونه ئی مسلمانانو ته ورښکاره کړل چه داسلام له سببه د کفارو له لاسه ئی وهل خوړلی ؤ اوغوښتنه ئی وکوله چه : « ما د قریشو له بنده راخلاص کړی چه دوی مې پر مسلمانی دغسی وهی ! » نو (حضرت ص) ور ته دغسی ارشاد وفرمایه چه : « اوس خوله قریشو سره مونږ دغسی یوه معاهده غوټه کړی ده که کوم مسلمان له (مکی) څخه په تښتنه سره (مدینی) ته راشی ښائی هغه دې قریشو ته بیرته وسپارلی شی » [نو ځکه نه اوس بیرته ورشه ! الله تعالی تاته اونورو مستضعفینو ته به دخلاصی او نجات کومه لیاره پیداکوی .] ددغی خبری د آورېدلو په اثر (ابوجندل رض) په ژړا شو اوله مسلمانانو سره په خبر و شو - ټول اسلامی لښکر درقت له جوشه سخت بیقراره شول او کرد سره واړ ځپدل - او نژدی ؤ چه له کفارو سره لاس پجنګ شی - (حضرت عمرالفاروق رض) تر دغه اندازی پوری مضطرب او بیقراره شو چه خو خو ځلی د (حضرت نبوی ص) پحضور مشرف شو اوله حرارته د کې خبری ئی وکولی - لیکن دعهد دایفاء قیمت لدغو کردو شیانو څخه زیاد ؤ - لکه چه (ابوجندل رض) همغسی له خپلو ځنځیرو او ځولنو سره بیرته ورغی .

له اسلام څخه پخوا د قاصدانو وژل نهؤ ممنوع - د (حد یبیی) له صلحی څخه پخوا څه وقت چه د (حضرت نبوی ص) قاصد قریشو ته ورغی ، نو قریشو دهغه قاصد د اوښ پښی پری کړی او غوښتل ئی چه قاصد هم ووژنی خو دباندی خلق پمنځکښ شول ، او قاصد ئی وژغوره .

د (حضرت محمدرسول الله ص) له حضوره دغسی امر صادر شوی دی چه : « نه ښائی قاصد دې ووژلی شی ! » څه وقت چه (مسیلمة الکذاب) د (حضرت نبوی ص) پحضور قاصد استولی ؤ او دغه قاصد د پر خلاف الادب خبری وکولی نو (حضرت ص) دغسی ارشاد وفرمایه چه : « د قاصد وژل ناروادی . که نه اوس به واړه کیدې ! » مؤرخین ددغی واقعی دلیکلو څخه وروسته داسی لیکی چه : « له هغی ورځی رائیسی دغه یوه عامه قاعده و ګرځیده چه هیڅوک قاصدنه وژنی . »

له جنګی بندیانو سره به عربو د پر بد سلوک او خورا خراپ وضعیت کاوه ، بر سیره پرعربو به نور وافوامو کښی هم همدغسی زړه خوږ ونکی طریقې او اوضاع جریان در لودا - د صلیبی به جنګو کښی څه وقت چه مسلمانان به د اروپائی سلطنتو په لاسو کښی بندیان کېدل نو له هغوی سره به ئی د حیوانانو په شان سلوک کاوه علامه (ابن جبیر رح) څه وقت چه د صلیبي جنګو پز مانه کښی له (سسلی) څخه تیریده نو د دغسو اوضاعو له لیدلو څخه سخت خپه او متأثر شوی ؤ لکه چه داسی لیکی :

(١) : دابوداؤد ددوهم جلد ٢٣ مخ .

«ومن الفجائع التی یعاینها من حل» = اوله جمله د هغو زړه خوږو نکیو فجائعو څخه چه پدغو
«بلا دهم اسری المسلمین یرسفون» = ښارو کښې په نظر راځی اسلامی بندیان دی چه په ځنځیرو
«فی القیود و یصرفون فی الخدمة» = او ځولنو کښې په شاقه ؤ خدماتو کښې بوخت اومصروف اوسی
«الشاقة و الا سیرات المسلمات» = او همداسی بندیانې مسلمانانی ښځی دی چه دهغوی په پنډیو
«کذا لك فی اسو قهن خلا خیل» = کښې داوسپنی کړی دی او په سختو کارو کښې لګولی شوی
«الحدید فتفطر لهم الا فئدة (۱)» = دی چه دهغوی ددغه بد وضعیت له لیدلو څخه زړونه چوی .

(حضرت محمد رسول الله ص) د جنګی اسیرانو په نسبت تاکیدی حکم صادر کړی ؤ چه ښائی دغو بندیانو ته هیڅ قسم ربړ او تکلیف ونه رساوه شی ! د (بدر) اسیران څه وقت چه پراصحاب الکرامو تقسیمیدل نو دغسی حکم ئی صادر کړ چه : «ښائی دغه بندیان پډیر ښه صورت سره وساتلی شی او خوراك او چښاك ته دې زیاده پاملرنه وشی! چه هیڅ یو تکلیف ورونه رسیږی ! »

لکه چه د دغه حکم پاساس پخپله اصحاب الکرامو به خرما خواړه او دغو بندیانو ته به ئی ډو ډی ور وړاندی کوله .

د (حنین) د بندیانو شمیر شپږو زرو تنو ته رسیده څه وقت چه هغوی د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره خوشی کړل شول نوهغویته شپږ زره جوړه مصری کالی ورعنایت کړل شول [چه وائی غوندی اوخپلو کورو ته پټ اوپیچلی ولاړشی] لکه چه (ابن سعد رح) دغه واقعه په تصریح سره ښکلی ده .

څه وقت چه د (حاتم طائی) لوراسیره شوه د (حضرت نبوی ص) پحضور کښې راغله نو (حضرت ص) پډیر عزت او حرمت سره ورته د مسجد په یوه ګوډ کښې ځای ورکړ ، او دغسی تسلی اوډاډینه ئی ورته ورکړه: « هر کله چه ستا د ښار کوم سړی راشی نو ځه به درته رخصت درکړم چه له هغه سره خپل کورته بیرته ولاړه شی» - لکه چه څو ورځی وروسته ددغی ښځې د زاد او راحلی سر رشته ئی وکوله او له یوه یمنی سړی سره ئی بیرته خپل ښارته واستوله ،

په قرآن مجید کښې چیری چه د مخصوصو بندګانو خاص اوصاف ذکر کیږی ، هلته د خاصو بندګانو اوصاف همدغسی بیانیږی .

وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا ۝ [بیشکه چه نیکوکاران] ورکوی طعام په مینه د الله [یا سره لدی چه دوی پخپله ورته ضرورت لری] مسکین ته او یتیم ته او بندی ته

پخوا په عربو کښې دغسی دستور اومعمول ؤ هر کله چه پر کوم ځای باندی حمله او یرغل کیده نو په څلوروخوا ؤ کښې چپ چاپیر لرې ځایو پوری افواج خپریدل او ټولی لیاری به بندیدی تر څو له یوه ځایه بل ځای ته او کورو او کلیو ته تګ او راتګ مشکل شی او دتلونکیو مال او اسباب به تالا کیده - دغې طریقې له ډیرو کلو رائیسی په عربو کښې جریان درلوده خوڅه وقت چه په یوې غزا کښې له ځینو سړیو څخه سم لدغه قدیمی دستور سره ځینی حرکات ولیدل شول نو د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره دغسی جار وغږاوه شو :

(۱) : رحلة ابن جبیر د لیډن د ۱۹۰۷ ع کال چاپ ۳۰۷ مخ .

«هرسړی چه دغسی حرکات کوی هغه د جهاد له ثواب څخه محرومیږی !»

په (ابو داؤد) کښ له (انس جهنی رض) څخه دغسی روایت شویدی (۱) :

«غزوت مع نبی الله ص غزوة کذا » = څه پدغه او هغه غزا کښ له (حضرت محمد رسول الله ص)
«و کذا فضیق الناس المنازل » = سره ملګری وم خلقو تنګی و کوله پمنزل ځایو کښ اولیاری ئی
«وقطعوا الطریق فبعث نبی الله » = وشکولی نو د نبی الله ص له حضوره جارچی مقرر شو ترڅو
«منادیا ینادی الناس من ضیق » = خلق پدی خبر داره کړی هرهغه څوك چه پر نورو منازل
«منزلا و قطع طریق فلا جهاد له » = تنګوی یالیاری شکوی د جهاد له ثوابه بی برخی دی .

په (ابو داؤد) کښ مرقوم دی کله چه (حضرت محمد رسول الله ص) خپلو اصحابو ته [په کومه غزا کښ) امر ور کړ چه :

« ګرد سره یو ځای اوسیږی ! او ئیسته رائیسته مه خپریږی ! »

نو اصحاب به دغسی سره یو ځای ښکته کیدل چه ګواکی دوی ټولو به خپل ځانونه تر یوه څادر ځای لاندی ځایول (۱) او له سره به یوله بل څخه نه جلا کیده .

له ګردو څخه لوی مشکل کار دغه ؤ چه دغنیمت له اموالو سره خلقو دغومره مینه او محبت درلود چه د اکثرو جنګو نو علت او سبب همدغه غنیمت کیده (حضرت محمد رسول الله ص) د هغه اصلاح په تدریج سره ورو ورو وفرمایله .

د جاهلیت په زمانه کښ خو غنیمت خورا یو محبوب او په زړه پوری یو نعمت ؤ د تعجب ځای دی چه په اسلام کښ هم تریوه وقته پوری خلقو غنیمت د ثواب وسیله ګڼله . په (ابو داؤد) کښ راغلی دی چه یوه سړی له (حضرت محمد رسول الله ص) څخه دغسی پوښتنه و کوله :

« رجل یرید الجهاد فی سبیل الله وهو » = یوسړی اراده لری چه د الله تعالی په لیاره کښ جهاد
« یبتغی عرضا من عرض الدنیا » = وکړی لیکن غواړی چه لنږ څه دنیوی فائده هم ځانته وګټی ؟
« فقال النبی ص لا اجر له فاعظم » = (حضرت ص) ارشاد وکړ چه دغسی سړی ته هیڅ اجر نشته
« ذلك الناس وقالوا للرجل » = دغه خبره خلقو ته عجیبه ورښکاره شوه اودغه سړی ته ئی
« عد لرسول الله ص فلعلك لم » = دغسی وویل چه ورځه ! بیاله حضرت ص څخه ښه پوښتنه و کوه
« تفهمه (۲) » = لکه چه ته ئی په مطلب باندی نه ئی پوه شوی .

څو څو ځلی خلقو هغه سړی د بیا پوښتنی کولو لپاره واستاوه او هغه به همغسی جواب راووړ ، خو د خلقو یقین به پری نه راته چه ګوندی (حضرت محمد رسول ص) به همغسی فرمایلی وی - کله چه (حضرت نبوی ص) دریم ځلی هم همدغسی وفرمایل چه « لا اجر له » یعنی دغه دنیوی طالب ته به هیڅ اجر نه رسیږی ، نو دلته خلق متیقن شول .

یو ځلی د (حضرت نبوی ص) له حضوره څو تنه (اصحاب الکرام رض) دیوی قبیلی د مقابلی لپاره واستول شول . ددغو له منځه یو سړی له صف څخه وړاندی ووت ، قبیله والا په ژړا او انګولا راغلل ، هغه دویته داسی وویل که تاسی « لا اله الا الله محمد رسول الله » ووایی ، نو نجات به مومی ! - د دغی

---

(۱) : د ابوداؤد د کتاب الجهاد داول جلد ۳٦ مخ .

(۲) : د ابوداؤد د اول جلد ۳٤۸ مخ .

قبیلی خلق مشرف بالاسلام شول ، او له تعرضه مأمون پاتی شول - د دوی پوه ملګری دغسی تنقیدو کاوه چه ستا له لاسه ځه له غنیمت څخه محروم شوم . په (ابو داؤد) کښ د دغه صحابی قول دغسی مذکور شوی دی .

« فلامنی اصحابی وقالو » = پس ملامتی را واړوله پرما باندی ځما ملګری
« احرمتنا الغنیمة (١) » = چه ستا له لاسه مونږ له غنیمته بی برخی شوو .

کله چه خلق راغلل او د هغه اصحابی په نسبت ئی شکایت وکړ نو (حضرت نبوی) د هغه تحسین وفرمایه او دغسی ارشاد ئی وکړ چه دهر یوه هغه سړی په بدل کښ چه [د کلمه ویلو په سبب ستاسو له لوری] خوشی کړی شوی دی تاسو ته دغو مره دغومره اجرونه او ثوابونه په برخه کیږی .

په (قرآن مجید) کښ د غنیمت په نسبت د « د نیوی متاع » لفظ استعمال شوی دی ، او د دنیا په طرف په انهماك او بیخی مصروفیدلو باندی خلق ملامت او کرم شوی دی .

د (احد) په غزا کښ کله چه پدغه سبب مسلمانانو ته ماتی او شکست ور وړاندی شو چه څو سړیو د کفارو له مقابلی څخه لاس واخیست او په غنیمت کښ مصروف شول نو دغه آیت نازل شو (٢) :

مِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الدُّنْيَا ځینی له تاسی هغه دی چه خوښوی دنیا [داژوندون لږ خسیس]
وَمِنْكُمْ مَّنْ يُّرِيْدُ الْاٰخِرَةَ او ځینی ستاسی هغه دی چه خوښوی آخرة ،

د (بدر) د غزا په تقریب کښ څه وقت چه ځینو . . . . . یا ځینو کسانو [د دینی مصالحو په بناء] خپل تمائل د نیوی منافعو ته ورښکاره کول نو دغه آیت نازل شو (٣) :

« یریدون عرض الدنیا » = اراده کوی . تاسو [ای مؤمنانو !] اسباب د دنیا [په اخیستلو
« والله یرید الاخرة » = د فدیی سره] اوالله اراد لری [تاسی ته د ثواب] د آخرة [په سبب
« والله عزیز » = د قتل د کفارو] اوالله ښه غالب قوی دی [پانفاذ د احکامو]
« حکیم » = ښه حکمت والا دی [چه هر کار پتدبیر او مصلحت سره کوی]

سره لدغو ټولو تصریحاتو اومکررو او مؤکدو تاکیداتو د (حنین) په غزا کښ چه دهجرت په اتم کالکښ واقع شوی دی ړومبی اسلامی لښکرو ته لدی سببه ماتی او شکست واقع شو چه خلق په غنائمو کښ بوخت او مشغول شو [اودښمن پرهغوی باندی په ویشتلو او تعرض کولو پیل وکړ (٤)]

« فاقبل المسلمون علی الغنائم » = مسلمانانو پر غنائمو باندی لاسونه و غځول او
« واستقبلونا باسهام » = کفارو پر مسلمانانو باندی په غیشو ویشتلو پیل وکړ .

---

(١) : (ابو داؤد) باب مایقول اذا اصبح کتاب ادب المفرد .
(٢) : د دغه آیت ترجمه او تفسیر ځمونږ په پښتو « فوائد موضح الفرقان » په (٤١٥) ؤ ٤١٦ مخ کښ وګوری ، ! چه د کابل په عمومی مطبعی په ١٣٢٣ ش کال کښ چاپ شوی دی
(٣) : چه تفسیر او ترجمه ئی ځمونږ دپاس پښتو (فوائد موضح الفرقان) له (١١٠٥) څخه نبولی (١١١٠) مخ پوری ښکلی شوی دی .
(٤) : وګوری ، ! به صحیح بخاری شریف کښ ذکر غزوة الحنین .

پرهمدغې بناء (حضرت محمد رسول الله ص) موقع پموقع وقتا فوقتا دغه مسئله په زیاده تصریح سره بیان فرمایلی ده .

یوسړی راغی او له حضرت نبوی څخه ئی پوښتنه وکوله : « که یو سړی دغنیمت لپاره - او یو سړی دخپل دنامه لپاره - او یوسړی دخپلی توری او مېړانی دښکاره کولو لپاره جهاد کوی ، د دوی له منځه د کوم یوه تن جهاد درب العباد پدر بار کښ مقبول او ممدوح دی ؟ »

(حضرت محمد رسول الله ص) دغسی ارشاد وفرمایه .

« من قاتل لتکون » = دهغه چا جهاد د الله تعالی په در بار کښ مقبول

« کلمة الله هی العلیاء » = دی چه د کلمة الله د اعلاء لپاره غزا کوی .

بالاخر (حضرت نبوی ص) ارشاد وفرمایه چه :

« مجاهد په هریوه مقصد چه جهاد کوی [خیردی] لیکن که مجاهد »

« دغنیمت مال هم قبلوی . نو دهغه دوه برخه ثواب نقصان مومی . اودپوره »

« ثواب خاوند هلته کېږی چه غنیمت ته له سره لاس ورنه وړی . »

په صحیح مسلم شریف کښ د (حضرت نبوی ص) خاص الفاظ دغه دی .

« مامن غازیة تغزوا فی سبیل الله » = هر هغه « غازی » چه د الله تعالی په لپاره کښ

« فیصیبون الغنیمت الا تعجلوا » = جنګېږی او د غنیمت مال هم آخلی نو ګواکی دا خروی

« ثلثی اجرهم من الاخرة ویبقی » = ثواب دوه ثلثه همدلته اخلی او په آخرت کښ

« لهم الثلث وان لم یصیبوا » = تش یو ثلث د ویته ور سېږی ! هو که د غنیمت مال

« غنیمة تم لهم اجرهم » = بېخی نه اخلی نو هغه ته پوره اخروی اجر ور سېږی

دغو تعلیماتو اثر داسی ښکاره شو هغه غنیمت چه [په عربستان کښ] له ګردو شیانو څخه محبوب ؤ بالاخر د (اصحاب الکرام رض) له سترګو څخه ولوېد ، او په جهاد کښ یوائی د « کلمة الله اعلاء » مقصود وګرځېد او د همدغه دینی کار لپاره مقصور شو .

لدغه لاندنی واقعې څخه دهغه اندازه په ښه ډول سره کېدای شی :

(واثلة رض بن الاسقع رض) یو صحابی ؤ - څه وقت چه (حضرت محمد رسول الله ص) د (تبوک) غزاته روانېده ، نوله (واثلة رض) سره د جهاد څه وسائل او سامان نه ؤ - (واثلة رض) پټوله (مدینه منوره) کښ وګرځېد ، او ګردو خلقو ته ئی دغسی وویل : « که څوک ماته د سورلی کوم حیوان را کړی پهغه غنیمت کښ چه ځما په لاس راشی هغه به هم راسره شریکېدای شی ! » یو انصاری (واثلة رض) ته هم سورلی ور کړه او د (واثلة رض) دخوراك او د آزوقی انتظام ئی هم وکړ . پدغې غزا کښ د (واثلة رض) په لاس کښ څو اوښان ولوېدل - (واثلة رض) دبېرته راتګ پوقتکښ هغه ټول اوښان دهمغه انصاری کره بوتلل او ورته ئی داسی وویل چه : »

« دغه ځما دغنائمو اوښان دی چه ته هم پهغو کښ سم له هغه ډومبنی شرط سره برخه لری ! »

هغه انصاری (واثلة) رض ته دغسی وویل :

« ای وروه ! دغه ټول اوښان دی ستاوی خه ئی نه آخلم ـ خما مقصد »

« له اشتراك څخه بل شیؤ یعنی په اوښانو او اموالو کښې مې اشتراك »

« نه غوښت بلکه ستا په اجر او ثواب کښې می شرکت مقصود ؤ (١) ! »

دجنګ پمنځکښې د دښمنانو داموالو او دجائدادو لوټول او تالا کول عمومی رواج درلود ـ خصوصاً پهغه وقتکښې چه محاربینو ته به د خوراك لپاره څه ضرورت ور پیښیده او د آزوقی کرد وسائل منقطع کیده نو دغه کار بیخی جائز او حلال ګڼلې کیده . دغه عرف او عادت د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضور بیخی ممنوع او نا جائز ودرید ، او دغه طریقه ئی بیخی ممنوع و ګرځوله .

په (ابو داؤد) کښې له یوه انصاری څخه روایة شوی دی چه : « یوځلی مونږ کومی غزوی ته تلو اود ډیری تنګسی اولوزی لامله په سختو مصائبو کښې آخته او مبتلاؤ ـ اتفاقاً ځمونږ په مخکښې دوزو یوه رمه راغله مونږ ټول هغواوزو پسی ولوېدو اوهغه مو په لوټ اوتالا کولو سره واخیستې کله چه دغه اطلاع (حضرت محمد رسول الله ص) ته ورسیده ، نو په موقع باندې ئی بالذات تشریف را وړ چه دهغو وزو غوښی پخیدی او په کټوو کښې ښوروا خوټیدې د (حضرت نبوی ص) په لاس کښې یو غیشی ؤ چه پهغه سره ئی هغه توله کټوو سره له ښوروا او غوښی ئیسته وغور ځوله او وئی فرمائل چه :

« د لوټ مال د مردارې غوښې په شان حرام دی (٢) »

جهاد لوی عبادت دی

د اسلام له جانبه « جهاد » چه ظاهراً [دهریا نوته] ښه نه ښکاری ، دغومره پاك او منزه دی چه جهاد له افضل العبادانو څخه دی ـ او دجهاد مقصدئی داسی مقرر کړچه مظلومان د ظالمانو له ظلمه نجات ومومی ـ اوظالمان پر کمزو رانو دظلم اوستم اوتیری لاس ونه غځوی .

أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ ۝

اذن ورکړشو [په جنګ کولو سره] هغو کسانو ته چه جنګ ورسره کاوه شی په سبب دې سره چه په تحقیق سره دوی مظلومان ؤاو په تحقیق سره الله په نصرة مدد کاری د مؤمنانو باندې خامخا ښه قادر دی.

« الذین اخرجوا من دیارهم » = [دغه مظلو مان مهاجران] هغه [کسان] دی چه ابستلی شوی دی

« بغیر حق الا ان » = له کورو خپلو په ناحقه سره [اوبل هیڅ سبب د اخراج نه ؤ مګردا]

« یقو لوا ربنا الله . (٣) » = چه ویل به دغو [مؤمنانو] چه رب ځمونږ [خالص یوالحی] الله دی .

---

(١) : ابو داؤد کتاب الجهاد دو هم جلد .

(٢) : ابو داود کتاب الجهاد دو هم جلد .

(٣) : ددغه آیة تفسیر ځمونږ دپښتو فوائد موضح الفرقان په ٢٠٩٠ ؤ ٢٠٩١ ؤ ٢٠٩٢ مخکښې وګوری.

جهاد پدغه مقصد اوغرض مشروع شوی دی چه فتنه اوفساد له منځه ورك کړشی او په ملك کښ امن اوامان قائم کړشی [ترڅو خلق الله په اطمینان او ډاډینه سره دخپل خالق په عبادت او پخپل معیشت کښ مشغول او مصروف شی] او بیخی فتنه او فساد له مملکت څخه لوې شی لکه چه پاك الله فرمائی (۱) :

وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ

او وجنګیږئ [ای مؤمنانو!] له دغو [کفارو] سره ترهغه پورې چه نشی پاتې فتنه [فساد په ځمکه کښی]

هغه کسان چه پرالله تعالی اوقیامت اوجزاء اونورو مؤمن به شیانو باندی معتقدان نه ؤ (دهغوی په نزد هرډول ظلم تیری اوستم روا اوجائزؤ - اوهغوی روا اوناروا پسی له سره نه ګرځیدل ، نو په «جهاد» سره دغسی کسان سره لاندی باندی کړل شول او مظلومین اوبی وځلی سړی د دوی د ظلم او تیری څخه وژغورل شول (۲)

فَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْآخِرِ وَلَا يُحَرِّمُونَ مَا حَرَّمَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَلَا يَدِينُونَ دِينَ الْحَقِّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حَتَّىٰ يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَن يَدٍ وَهُمْ صَاغِرُونَ ۝

وجنګیږئ تاسی له هغو کسانو سره چه نه راوړی ایمان پر الله اونه په ورځی آخرې باندې [ځکه چه ایمان ئی په محمد نه دی راوړی] اونه حرام کښی دوی هغه چه حرام کړی دی الله [په قرآن کښې] اورسول د دغه [الله په حدیث کښې] اونه قبلوی دوی دین حق [د اسلام ، دغه مذکورین] له هغو کسانو [دی] چه ورکړی شوی دی دویته کتاب [جنګ ورسره کوئ] ترهغه پورې چه ورکړی دوی جزیه له [خپله] لاسه حال دا چه دوی ذلیل وی.

په «جهاد» کښ فتح موندل اوپر ځمکه باندی له قبضه کولو څخه مقصد داسی نه دی تا کلی شوی چه فاتحان دې داموالو او د نعماؤ اوله حکومت چلولو څخه لطف امزې اومنافع واخلی - بلکه اصلی غرض تری دغه تا کلی شوی دی ترڅو فاتحان خلقو ته دعبادت او دریاضت او دفقراؤ دلاس اخیستلو لیار ښوونه او تلقین وکوی ! او دښو اقوالو او اعمالو ناشران او عاملان شی اوله بدو کارو څخه خلق ممنوع کړی اووئی ساتی (۳)

الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ ۝

[دغه مسلمانان] هغه کسان دی که چیری ځای [او اختیار] ورکړو مونږ دوی لره په ځمکه کښی نو قائموی [سم اداء کوی سره له تولو حقوقو] لمونځ او ورکوی زکوة او امر حکم به کوی دوی پر خلقو د نیکو کارو او منع کوی به دوی خلق له بدو کارو او خاص الله ته دی عاقبة آخر د تولو کارو.

(۱) : د دغه آیة تفسیر ځمونږ د پښتو فوائد موضح الفرقان په (۱۰۸۱) مخکښ وګوری !
(۲) : د دغه آیت تفسیر ځمونږ د فوائد موضح الفرقان په ۱۱٤۰ ؤ ۱۱٤۲ مخکښ دې وکوت شی !
(۳) : د دغه آیة ترجه او تفسیر ځمونږ د پښتو (فوائد موضح الفرقان) په (۲۰۹۳ ؤ ۲۰۹٤ مخکښ وګوری !

سیرة النبی

(د سیرة النبی اول جلد) (پرغزواتو د نظر تجدید) (۴۳۱) (جنګی اصلاحات) (جهادلوی عبادة دی)

مؤلف: مرحوم شبلی نعمانی مترجم: برهان الدین کشککی

عمومی دود او دستور دغسی دی هغه دولتونه او اموال چه د کوم ملك له نیولو څخه په لاس راځی هغه د فاتح مخصوص حق او برخه کیږی چه هغه دخپل عیش او عشرت په مصارفو کښی دی لګوی او دهغه فاتح وزراء امراء او درباریان تری درجه پدرجه مستفید کیږی، لیکن اسلامی شریعت د غنائمو مصرف داسی مقرر فرمائلی دی: (۱)

«واعلموا انما غنمتم ۲» = او پوه شی [ای مسلمانانو!] بیشکه هرهغه شی چه په غنیمته واخیست تا

«من شیء فان لله» = [له کفارو په غلبی سره] له پوه څیزه نو بیشکه الله لره دی [حکم کول په]

«خمسه وللرسول» = خمس دهغه [کښی] او [دغه خمس ثابت دی] لپاره د رسول [دالله]

«ولذی القربی والیتمی» = او لپاره د اخپلوانو [د رسول الله] او [لپاره د] یتیمانو

«والمسکین وابن السبیل» = او [لپاره د] مسکینانو [محتاجانو] او [لپاره د] مسافرانو

«جهاد» نه یواځی دحقیقت په لحاظ بلکه دصورة له حیثیة هم عبادة ودرولی شو، مجاهد ینوته تاکید شوی دی چه په عین الجهاد کښ ښائی دوی دالله تعالی په ذکر او فکر او یاد کښ دی مشغول او مصروف اوسیږی.

«یا یها الذین امنوا» = ای هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی یعنی ای مؤمنانو! کله چه

«اذا لقیتم فئة» = مخامخ شی تاسی له کوم فوج [د دښمن] سره [چه جنګ درسره کوی]

«فاثبتوا واذکروا» = نو ثابت قدم او سی تاسی [او مه تری تښتئی] او یادوی تاسی

«الله کثیرا لعلکم تفلحون» = الله ډیر [په خوله او په زړه] ښائی چه تاسی په مرادو رسیږی؟!

همغسی چه مونږ او تاسی مسلمانان په لمانځه کښ د ښکته کیدلو او پورته کیدلو پوفتکښ تکبیر او تسبیح یعنی «الله اکبر» او «سبحان ربی الاعلی» وایو، په «جهاد» کښ هم همداسی حکم صادر شوی ؤ. (حضرت جابر بن عبدالله رض) وائی کله به چه مونږ پر کومه لوړه باندی ختلو نو «الله اکبر» به موویل او کله به چه کومی ژوری ته راښکته کیدو، نو «سبحان الله» به موویل.

په «صحیح بخاری شریف» کښ روایت دی کله چه (حضرت محمد رسول الله ص) د «جهاد» پموقعکښ پر کومه لوړه باندی خوت، نو دری ځلی به ئی «الله اکبر» ویل.

یو ځلی (حضرت نبوی ص) چیری د «جهاد» بمقصد رهی ؤ (اصحاب الکرام رض) په ډیر زور او شور سره تهلیل او تکبیر وایه (حضرت ص) ارشاد وفرمایه چه:

«نه ښائی تاسی دغو مره شور ما شور و نښلوی، ځکه هغه ذات جامع الصفات چه»

«پذکر کښ ئی تاسی مشغول یی، هغه سمیع او بصیر او عالم السر والخفاء دی (۲)»

«عینا همداسی یو ځلی (حضرت عمر الفاروق رض) په لمانځه کښ د (حضرت نبوی ص)»

«له حضوره په چیغو چیغو سره د قرآن کریم له لوستلو څخه ممنوع کړ شو.»

---

(۱): د دغه آیت ترجمه او تفسیر ځمونږ دپښتو «فوائد موضح الفرقان» په (۱۰۸۳ ؤ (۱۰۸۴) مخ کښ وګوری، او لاندنی د همدغه تفسیر په ۱۰۸۸ مخ ولولی!

(۲): (صحیح بخاری شریف) کتاب الجهاد باب التکبیر عند الحرب.

نکته :- په (ابوداؤد) کښې له (حضرت عبدالله بن عمر رض) څخه روایة دی چه په «جهاد» کښې داسی دستور ؤ هر کله چه مجاهدین به پر اوړو ختل، نو تکبیر ونه به ئی ویل - او هر کله چه په کومه ژوره راښکته کېدل ، نو تسبیح به ئی ویل - لمونځ پر همدغه اصول باندی قائم کړی شوی دی (۲) یعنی دسر راپورته کولو پوقتکښې « الله اکبر » او د سر ښکته کولو پوقتکښې سبحاق الله وایه شی .

پدغه روایت کښې د مطلب په اداء کښې لږ څه فرق راغلی دی . یعنی د « جهاد » پر اصولو باندی لمونځ نه دی قائم کړی شوی ، بلکه بالعکس په « جهاد » کښې د لمانځه د طریقی لحاظ کړی شوی دی . ځکه چه دغه خبره خو ظاهره او ښکاره ده چه لمونځ د(اسلام) په ابتداء کښې فرض شوی دی - او د « جهاد » فرضیت وروسته له هجرت څخه قطعیت موندلی دی .

پهر حال لـدغه روایت څخه دغو مره خبره په قطعی ډول سره ثابتېږی چه په لمانځه او په « جهاد » کښې داسی یو مشابهت شته چه ښائی یوه ته اصل اوبل ته دهغه بدل ووایه شی .

العرض همغه جنګ چه [د جاهلیت پزمانه کښې] د هر ډول ظلم - تیری - جهالت - وحشت او سبعیت مجموعه وه د اسلام :ربانی تعلیم له اثره هغه د کلمة الله داعلاء - دامنیت او د انضباط د قیام - د مفاسدو د ارتفاع - د مظالمو د اندفاع - د مظلوم اعانت - د ظالمو د اهانت ، د حقانیت د نصرة او د عدالت د قوة لـو یـه وسیله او مهمه ذریعـه وګـرځید ، [فالحمدلله علی ذالك و الشکر له !]

د فاتح او پیغمبر پمنځ کښې امتیاز

اګر که د « جهاد » په ډګر کښې ځمو نږ د سردار او بادار (حضرت محمد رسول الله صلی الله تعالی علیه وسلم) په مبارك لاس کښې توره او ډال او پر سر به ئی خود او مغفر ؤ ، لیکن پهمدغه وقتکښې به هم د پیغمبر او سپهسالار فرق او تفاوت له وراد دوی په مبارك وجود کښې څرګنډېده .

په عین هغه وقتکښې چه جنګ پشدت سره نښتی دی - او ډګرئی توددی - د غېشو باران پډېر شدت سره اوری - د جنګ میدان د ډېرو وینو له بهېدلو څخه تك سور بریښی - او لاسونه او پښی سره داسی پری کېږی او لوېږي - لکه چه د خزان پموسم کښې ژېړی پاڼی له ونی څخه لوېږی - اود دښمن د افواجو سیلاو پرمخ تګ کوی په همدغه وقتکښې د (حضرت محمد رسول الله ص) د دعاء لاسونه د الله تعالی دربارته غځولی شوی دی .

---

(۲) : د ابو داؤد د مجتبائی ډیلی چاپ د اول جلد ۵۳۷ مخ کتاب الجهاد وګوری ، ! چه اصلی عبارت ئی دغه دی : « النبی صل الله علیه و علی آله وصحبه وسلم وجیوشه اذا علوا الثنایا کبروا واذا هبطوا سبحوا فوضعت الصلوة علی ذالك .

جنګ کوونکی د جنګ په ډګر کښې پډېر شدت او قوت سره جنګېږی - لیکن د (حضرت سید المرسلین ص) مبارك سر په سجده دی اوپډېر عجز اونیاز سره دبی نیاز خالق له در باره د اسلام فتحی او بری ته دعاء او زاری کوی .

د (بدر) په غزا (حضرت اسدالله الغالب علی بن ابیطالب رض) دری ځلی دجنګ دشدت پوقتکښې د (حضرت نبوی ص) د خبر اخېستلو پمقصد تشریف راوړ ، خوده هرځلی لېده چه هغه خپل مقدس وچویلی همغسی سر پسجده پر خاورو باندې اېښې دی او د خالق الافلاك پدربار کښې در کرده دعاء او زاری کوی اوداسلام فتح او بری غواړی .

د دښمن افواج پډېر شدت او کثرت سره غېشی ولی او د غېشو زور ورې ږلی له آسمانه ورېږی پدغه وقتکښې ځمونږ دغه بی سلاح فاتح صلی الله تعالی علیه وسلم له ځمکی څخه یو مټی شکی آخلی ، او د کفارو په لوری ئی شیندی د دغو شګوله برېښنا څخه یو ناڅاپه د کفارو دافواجو تکی توری وریځی سره لرې کېږی - او جنګی مطلع بېخی پاکه او صافه را برېښی اوجنګ دمسلمانانو په ګټه پای ته رسېږی.

په (حنین) کښې کفارو یو ناڅاپه پدغسی شدت او قوت سره پر اسلامی افواجو یرغل او حمله وکوله چه دټولو (۱۲۰۰۰) اسلامی افواجو پښی سره وښوئېدی - او د (حضرت محمد رسول الله ص) په شاؤ خوا کښې هېڅوك نه ښکارېده - او د مقابل له جانبه د لسو زرو غېشی ویشتونکیو دښمنانو افواج د« پرمخ ځاو » پر وضعیت راتلل اوغېشی ئی ویشتل - لیکن دغه دحق او حقانیت مرکز (ص) لکه یولوی غر پر خپل ځای باندی ټینګ کلك ولاړدی - او په یو هیبتناك او جلالی غږ سره داسی ناری وهی .

« انا النبی ولا کذب » = زه نبی الله یم اوپه خپلې دغې دعوی کښې بېخی رښتین یم !

په عین هغه وقتکښې چه د دواړو خواؤ افواج پډېر شدت او قوة سره پجنګ کښې سره لاس او ګریوان ؤ - اوله هرې خوا د تورو برېښناوه او د غېښوږلی وریدې لاسونه او پښی سره پر ېکېدی ، اوپر ځمکه لویدی اودمرګی راز راز نندا ری له هرخوا بر پښېدی اتفاقاد لمانځه وقت راغی - دفعتاً د لمانځه صفوف هم تړلی کېږی او د اسلامی فوج د سپهسالار په امامت سره نیمائی فوج د فرض د لمانځه نیمائی پجماعت سره اداء - او پاتی نیمائی ئی لـه خپلو ځانو سره اداء کوی - او د « رجز » پځای د « الله اکبر » غږونه پورته کېږی - د جوش - خروش - تهور - شجاعت - ځان جارولو - غیظ - غضب اودقهر پځای ، اوس ټول په عجز - نیاز - تضرع - زاری - خشوع - خضوع - خشیت او رقت سره دالله تعالی پعبادت کښې مشغولیت لری - اګر که د اسلامی افواجو مناصفه د لمانځه مناصفه پجماعت سره اداء کوی او بېرته خپل جنګی محاذ ته ځی - او هغه بل مناصفه ئی راځی او دغه بل مناصفه لمونځ اداء کوی - مګر پخپله سپهسالار او سیدالابرار (حضرت محمد رسول الله ص) چه اوس د حقیقی امامت په محراب او سجاده د حضرت رب البریه اجل شانه و اعظم برهانه پدربار کښې له او له تر آخره پوری په لمانځه په کامل او پوره حضور سره مصروف او مشغول دی .

دتعلیم او ارشاد- دتلقین او تهذیب- دتزکیی او تصفیی کار تل ترتل د(حضرت محمد رسول الله ص) په دربار کښی ادامه او جریان درلود- عین دفتحی په وقتکښی چه مجاهدین دفتوحاتو په خوښی او مسرت کښی مغروق ؤ - او دغنائمو اموال پرله پسی خرڅیدل - او هر یوه مجاهد په زرها ؤ روپۍ ګټی اخیستی یو صحابی دمسرت او خوښی په جوش کښی د (حضرت محمد رسول الله ص) په خدمت کښی تشرف مومی او داسی عرض کوی :

« یارسول الله ! تن می دغنائمو له امواله دومره منافع اخیستی دی چه هیڅکله می

« هغو مره مفاد نه ؤ اخیستی - پوره دری سوه اوقیه می په لاس راغلی دی »

[یوه اوقیه ځمو نږ دافغانستان دڅلویښتو افغانیویا د هندستان دلسو کلدارو سره مساوی ده]

(حضرت محمد رسول الله ص د دغه صحابی پجوابکښی دغسی ارشاد فرمائی چه :

« آیا زه لدینه هم زیاده ګټوره نفع درو ښیم ؟ »

هغه صحابی به ډیر شوق سره له(حضرت نبوی) څخه دغسی استفسار کوی چه :

« هغه به څه شی وی ؟ »

د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره دغسی ارشاد کیږی چه :

« وروسته دفرض له لمانځه څخه دوه رکعتونه (۱) ! »

تم المجلد الاول من « سیرة النبی »
بفضل الله العظیم الولی
بقلم برهان الدین الکشککی
علی النبی الصلوة و التحیة المتمادی
و ان شاء الله الکریم العلی
یلیها المجلد الثانی

کابل ٤ / ١١ / ١٣٢٦ ش ه سم له ٣٦٧ : ق ه کال ١٢ دربیع الاول

برهان الدین کشککی

(۱) ابو داؤد باب التجارة فی الغزوة .

(١) مقدمه د روایت فن ١ ــ ٦٥

مضامین	صفحات
د سیرة النبی د تألیف اهمیت او ضرورت	١
پر نورو انبیاؤ باندی د حضرت محمد ص فضیلت	٢
د سیرة النبی ضرورت له علمی حیثیته	٣
د سیرة النبی ضرورت د علم الکلام له حیثیته	٣
د سیرة تباین له علم الحدیث څخه	٤
د سیرة النبی خصوصیت	٥
د سیرة د فن ابتداء او تحریری پنګه	٧
د عربو تحریری پنګه او د عربی خط تاریخ	٨
په عربو کښې لیکونکی او د نبوی د زمانی تحریرات	٩
په عربو کښې د مغازیو تدوین او انضباط	١٠
د حدیثو آثارو تکذیب او تزئیف	١١
د حکومت له لوری تصنیف او تالیف ته اقدام	١١
د حضرت ام المؤمنین صدیقې بی بی عائشی رض دروایاتو تدوین	١٢
د احادیثو منظم تدوین او پر مغازیو توجه	١٢
په مغازیو کښې د امام زهری دو مبنی تصنیف	١٣
د امام زهری د شاګردانو د سیرة تصانیف	١٣
د موسی بن عقبة او د محمد بن اسحاق سیرت	١٤
د واقدی ـ د ابن هشام سیرت	١٥
د ابن سعد طبقات او منظوم مغازی	١٥
د سیرة مفقود کتابونه	١٦
د امام بخاری او امام طبری تواریخ	١٦
د سیرة او د مغازی د فن ارکان او معتمدین	١٧
د سیرة د متقدمینو علماؤ اسامی	١٧
له ١٧ نیولی تر ٢٢ مخ څخه نیولی تر	٢٨
د سیرة د متاخرینو علماؤ اسامی	٢٢
له ٢٢ مخ څخه نیولی تر	٢٣
د مأخذ صحت	٢٤
د اسلامی تاریخ دومبنی اصل روایت دی	٢٤
د اسماؤ الرجال تدوین	٢٥
او هغه کتابونه چه کتلی شوی دی .	٢٥
د درایت دقت په روایت کښې	٢٥
د تحقیق الروایت اصول په قرآن او حدیث کښې	٢٦
په روایاتو کښې د درایت ابتداء	٢٧
د محدثینو د درایت اصول	٢٨
د روات اصول	٢٩
د موضوعه ؤ احادیثو د پیژندلو اصول	٢٩
د سیرة پر کتابو باندی یوه عمیقه کتنه	٣٠
پر فن سیرت باندی تبصره	٣١
د سیرة د کتابونو امهات	٣١
د حدیث او د سیرة پکتابو کښې سره فرق	٣٢
د سیرة په فن کښې د محدثینو مسامحت	٣٢
له کتب الحدیث څخه د سیرة په تصانیفو کښې بی اعتنائی	٣٥
د سیرة د مصنفینو تدلیس	٣٥
د روایت له اصوله کار نه اخیستل	٣٦
د راویاتو د مراتبو اختلاف	٣٦
د کرد وصحابه ؤ د عدل بحث	٣٦
د واقعاتو پعلت او معلولیت کښې مجهولیت	٢٧

مضامین	صفحات
دواقعی پلحاظ د شهادة معیار نه قا ئمول	٣٧
دوړو کیو راویانو روایت	٣٨
په راویانو کښې دفقاهت شرط	٣٩
په روایاتو کښې قیاس خومره برخه لري؟	٤٠
دروایت پرفن باندې د خارجي اسبابو اثر	٤١
قیاس او درایت	٤٣
په صحابه ؤ کښې دوې ډلې	٤٤
محدثین او د حدیث درایت	٤٦
روایت بالمعنی	٤٩
احتیاط په روایت کښې	٥١
روایت الاحاد	٥٢
د نقدالحدیث داصولو دنتائجو خلاصه	٥٣
دیوروپینو تصنیفات دسیرة محمد ص پر موضوع	٥٤
داروپا بیخبری دحضرت ص له ابتدائی حالاتو څخه	٥٥
د عیسوی داولسم او اتلسم قرن تصنیفات	٥٦
دهغو کتابو نومونه چه دحضرت محمد ص	
پر سیرة ارو پائیانو لیکلی دی	٥٨
یوروپی مصنفین د سیرة محمد ص پر موضوع	
پردرو برخو تقسیم شوی دی	٥٩
دارو پا ئیانو تعصب او عناد له اسلام سره	٦٠
ولی اروپائیان داسلام په نسبت متعصب دی؟	٦١
د اروپائی مصنفینو مشترکه اصول داسلام په نسبت	٦٢
لحمونږ د دی تصنیف اصول او ترتیب	٦٣
لحمونږ ددغه تصنیف خصوصیت	٦٤
لحمونږ ددغه تصنیف استناد او حوالی	٦٤

(٢) : مقدمه : دعربو د قبل الاسلام تاریخ ٦٥ - ٨٠

مضامین	صفحات
عرب - او دعربو دتسمیی وجه	٦٥
دعربو جغرافیه	٦٥
دعربو دقدیمی تاریخ مأخذ	٦٦
دعربو اقوام او قبائل	٦٦
دعربو قدیمی حکومتونه	٦٨
دعربو پخوانی تهذیب او تمدن	٧١
دعربو قدیمی مذاهب	٧٣
دالله تعالی اعتقاد	٧٦
نصرانیت او یهودیت او مجوسیت	٧٧
حنفی مذهب	٧٨
آیا عربو پدغو مذاهبو کښې څه اصلاحات کړی دی؟	٨٠
اسماعیلی سلسله	٨١
حضرت اسماعیل ع چیری او سیده؟	٨٢
ذبیح څوك دی؟	٨٤
دقربانی لحای یامذبح چیری دی؟	٨٨
دقربانی یادګار	٨٩
دقربانی حقیقت	٩٢
مکه معظمه	٩٣
دکعبة الله تعمیر	٩٦
د حضرت اسماعیل علیه السلام قربانی	٩٨

(٣): د محمدی ص د نسب سلسله ١٠١-١٠٦

مضامین	صفحات	مضامین	صفحات
د نبوی د نسب د سلسلی تحقیق	(١٠٠)	عبدالمناف - هاشم	(١٠٤)
د قریشو کورنۍ	(١٠٢)	عبدالمطلب - عبدالله	(١٠٥)
قریش - قصی	(١٠٣)	بی بی آمنه بنت وهب	(١٠٦)

(٤): د محمدی ص قدسی ظهور ١٠٧-١٢٧

مضامین	صفحات	مضامین	صفحات
مولود المسعود المحمدیه	١٠٧	د کعبة الله الشریف تعمیر	١١٦
د حضرت محمد رسول الله (ص) د ولادة تاریخ	١٠٨	د حجر الاسود انتصاب د حضرت نبوی په لاس	١١٧
د حضرت محمد رسول الله (ص) رضاعت	١٠٩	د تجارت شغل	١١٨
بی بی حلیمه رض او حارث رض	١١٠	له بی بی خدیجی رض سره تزویج	١١٩
د مدینی سفر او د بی بی آمنی وفات	١١١	د حضرت نبوی د قبل النبوة متفرقه واقعات	١٢٠
د عبدالمطلب کفالت او وفات	١١١	د حضرت نبوی د قبل النبوة د سفر حدود	١٢١
د ابو طالب کفالت	١١٢	د شرکیه ؤ مراسمو څخه اجتناب	١٢٢
د حضرت نبوی شپونتوب	١١٢	له موحدینو سره ملاقات	١٢٣
د شام سفر او د بصری واقعات	١١٣	د قس بن ساعده پر قصی باندی تنقید	١٢٤
د بحیرا خبره	١١٤	د قبل النبوة جملی قصی او اشعار	١٢٥
د ارو پائیانو د غلطی ادعا تردید	١١٤	د حضرت نبوی د قبل النبوة خاص احباب	١٢٦
په حرب الفجار کښی شرکة	١١٥	د حضرت نبوی د قبل النبوة امانتداری	١٢٧

(٥): د محمدی رسالت د لمر طلوع ١٢٨-١٧٨

مضامین	صفحات	مضامین	صفحات
د جاهلیت له مراسمو او د لهو او لعب څخه د حضرت نبوی ص قطری اجتناب	١٢٨	د حراء په غار کښی د (حضرت نبوی ص) عبادة	١٢٩
		په حراء کښی د (حضرت نبوی ص) د عبادت نوعیت	١٣٩

مضامين	صفحات
پر (حضرت نبوی ص) باندی د صادقو ؤ	
رویاؤ سره د نبوت ابتداء	۱۳۰
د حضرت جبریل نزول پر (حضرت نبوی ص) باندی	۱۳۰
د قرآن کریم د ړومبنیو آیاتو نزول	۱۳۰
له دورقه بن نوفل سره د حضرت نبوی ص ملاقات	۱۳۱
د بعثت ړومبنی مراحل	۱۳۱
د وحی تعطیل	۱۳۱
دورقه تسکین د روایت د تنقید تردید	۱۳۲
د اسلامی دعوت ابتداء	۱۳۲
تر درو کلو پوری په پټه سره د اسلام دعوة	۱۳۲
د ړومبنیو مسلمانانو اسماء	۱۳۲
د حضرت ابوبکر الصدیق رض مسلمانېدل	۱۳۳
د صدیق اکبر د اسلام اثر پر قریشی معززینو	۱۳۳
ابتداً اسلام څرنګه شائع شو ؟	۱۳۳
(۱) : د حق پلټونکیو کسانو مسلمانېدل	۱۳٤
(۲) : د احنافو مسلمانېدل	۱۳٤
(۳) : د فقراؤ او غرباؤ مسلمانېدل	۱۳۵
د اسلامی دعوت اعلان .	۱۳٦
د قریشو په مقابل کښې د صفا پر غره اسلامی دعوت	۱۳٦
د حضرت نبوی (ص) ړومبنی تقریر	۱۳٦
د عبدالمطلب کورنۍ ته اسلامی دعوت	۱۳٦
د قریشو د مخالفت علل او اسباب	۱۳۷
د قریشو مذهبی سیادت اولوی مناصب	۱۳۸
د اسلام د مخالفت اول سبب د قدیمی رواج اعتیادؤ	۱۳۸
د اسلام د مخالفت دوهم سبب د قریشی عظمتؤ	۱۳۹
د اسلام د مخالفت دریم سبب	
د آسمانی کتابو تصدیق ؤ	۱٤۰
د اسلام د مخالفت څلورم سبب د قبائلو مخالفتؤ	۱٤۱
د اسلام د مخالفت د پنځم سبب د فضائلو تعمیم ؤ	۱٤۱
د اسلام لسانی جهاد د لویو مشرکانو پر خلاف	۱٤۲
د قریشو د تحمل اسباب د حضرت نبوی په مقابل کښې	۱٤۳
د کفارو شکایت ابوطالب ته د حضرت له لاسه	۱٤٤
د ابوطالب خطاب او د حضرت نبوی (ص) جواب	۱٤٤
د ابوطالب زړه سوی او ملګرتوب له حضرت (ص) سره	۱٤٤
د کفارو ایذا او اضرار سیدالابرار ته	۱٤٤
د عتبه غوښتنه د حضرت نبوی ص څخه	۱٤۵
د حضرت نبوی انکار د کفارو له امارته	۱٤۵
د حضرت نبوی ایثار او اصرار	
د اسلام په انتشار کښې	۱٤۵
د نبوة شپږم کال	۱٤٦
د حضرت امیر حمزه رض مسلمانېدل	۱٤٦
د حضرت عمر الفاروق رض مسلمانېدل له ۱٤۷ تر	۱٤۹
د مسلمانانو تعذیب او ربړول د کفارو له طرفه	۱۵۰
پر مسلمانانو باندی د کفارو راز راز ظلم او تېری	۱۵۱
اسلامی ربړ ګالونکی	۱۵۱
د حضرت خباب رض ابتلاء	۱۵۱
د حضرت بلال رض ابتلاء	۱۵۱
د حضرت عمار رض ابتلاء	۱۵۲
د حضرت صهیب رض ابتلاء	۱۵۲
د حضرت ابوفکیهه رض ابتلاء	۱۵۲
د حضرت بی بی لبنیه رض ابتلاء	۱۵۳
د حضرت بی بی زنیر رض ابتلاء	۱۵۳
د حضرت بی بی نهدیه رض ابتلاء	۱۵۳
د دغو مسلمانانو د ثبات او د استقلال تعریف	
د یوه نصرانی مؤرخ په قلم	۱۵٤
حبشی ته د اصحاب الکرام رض هجرت	۱۵٤

مضامین	صفحات	مضامین	صفحات
د حبشی د هجرت فوائد	١٥٥	د بی بی خدیجه رض او د ابوطالب وفات	١٦٥
د حبشی د مهاجرینو مبارك اسماء	١٥٥	د حضرت نبوی حزن اوخپگان	١٦٥
د قریشی سفارت ورتگ دحبشی دربارته	١٥٦	د کفارو اضرار او ایذاء	١٦٦
قریش دغه مهاجرین له نجاشی خخه غواړی	١٥٧	د حضرت عزیمت طائف ته	١٦٦
دحبشی تولواك دعوت اسلامی مهاجرینوته	١٥٧	د طائفا ثیانو بد وضعیت له حضرت(ص)سره	١٦٧
دحضرت جعفر طیار وینا دحبشستان په دربار کښ	١٥٧	له طائف خخه د حضرت(ص)معاودت	١٦٨
ددغه وینا اثر دحبشی بر نجاشی باندی	١٥٨	د مطعم بن عدی حمایت له حضرت(ص)خخه	١٦٨
د قریشی سفارت ناکامی	١٥٩	له قبائلو سره د حضرت(ص) ملاقات	١٦٨
د مهاجرینو په هوسائی سره ژوندون	١٥٩	د کفارو اضرار اوایذاء حضرت(ص)ته	١٧٠
داسلامی مهاجرینو وفاداری له نجاشی سره	١٥٩	مسلمانانوته د حضرت نبوی (ص) تسلی	١٧٢
دمار کیو لیوس د غلط گمان تردید	١٥٩	مدینه منوره اوانصار	١٧٣
له حبشی خخه د مهاجرینو معاودت	١٦٠	د مدینی اصلی نوم یثرب ؤ	١٧٣
دغرانیقو قصه	١٦٠	د انصار و اصلی وطن یمن ؤ	١٧٣
د غرانیقو خبره څرنگه خپره شوه؟	١٦١	دمدینی منوری لنډ تاریخ	١٧٤
د مکیانو ضرر او اذیت	١٦٢	دمدینی دتهذیب اثر پر انصار و	١٧٤
د حضرت ابوبکرالصدیق دمهاجرت قصد	١٦٢	له مدنیانو سره د حضرت(ص)دومبنی ملاقات	١٧٥
دنبوة اووم کال	١٦٣	داسلامی مبلغ اعزام مدینی ته	١٧٦
دمسلمانانو احصار د ابوطالب په شعب کښ	١٦٣	دبیعت العقبة ترون اودهغه وینا وې	١٧٧
دهشام عامری ـ زهیر ـ مطعم سعی		د انصاری ١٢ نقبا ؤ اسماء	١٧٧
د آل هاشم په خلاصی کښ	١٦٤	دمسلمانانو هجرت مدینی ته	١٧٨
د آل هاشم آزادی له محاصری خخه	١٦٤		

(٦) د هجرت اول کال ١٧٩ ـ ٢٠٠

مضامین	صفحات	مضامین	صفحات
حضرت ته دالله تعالی له جانبه د هجرت اجازة	١٧٩	د حضرت علی المرتضی رض ثبات	١٨٠
د کفارو اندیښنه داسلام له پرمخ تگه	١٧٩	د هجرت تیاری	١٨٠
د حضرت نبوی د قتل ترون	١٨٠	د حضرت ابوبکر رفاقت له حضرت(ص)سره	١٨٠
د حضرت نبوی د کور محاصره	١٨٠	په جبل الثور کښ توقف	١٨١

مضامین	صفحات
دکفارو تعاقب او دصدیق رض اندیښنه	۱۸۲
پرلحینو روایاتو باندی تنقید	۱۸۲
له جبل الثور څخه دمدینی پطرف حرکت	۱۸۲
دنبی ص او دصدیق رض تعقیب	۱۸۳
دسراقه بن جعشم واقعه	۱۸۳
دمدینی انتظار حضرت نبوی ص ته	۱۸٤
دموکب النبی استقبال په مدینه کښې	۱۸٤
مدینی ته مواصلت او په قباء کښې اقامت	۱۸۵
دحضرت علی رض راتګ مدینی ته	۱۸۵
دمسجد القباء تعمیر	۱۸۵
دقباء دنزول تاریخ	۱۸٦
له قباء څخه دمدینی ښارته حرکت	۱۸٦
دحضرت نبوی دمدینی خطبه او دجمعی لمونځ	۱۸٦
دانصارو دمسرت ترانه	۱۸۷
دحضرت اقامت ابوایوب الانصاری رض کره	۱۸۷
داهل البیت را بلل له مکی څخه مدینی ته	۱۸۸
دمسجد النبوی او دحجرو ودانی	۱۸۸
دمسجد او دحجری عمرانی وضعیت	۱۸۹
دآذان ابتداء	۱۹۰
اسلامی مؤاخات او دهغه تاثیرات	۱۹۱
دانصارو ایثار او دمهاجرینو کار	۱۹۲
دمهاجرینو تجارت	۱۹۳
داستاد اوشاګرد پیمانکښې دمذاق اتحاد	۱۹۵
دانصارو سخا او ایثار	۱۹٦
صفه او اصحاب الصفه	۱۹۷
دمدینی له جهودانو سره معاهده	۱۹۸
دهجرت داول کال متفرقه واقعات	۲۰۰

(۷) دهجرت دوهم کال ۲۰۱ ـ ۲۵۳

مضامین	صفحات
دقبلی تحویل د [داوی] په مباحثه کښې	۲۰۱
دقبلی د تحویل اسباب او عوامل	۲۰۲
دقبلی دتحویل بیان په قرآن کښې	۲۰۳
اصلی نیکی اوښکنه په څه شی کښې ده ؟	۲۰٤
دغزواتو دسلسلی شروع	۲۰۵
په مدینه کښې دامنیت او انضباط ضرورت	۲۰٦
دقریشو حربی انذار مدینی ته	۲۰٦
دمدینی درئیس المنافقین او دقریشو ترون	
اوبند وضعیت له مسلمانانو سره	۲۰۷
دمسلمانانو امتناع دمکی له زیارته	۲۰۸
دمدینی خوف دکفارو له تعرضه	۲۰۸
له مدینی څخه مدافعه اودجهاد اذن	۲۰۹
دسرایاؤ اعزام	۲۰۹
له جهینه او سره دعدم تعرض معاهده	۲۱۰
دبنو ضمرة او بنو مدلج سره دمؤدة معاهده	۲۱۱
دمدینی پرمواشیو باندی دقریشو دلمه	۲۱۱
دابن جحش اعزام بطن نخلی ته	۲۱۱
دعمرو بن الحضرمی دقتل واقعه	۲۱۲
دبدر غزا	۲۱۳
دبدر موقعیت ـ دبدر دغزوی موجبات	۲۱۳
دمدینی دتعرض لپاره دقریشو لوی تجهیزات	۲۱۳
دحضرت نبوی مشوره له اصحابو سره	۲۱٤
د«بدر» جهاد ته دمهاجرینو اودانصارو تیاری	۲۱۵
پر اوبو باندی دمسلمانانو قبضه	۲۱٦

مضامین	صفحات
پر قریشو باندی د حضرت نبوی ترحم	٢١٦
د حکیم عدالت او د ابو جهل شرارت	٢١٦
د کفارو تصمیم جنګ ته	٢١٧
د اسلامی لښکر ترتیب	٢١٧
مسلمانان بالخاصه نبی له الله څخه نصرت غواړی	٢١٧
د مسلمانان لوی ایثار	٢١٨
د کفارو مبارزین غوښتل او افتخار	٢١٨
د حضرت عبیدة شهادة او د جنګ شدت	٢١٩
د ابوجهل او د امیه مقتولیت	٢٢١
د قریشی غټانو له مقتولیة په کفارو کښې مغلوبیت	٢٢٣
له کفارو څخه د اویاتنو مقتولیت او د اویاتنو اسارت	٢٢٤
د مسلمانانو د مظفریت ظاهری عوامل او د کفارو د مغلوبیت معنوی اسباب	٢٢٢
د مړیو خښول	٢٢٤
له بندیانو سره ښه سلوك	٢٢٥
د بدر د بندیانو په نسبت د اصحابو مشوره	٢٢٦
د الله تعالی له عتاب څخه ویره	٢٢٦
د بدر له بندیانو څخه فدیه اخیستل	٢٢٧
د ابوالعاص د اموالو استرداد او مسلمانیدل ئی	٢٢٨
د بدر د غزا اثر پر مکیانو باندی	٢٢٩
د عمیر بد قصد او تشرف بالاسلام ئی	٢٣٠
د بدر د غزا بیان په عظیم الشان قرآن کښې	٢٣٠

(٨) د بدر پر غزا د نظر تجدید ٢٣٧ - ٣٥٣

مضامین	صفحات
د بدر د غزا پر موجباتو تبصره	٢٣٨
له قرآن مجید څخه استدلال	٢٣٨
له احادیثو څخه استدلال	٢٤٣
له قرائنو څخه استدلال	٢٤٥
او له دوهمه دریمه قرینه	٢٤٥
څلورمه قرینه	٢٤٦
پنځمه شپږمه قرینه	٢٤٧
اومه قرینه	٢٤٨
د بدر د غزا اصلی سبب	٢٤٨
یوه ضروری نکته یا حربی توریه	٢٥٠
د « بدر » د غزا نتائج	٢٥١
د سویق غزا	٢٥٢
د حضرة فاطمه الزهراء نکاح	٢٥٢
د هجرت د دوهم کال متفرقه واقعات	٢٥٣
د روژی فرضیت	٢٥٣
د عید د لمانځه وجوب	٢٥٣
د بنی قینقاع غزا	٢٥٣

(٩) د هجرت دریم کال ٢٥٤ - ٢٦٧

مضامین	صفحات
د احد غزا	٢٥٤
د احد د غزا پر موجباتو تبصره	٢٥٤
د قریشو سامانی او تجهیزات	٢٥٤
د قریشی ښځو اشتراك پجنګ کښې	٢٥٥
د حضرت عباس راپور مدینی ته	٢٥٥
د مسلمانانو تیاری مدافعی ته	٢٥٦
د حضرت نبوی مسلح کیدل	٢٥٦
د منافقانو د جمعیت جلاوالی	٢٥٦

مضامین	صفحات
د اسلامی لښکر تعداد	٢٥٦
د مسلمانو ځینکیانو شمول له مجاهدینو سره	٢٥٦
د دواړو خوا افواجو صف تړل	٢٥٧
د قریشي ښځو جنګی ترانه	٢٥٧
د جنګ شروع	٢٥٧
د حضرت امیر حمزه او حضرت علی وتل دجنګ ډګر ته	٢٥٨
د حضرت امیر حمزه رض شهادة	٢٥٨
د قریشو دبیر غدارانو مقتولیت	٢٥٩
د اسلامی غیشی ویشتونکیو له خپله ځایه خوځیدل	٢٥٩
د قریشو یرغل پرمسلمانانو دشاله خوا	٢٥٩
د یومسلمان مقتولیت دبل مسلمان له لاسه	٢٦٠
د حضرت نبوی دقتل دغلط افواه انتشار	٢٦٠
په اسلامی افواجو کښې بدنظمی اوبی ترتیبی	٢٦٠
د ځینو اصحابو فوق السعاده فدویت	٢٦٠
د حضرت نبوی مجروحیت	٢٦٠
د اصحابو دفاع له حضرت نبوی څخه	٢٦١
د یومشهور غازی استفسار او شهادة	٢٦١
د ابن قمیه غځار پرسیدالا بسرار	٢٦٢
پر حضرت نبوی باندی د کفارو شدید هجوم	٦٦٢
د حضرت ابوطلحه او حضرت سعدشدیده مدافعه	٢٦٢
د حضرت نبوی دعا د کفارو پحق کښې	٢٦٢
د کفارو پر بدو اوضاعو دحضرت نبوی تاسف	٢٦٢
دالله تعالی له درباره هدایت	٢٦٢
دحضرت نبوی سره له خواصحابو پرغره باندی ختل	٢٦٢
مدینی ته د نبوی دقتل غلط خبر رسیدل	٢٦٣
دحضرت فاطمة الزهراء رسیدل او د حضرت نبوی دجراحاتو وینځل او تړل	٢٦٣
د ابوسفیان او د حضرت عمرالفاروق رض سره سؤال وجواب	٢٦٣
ددوو مسلمانانو شهادت	٢٦٣
دهند بدوضعیت له امیرحمزه رض سره	٢٦٤
دمسلمانانو ښځو خدمات داحد پغزا کښې	٢٦٤
دحضرت بی بی صفیه ثبات او استقلال	٢٦٥
دیوې انصاریې فدویت او محبت	٢٦٥
داسلامی شهداؤ تعداد او د هغوی تجهیز	٢٦٥
پردغو شهداؤ باندی عمومی تحسر	٢٦٦
دقریشی افواجو تعاقب دمسلمانانو له خوا	٢٦٦
دابوسفیان دبیا یرغل کولو نیت	٢٦٦
داسلامی کنزمی « پرمخ ځو »	٢٦٧
دحضرت امیر حمزه رض غزا	٢٦٧
دهجرت ددریم کال متفرقه واقعات	٢٦٧
دحضرت امام حسن رض ولادة	٢٦٧
له حضرت بی بی حصفة رض نکاح	٢٦٧
له حضرت عثمان رض بن العفان نکاح	٢٦٧
له حضرت ام کلثوم رض سره	٢٦٧
دوراثت د احکامو نزول	٢٦٧
دمشرکانو دنکاح تحریم	٢٦٧

(١٠) د هجرة څلورم کال ٢٦٨ - ٢٧٢

مضامین	صفحات
دغزاتو اود سراياؤ اعزام	٢٦٨
دعربی قبائلو دښمنی له اسلامه سره او دهغوی حمله پرمدینه	٢٦٨
دسراياؤ د کثرت اسباب او عوامل	٢٦٨
دابن سلمة سریه	٢٦٩
دابن انیس سریه	٢٦٩

مضامین	صفحات
دبیر معونة فاجعه	٢٦٩
درجیع فاجعه	٢٧٠
دحضرت زید شهادة	٢٧١
دهجرت دخلورم کال متفرقه واقعات	٢٧٢
دحضرت امام حسین رض ولادة	٢٧٢
دحضرت زید بن ثابت دعبرانی ژبی زده کول	٢٧٢
دحضرت ام سلمة رض نکاح	٢٧٢
دجهودانو دیوه واقعه فیصله	٢٧٢
دلحینو په قول دشرابو دحرمت نزول	٢٧٢

(١١) له جهودانو معاهده او محاربه ٢٧٣-٢٨٥

د هجرت په دوهم او دریم او خلورم کال کښې

مضامین	صفحات
دجهودانو اخلاقی حالت	٢٧٣
دحضرت نبوی مراعات اومدارات له جهودانو سره	٢٧٥
دجهودانو نفرت له اسلام څخه	٢٧٧
د جهودانو شرارت	٣٧٨
دجهودانو اتحاد له قریشی کفارو سره	٢٧٨
دبنی قنیقاع غزا دهجرت په دوهم کال کښې	٢٧٩
د کعب بن اشرف یهودی قتل دمسلمانو له لاسه	٢٨٠
دبنی نضیر غزا دهجرت په خلورم کال کښې	٢٨٣

(١٢) د هجرة پنځم کال ٢٨٦ - ٣٠٩

مضامین	صفحات
دانمار اودثعلبه تیاری او بیا نهښته	٢٨٦
په دومة الجندل کښې د کفارو اجتماع	٢٨٦
د مریسیع یادبنی المصطلق غزا	٢٨٦
دمنافقانو شرارت او د حضرت نبوی مرحمت	٢٨٨
دحضرت بی بی جویریه رض واقعه	٢٨٩
دافك واقعه	٢٩٠
داحزاب یا د خندق غزا	٢٩١
د خندق کینودلو کار	٢٩٣
دحضرت نبوی اشتراك دخندق په کینودلو کښې	٢٩٣
دحضرت نبوی اود اصحاب الکرام لوږه	٢٩٣
داصحاب الکرام ترانه	٢٩٣
ددواړو خوا له جانبه دجنګی صفوفو ترتیب	٢٩٤
دبنو قریظه ؤ عهد ماتول	٢٩٤
دمنافقینو تښتنه له جنګ څخه	٢٩٥
تربوي میاشتې پورې دمدینی منوری محصوریت	٢٩٦
دانصارو مهرانه او استقلال	٢٩٦
دمهاجرینو عمومی حمله پرمدینی منوری باندی	٢٩٧
دحضرت علی رض مقابله له عمروبن ود سره	٢٩٧
دعمروبن وداود نوفل اود نورو کفارو مقتولیت	٢٩٨
دمسلمانانو دلمونځونو قضاء کیدل	٢٩٨
دبنو قریظه ؤ حمله پراسلامی مستوراتو	٢٩٩
دحضرت حسان معذوریت اود بی بی صفی شجاعت	٢٩٩
دحضرت نعیم بن مسعود الثقفی له تدبیره په کفارو کښې تفرقه	٢٩٩
زور ورطوفان اودمهاجرینو کفارو سخته اندیښنه	٢٩٩
دمهاجرینو کفارو بیرته ناکامه تلل	٣٠٠
دحضرت سعد بن معاذ دغسی مجروحیت چه تری پشهادت ورسید	٣٠١

مضامين	صفحات
دبنو قريظه ؤ خاتمه دموسوی شريعة باساس	٣٠١
دبنو قريظه ؤ دقتل داسباب تحقيق	٣٠٤
ديوی جهودنی زړورتوب	٣٠٥
دبی بی ريحانی رض واقعه	٣٠٥
له حضرت بی بی زينب سره نکاح	٣٠٦
دغلطو واقعاتو ترديد	٣٠٨
دهجرت د پنځم کال متفرقه واقعات	٣٠٩
دسترحکم ـ دمتبنی له ښځی سره د نکاح جواز	٣٠٩
دلعان اود ظهار او د تيمم احکام	٣٠٩

(١٣) د هجرت شپږم کال ٣١٠ - ٣٣٠

بيعة الرضوان ـ د حديبيی صلح ـ سلاطينوته اسلامی دعوة ـ حديبيه ـ کعبه شريفه

مضامين	صفحات
مکه معظمه	٣١٠
دعمری اراده	٣١١
دقريشی تياری دمسلمانانو دمخالفت لپاره	٣١١
دحضرت نبوی دصلحی پيغام کفاروته	٣١٢
دبديل اود عروه سفارت دحضرت نبوی پحضور	٣١٣
دحضرت ابوبکرالصديق رض اسلامی جوش	٣١٣
دحضرت مغيرة رض اخطار	٣١٣
دعروة تأثر اوتحير	٣١٣
دقريشو حمله اوغداری اودحضرت نبوی عفو	٣١٤
دحضرت عثمان رض اعزام په سفارت قريشوته	٣١٤
بيعت الرضوان	٣١٤
دقريشو له خوا دسهيل په سفارت راتګ	٣١٥
دروغليک پريو عبارت باندی منازعه	٣١٥
دروغی شرائط	٣١٦
دحضرت ابوجندل سره له ځنځير واوځولانو راتلل اسلامی معسکرته	٣١٧
دمسلمانانو تأثر دحديبيی له روغی څخه	٣١٧
دحضرت ابوبکرالصديق تسلی حضرت فاروق ته	٣١٨
دقربانی په اجراء کښ د اصحابو تعطل	٣١٨
دحضرت نبوی د قربانی اواحرام خلاصولو څخه وروسته داصحاب الکرام قربانی او تحليل	٣١٩
د « الفتح » دسورت نزول	٣١٩
دحديبيی دروغی مصالح	٣١٩
دمؤمناتو ښځو عدم الاسترداد کفاروته	٣٢٠
دجديدالاسلامو داستردادو لغو بدل	٣٢٠
سلاطينوته اسلامی دعوت	٣٢١
داسلامی سفراء اسماء	٣٢٢
دقيصر روم « هرقل » په نامه محمدی فرمان	٣٢٢
دابوسفيان مکالمه له قيصر سره	٣٢٣
پر قيصر باندی داسلامی دين اثر	٣٢٤
دمحمدی فرمان مضمون درومی امپراتور په نامه	٣٢٥
درومی درباريانو او مشرانو خپګان	٣٢٥
دپارسی خسرو « پرويز » په نامه محمدی فرمن	٣٢٥
دمحمدی فرمان مضمون دپارسی امپراتور په نامه	٣٢٦
د خسرو پرويز په قهر کېدل او دهغه انجام	٣٢٧
دمحمدی فرمان اثر دحبشی پر ټولواک	٣٢٧
دنجاشی تشرف بالا سلام	٣٢٨
د حضرت ام حبيبه رض سره نکاح	٣٢٨
د محمدی فرمان اثر د مصر پر ټولواک	٣٢٨

مضامین	صفحات	مضامین	صفحات
د عزیز مصر تحائف	٣٢٩	دهجرت د شپږم کال متفرقه واقعات	٣٣٠
دمحمدی فرامینو اثر بر عربی قبائلو	٣٢٩	د حضرت خالد بن ولید او د عمرو	
دغسانی رئیس په قهر بدل او جنګ ته تیار بدل	٣٣٠	بن العاص تشرف بالاسلام	٣٣٠

(١٤) د هجرة ٧ کال ٣٣١ - ٣٥٢

د خیبر فتح — د عمرة القضاء اداء

مضامین	صفحات	مضامین	صفحات
خیبر - او د خیبر د غزا علل او اسباب	٣٣١	دمرحب قتل دحضرت علی په توره	٣٤١
دجهودانو د عنادتدابیر داسلام پرخلاف	٣٣١	د خیبر فتح	٣٤١
دجهودانو ترون له منافقینو او کفارو سره	٣٣٣	دخیبر فتح اوبیرته ئی خوشی کول جهودانو ته	٣٤٢
دمسلمانانو پرمواشیو باندی داره	٣٣٤	د غنائمو تقسیم	٣٤٢
د خیبر دغزا لپاره مخصوص اهتمام	٣٣٥	د حضرت بی بی صفیه په نسبت تحقیق	٣٤٢
دمدینی منوری څخه دخیبر پطرف عزیمت	٣٣٦	د مقتولینو له ورثی سره ښه سلوك	٣٤٤
علم النبوی - او د مجاهدینو جنډای	٣٣٦	دحضرت نبوی په طعام کښی دجهودانو زهرا چول	٣٤٥
داصحاب الکرامو جنګی ترانه	٣٣٦	د جهودانو مضرت او شیطنت	٣٤٥
دمؤمناتو ښځو ملګرتوب له مجاهدینو سره	٣٣٧	د جهودی مشرانو دسزا په نسبت تحقیق	٣٤٦
دغطفانیانو اوخیبریانو پمنځکښی لښکری مانع	٣٣٨	په اشهرالحرم کښی د جهاد مسئله	٣٤٧
دخیبر جنګی کلاوی او جنګی ترتیبات	٣٣٨	د خیبر د غنمو تقسیم	٣٤٩
د اصحاب الکرام نزول پخیبر کښی	٣٣٨	دخیبر دغنائمو تقسیم پر (١٨٠٠) برخو	٣٤٩
د جهودانو مخالفت اوعدم اطاعت	٣٣٩	ملکی حالت او فقهی احکام	٣٥٠
پرخیبریانو باندی دتعرض حکم صادر بدل	٣٣٩	وادی القری او فدك	٣٥٠
داصحاب الکرام عدم موفقیت اودمحاصری طوالت	٣٣٩	د عمرة القضاء اداء	٣٥١
د خیبر فاتح به څوك کیږی ؟	٣٤٠		

(١٥) د هجرة ٨ کال ٣٥٢ - ٤٧٩

دموته غزا - دمکی معظمی فتح - دحنین - اوطاس طائف غزا

مضامین	صفحات	مضامین	صفحات
د موته غزاته ددرو زرو مجاهدینو حرکت	٣٥٣	د حضرت خالد بن ولید امارت	٣٥٤
دحضرات زید رض - جعفر طیار رض		داسلامی لښکر و پرهزیمت دمسلمانانو حسرت	٣٥٤
اوعبدالله بن رواحه رض شهادت	٣٥٤	دحضرت جعفرطیار رض اونورو شهداؤ مصیبت	٣٥٥

مضامین	صفحات
دمکی معظمی دفتحی اراده	٣٥٥
دبنو بکرو حمله پر بنو خزاعه باندی	
دخزاعه استنصار له مسلما نانو څخه	٣٥٥
دقریشو روغه او مصالحه غوښتل	٣٥٦
دابو سفیان سفارت دقریشو له خوا	٣٥٧
د حضرت حاطب بن بلتعه خطاء	٣٥٧
داسلامی افواجو حرکت مکی معظمی ته	٣٥٨
دقریشو په کزمی کښې د ابو سفیان راوتل	
او دمسلمانانو په لاس کښې ئې کیوتل	٣٥٨
دابو سفیان مسلما نېدل	٣٥٩
دنبوی د موکب نظاره	٣٥٩
دکفارو وېرېدل	٣٥٩
داسلامی افواجو په مکی معظمی کښې ننوتل	٣٥٩
قریشوته درسول الله ص لهخوا امان ورکول	٣٥٩
دمکیانو تعرض او دخالد مدافعه	٣٦٠
درسول الله اقامت په خیف کښې	٣٦٠
دکعبی شریفی تطهیر	٣٦٠
دمکی معظمی دفتحی خطبه	
دعدل اومساواتاو نورو ښو اخلاقو توصیه	٣٦١
دنبوی دخطبی اصولی مطالب	٣٦٢
پرقریشو عمومی عفو	٣٦٢
له مکیانو سره ښه وضعیت	٣٦٣
پرمکیانو دمهاجرینو ایثار	٣٦٣
دمکیانو خپګان او انضجار	٣٦٣
دمکیانو بیعت	٣٦٤
پرلویو اشقیاؤ دحضرت مرحمت	٣٦٤
د هند مسلمانیدل او مکالمه	٣٦٤
دصفوان - ابن زبعری او عکرمه مسلما نیدل	٣٦٤
ددرو خونی مجرمانو مقتولیت	٣٦٥
ددولسو مجرمانو دقتل داعلان تحقیق	٣٦٥
پرټولو مجرمانو دحضرت شفقت	٣٦٦
دمحترم حرم خزائن	٣٦٧

مضامین	صفحات
دبتانو ماتول	٣٦٧
دمکی معظمی دفتحی اثر پر عربو	٣٦٨
دحنین غزا او د طائف	٣٦٩
دهوازن او دثقیف اجتماع	٣٦٩
ددرید تعبیه اومکالمه	٢٧٠
داین ابی‌جدرو اعزام دحالاتو دتحقیق نه‌پاره	٣٧١
دجنګی لوازمو لپاره دمسلمانانو پور کول	٣٧١
دغرو په درو کښې دمتعرضینو پټېدل	٣٧١
دحنین په طرف داسلامی لښکر حرکت	٣٧١
دمتعرضینو له پټونی څخه عمومی کزار	٣٧٢
داسلامی لښکر انتشار	٣٧٢
داسلامی لښکر دفرار اسباب	٣٧٣
دحضرت ص نبوی ثبات	٣٧٣
داسلامی افواجو مکرره مدافعه	٣٧٣
د متعرضینو ماته اوفرار او طاس ته	٣٧٤
ددرید قتل —	٣٧٤
دجنګی اسیرانو شمیر	٣٧٤
دحضرت بی بی شیماء رض دحضرت ص مرحمت	٣٧٥
دطائف تحکیم او محاصره	٣٧٥
پهطائف کښې دمنجیق او کلاماتو و نیکو	
آلاتو استعمال	٢٧٥
له طائف څخه مراجعت	٣٧٦
دحنین دغنائمو تقسیم	٣٧٦
پرمؤلفة القلوبو باندی موهبت	٣٧٦
دحضرت ص پردغه فیاضی دلحینو خلقو تنقید	٣٧٧
دحضرت نبوی بلیغه وینا انصارو ته	٣٧٧
دانصارو دتأثر ژړا اوخوشالی	٣٧٨
دجنګی بندیانو عمومی خلاصی	٣٧٩
دهجرة دانم کمال متفرقه واقعات	٣٧٩
دحضرت ابراهیم رض بن محمد ص تولد اووفات	٣٧٩
دحضرت بی‌بی - زینب رض وفات	٣٧٩
دکسوف لمونځ او خطبه	٣٧٩

ټوکی ټکالی

پرخسر کوی ناری

غلام محمد (تره کی)

د عاشق دزړه لمبی — پرخسر کوی ناري

د خسر مې کم صمت — زوی ته کاندی نصیحت
چه زوم مو ملامت دی — که کورته راغی نردا سربی کشوی

د عاشق دزړه لمبی — پرخسر کوی ناری؟

عاشق حقی حیران ه — ولور غواړی خسر نادان دی
د عاشق اور پرسر بل ده — په خوڅی وهی ناری

د عاشق دزړه — لمبی پرخسر کوی ناری

دعاشق حال که دچاوای — لیونی به له دنیا وای
او مخ پر بیدیاوای
خپل حال وتاته وائی — ترحم به پر کوی

د عاشق دزړه لمبی — پر خسر کوی ناری

د عاشق لا بل بیغور — چه له خسره ئی زړه تور
وزی گرزی لوڅ سر تور — زړه ئی سوی ده په اور
خبر لا هم نعدی په کور — ژوندون کړی خسر ئی پر زور
یو مرحمت وکړی — چه پوښتنه بی کوی

دعاشق دزړه لمبی — پر خسر کوی ناری؟

دعاشق پژ خنجگر دی حوابښی خسر ئی مرور دی
پر ژوندون دده ختر دی ماشقه چه دده نوی نوله مړو بی ء شمیری
دعاشق دزړه لمبی — پر خسر کوی ناری

عاشق زه یم ویل کړم خسر ترکانی لاندی کړم
لاس می دی دباندی که تر لاس می درخکوی
دعاشق دزړه لمبی — پر خسر کوی ناری ؟

خسره چپانه دی ازده وجب دی خوار وه
زه دی وسوم انصاف کړه

ماشقه را ښکار وه خکر می تر خانه
خسره اور پسې کوه ماشقه ئې تو دوه
دماشقو خبری کړه اختیار دعاشق ستا دی
په محشر بئی منې
دعاشق دزړه لمبی — پرخسر کوی ناری

دعاشق احوال هم دا دی لکه پورته چه ئی بیان دی
چه ستا خاطر نشان دی

ماشقی ته سه خبره دا رواج په قبولوي
دعاشق دزړه لمبی — پرخسر کوی ناری

دعاشق ئی څه چاره مدام گرزی کناره
نه ئی کیږی گذاره پټ پټ ژاړی وی حفه دولور کانی یه وړی
دعاشق دزړه لمبی — پر خسر کوی ناری

دعاشق رنگ می خزان خدای دی ندا کوی حال
بس نور گریان دی مکړه په خپل زړه کښ بی ساتی
دعاشق دزړه لمبی — پر خسر کوی ناری

د پښتو چاپ شوی کتابونه

(۱) پښتانه شعراء لومړی ټوک، لیکونکی عبدالحی حبیبی او ملګری .
(۲) پښتانه شعراء دوهم ټوک لیکونکی صدیق الله رښتین او ملګری .
(۳) د پښتو سیند . لیکونکی محمد ګل مومند
(٤) دژبې لپاره « « «
(٥) په پټه د پټو پلټنې برهان الدین کشککی
(٦) پټه مینه « « «
(۷) لس زړه لغتونه « محمداعظم ایازی او ملګری
(۸) سپېڅلی پښتو « لعل محمد کاکړ او حبیبی
(۹) قواعد پښتو « محمداعظم ایازی
(۱۰) پښتو ژبه لومړی ټوک « مولوی صالح محمد
(۱۱) « دوهم « « « «
(۱۲) د پښتو کلی لومړی « « امین الله زمریالی، خادم
(۱۳) « « دوهم « « «
(۱٤) « « دریم « د تالیف خانګه
(۱٥) « « څلورم « عبدالرؤف بینوا «
(۱٦) « « پنځم « ګل پاچا الفت
(۱۷) د پښتو کلی شپږم « صدیق الله رشتین
(۱۸) د کوچنیانو اخلاقی پالنه مترجم قیام الدین خادم
(۱۹) نیکبختی لیکونکی ارسلان سلیمی
(۲۰) د پښتو لیاک ښو ونکی « محمد ګل نوری
(۲۱) د پښتو ښوونکی دوه جلد « محمدعثمان پښتون
(۲۲) خو د آموز پښتو - « د قندهار ادبی مجلس
(۲۳) پښتو متلونه لیکونکی زمریالی محمد قدیر تره کی
(۲٤) ملی هنداره دوم ټوک « محمد ګل نور «
(۲٥) د خوشحال خان کلیات مصحح او ناشر عبدالحی حبیبی
(۲٦) د عبدالقادر خان دیوان « « «
(۲۷) پښتو از نقطه نظر فقه اللغة لیکونکی یعقوب حسن
(۲۸) په ځان باور مترجم ارسلان سلیمی
(۲۹) د پښتو اصلاحات او محاوری لیکونکی محمد ګل نوری
(۳۰) لوی احمدشاه بابا مصحح او ناشر عبدالحی حبیبی
(۳۱) ملی سندری لیکونکی محمد ګل نوری
(۳۲) نوی ژوندون « قیام الدین خادم
(۳۳) پښتنې مېرمنې « عبدالرؤف بینوا
(۳٤) پټه خزانه د عبدالحی حبیبی ترجمه او تعلیق او خپرونه
(۳٥) بله د پوه لیکونکی ګل پاچا الفت
(۳٦) لغوی څېړنه « « «
(۳۷) د پسرلی نغمه « « «
(۳۸) ملی پسرلی « عبدالحی حبیبی
(۳۹) د مېنې مینه د رادیو د نشریاتو له خوا
(٤۰) دوه سره مین ورونه محمد رفیق قانع
(٤۱) د پښتو کلی لومړی لارښوونکی لیکونکی صدیق الله رښتین
(٤۲) دغنمو وږی (منظره) عبدالرؤف بینوا
(٤۳) د پښتو ادبیاتو تاریخ تر اسلام دمخه اول ټوک عبدالحی حبیبی
(٤٤) پښتو سندری - ټولوونکی «الفت»
(٤٥) د پښتو د ادب تاریخ - مؤلف «رښتین»
(٤٦) د پیر محمد کاکړ دیوان - مدون او مقابله کوونکی ، بینوا
(٤۷) د میرویس نیکه تاریخ عبدالرؤف «بینوا»
(٤۸) د دار مستتر پښتو څېړنې پښتو کوونکی عبدالحی «حبیبی» او «بینوا»
(٤۹) د ژوندانه لاری « ښاغلی «سیفی» ترجمه
(٥۰) خان جهان لودی « « «

دکانلیه عمومی مطبعی کشتی چاپ شو